# د ښاغلي زماني

# او

# ښاغلي سيستاني

# دليکنو په هکله

Ketabton.com

پوهاند محمد حسن کاکړ

۲۰۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مطالبو فهرست

- سریزه

لومړۍ برخه:

- د ښاغلي زماني د لیکني په هکله

- دښاغلي زماني یوه بله ذهني حیرانوونکې وینا

– له برتانویانو سره اړیکي

- د پاچا امان الله ځیني مهمي تېروتني

– د پاچا امان الله وروستنۍ لویه جرګه

- د پاچا ضد تبلیغونه او بغاوتونه

– د شنوارو یاغي توب

- حبیب الله په نا ارام کوهدامن او سید حسین په ناکرار کوهستان کي

- په کابل باندي د حبیب الله برید

- د کابل ښار استحکامات او د پاچا ناڅاپي استعفی

- پاچا امان الله او د هغه لس کلنه واکمني

- د اماني دورې له تاریخ سره بې کچي مینه او تنده

دوهمه برخه:

- د ښاغلي سیستاني د لیکنو په هکله

- یادښتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سریزه

دغه لیکنه د ښاغلي عبدالرحمن زماني د هغو لنډو لیکنو په څواب کي لیکل شوې چي ده زما په یوه پخواني چاپ شوي کتابګوټي- د پاچا امان الله واکمنۍ ته یوه نوې کتنه- په اړه کړې. په دغه مقصد چي په خپل فکر وښیي چي هغه په زیاته اندازه په کابل کې د برتانوي هند سفارت سکرتر، شیخ محبوب علي، د لیکنې، د برتانویانو د استخباراتو پر بنسټ تهیه شوې وه، د دې لپاره چې د پاچا امان الله د ناکامۍ نسبت افغانانو ته وکړي، نه برتانویانو ته. په دغه لړ کې دی دا هم وایي چې دغه لیکنه، یاني"د امان الله سقوط"، د منشي علي احمد نه ده، او دی نه دا چې د پاچا امان الله منشي نه وو، د کره مالوماتو خاوند هم نه وو.

ما په دې اړه ټول هغه خپاره شوي اثار- دا ځل په ډېر ځیر سره- ولوستل چي د پاچا امان الله په اړه د هغه وخت لیکوالو کړي وه. یو مدرس استاد چي د لکچرونو په ورکولو، او د محصلانو په انتقادي پوښتنو سره نویو ټکو، مفکورو او بصیرتونو ته متوجه کیږي؛ زه هم د پورته انتقادونو او د پورته اثارو په دقیقي مطالعې سره نویو فکرونو او نویو بصیرتونو ته متوجه شوم، او یو ځل بیا په دغه فکر شوم چي دقیقه او انتقادي مطالعه که ډېر زحمت لري، ښه ثمره هم لري، چې هغه نویو بصیرتونو او فکرونو ته لار موندل دي. په هر حال زه په خپلې دغې مطالعې سره د پاچا امان الله د واکمنۍ په اړه دغسي نویو ټکو ته متوجه شوئ یم، چې هغه سربېره پر دې چي د پاچا امان الله په اړه زما د کتابګوټي په تائید ده، نوي ټکي او بصیرتونه هم لري، چي د مخه څوک ورته متوجه نه وو. دغه ټول ما په متن کې په اوږده ډول بیان کړي، دلته یې یوازې لنډیز وړاندې کوم، هغه هم د غټو ټکو.

- ارواښاد منشي علي احمد د امان الله د سقوط پاڼو یا لیکنې محرر دئ، نه محبوب علي. د منشي علي احمد د وراره، محترم مهدي شالیزي، چي پخوا د حربي پوهنتون استاد وو، او اوس په سویس کي اوسیږي، په وینا چي وایي، منشي علي احمد دهغه تره د پاچا په ټوله واکمنۍ کي د هغه منشي وو. دی وایي چي دغه تره یې یو دیني عالم، د ادب او شعر علاقمن وو او "د غزني تاریخ" په نامه یې یوه لاسي لیکنه هم لرله، چي د هغې ذکر د ارواښاد فرهنګ په اثر کي هم شوئ په نامه د " افغانستان در پنج قرن اخیر". هغه وخت چي پاچا امان الله د کندهار نه د کابل بیرته نیولو په نیت غزني ته ورسید، منشي علي احمد هم ورسره وو. په دغه وخت کې په کابل کي د برتانوي هند سفارت تړل شوئ، او محبوب علي هم له افغانستان څخه وتلئ و، نو د هغه د پاره ناممکنه وه چي د پاچا امان الله د سقوط په نامه لیکنه وکړي، چي په هغې کې غزني ته د پاچا دغه سفر په تفصیل او دقیق ډول بیان شوئ دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ما په دغه موجود کتابګوتي کې هم تثبیت کړي چې د پاچا امان الله د واکمنۍ نسکورېدنه د برتانویانو د توطیو او دسیسو نتیجه نه ده. نور خو لا څه چې پخپله امان الله هم برتانویان په دغه هکله تبرئه کړي، او دایې ویلي چې، ملایانو یې مخالفت کړئ، بې له دې چې چا پیسې ورکړي وي. خو دا یوه قوي افسانه ده چې پاچا د برتانویانو د توطیو ښکار شوئ دئ. اوس د دې وخت دئ چې یو څوک دغه افسانه له تاریخي واقعیتونو څخه بېله کړي. ما په دغه کتابګوتي کي دغه موضوع اوږده څېړلې، لکه چې په ها بل کې مې په لنډ ډول بیان کړې. له دې نه مې مطلب دا دئ چې دغه تاریخي واقعیت باید لوستونکو ته بیان شي، او دوي دې ته هم ملتفت کړل شي چې کله ولسي خلګ وپارېږي، ډینامیزم او قوت یې تر هر بل ډینامزم نه پیاوړئ کیږي. د حیرانۍ وړ او نه فکر کېدونکې پیښې رامینځ ته کیږي، او حتی د تاریخ بهیر اړول کیږي. د پاچا امان الله په وخت کې همدغسي وشول.

- د پاچا امان الله د ستونزو منبع د هغه د اصلاحاتو پاروونکې برخې، د هغه خپل شخصیت، د هغه زورواکي، اتوکراسي او د دوهمې دورې اصلاحات او په خاص ډول د کابل د نارینه او ښځو مجبورول وو، چې اروپایي ژوند طرز غوره کړي، او خپل ژوند طرز بدل کړي، هغه هم سمدلاسه او په حکومتي امر. په نتیجه کې وګړي تربنه بېګانه، مذهبي مشران ورسره مخالف، او خپل چارواکي یې ورسره بېعلاقې شول. دی یوازې پاتې شو. په دغه حال کې ده حتی په خپلو نږدې چارواکو هم اعتماد کولی نه شو، او په بحراني حال کې د خپل ژوند په وېره کې شو. ده بیا د خپل پوځ د یوې وړې مخکښې برخې په ډراماتیکي ماتې سره له پاچایي څخه لاس واخیست، که څه هم د کابل د ښار دفاعي ترتیبات ټینګ، پوځ او حکومت پر ځای وو. دغه وخت و چې یو نالوستي کلیوال، خو زړه ور حبیب الله داړه مار ته د کابل د تخت نیولو موقع په لاس ورغله، چې په ډېر غټ پوځ سره یې هم تر لاسه کولی نه شوه.

دغه لیکنه د پاچا امان الله د واکمنۍ د ټولو پېښو بیان ته ځانګړې شوې نه ده. یوازې هغه عوامل پکې بیان شوي چې پاچا امان الله په خپلو فعالیتونو او بېسارو اصلاحي پروګرامونو سره، د خپل نیکه، امیر عبدالرحمن، په لاس جوړ شوئ ټینګ نظام له لاسه ورکړ، او د هغه په دغې ناکامي سره په افغانستان کې د کورني جنګ یو نوئ فصل پرانیستل شو. د دغې لیکنې وړه برخه د ښاغلي سیستاني د هغو نا سمو لیکنو په اړه ده چې ده یو وخت، بل وخت د معاصر افغانستان په اړه کړي او د زماني د لیکنو تر اغېزي لاندي یې د خپل چنګیزي ډول ذهن نه حکم صادر کړئ چې وطنوال دي د پاچا امان الله په اړه زما کتابګوتئ ونه لولي. د دغو دواړو غرضناکو او ناسمو لیکنو، چې له هغو نه یې یوه ننداره جوړه کړې وه، زه مجبور کړم چې دغه لیکنه وړاندې کړم، چې په هغې کې مې اصلي او اړوندي موضوع ګاني د افغانستان د تاریخ په رڼا کې طرح او بیان کړې، او له دې نه مې ډډه کړې چې هغې ته شخصي بڼه ورکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پاچا امان الله دوره تر اوسه هم تاريخي او سره شوې نه ده. اوس هم د هغې په اړه د عامه ذهنيت او تاريخي واقعيتونو تر مينځ واټن پراخ دئ. ما په دغې لنډې ليکنې کې کوښښ کړئ چې تاريخي واقعيتونه له پارتيزاني او د ناسم ذهنيت له سلطې نه وژغورم، او هغه يوازې د هغه وخت د اثارو پر بنسټ وکاږم، او د معمول په شان، شخصي احساسات پکې دخيل نه کړم. د اثارو ذکر مې ځای پر ځای کړئ، خو د هغو اول ځل ذکر مې په تفصيل سره په ليست کې او د هغو تکرار مې د ننه په متن کې په لنډ ډول ذکر کړئ.

ما دغه کتابګوتئ هم، د ها بل په شان، تاريخ علاقه منو او پوهنتوني محصلانو په نظر کې نيولو سره کښلئ، او هيله کوم چي لوستل به يې ورته ګټور وي.

د محترم نسيم سليمي ورور نه مننه کوم چي زما دغه ليکنه يې، له ډېرو مصروفيتونو سره سره ټايپ کړې. ده لا د مخه يې زما يو بل اثر ' د افغانستان سياسي او ډپلوماتيک تاريخ' له انګريزي نه پښتو کړئ. دغه اثر به زر د علامه رشاد د خپرندويه ټولني له خوا خپور شي.

محمد حسن کاکړ

اکتوبر، ۲۰۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهاند محمد حسن کاکړ

د ښاغلي زماني او ښاغلي سيستاني د ليکنو په هکله

# لومړۍ برخه

## دښاغلي زماني د ليکنې په هکله

ښاغلي عبدالرحمن زماني، زما د يوه کتابګوټي په اړه، "د پاچا امان الله خان واکمنۍ ته يوه کتنه"، يوه ليکنه کړې او هغه يې په افغان-جرمن ويب سايټ کې هم په پښتو او هم په فارسي کې په شپږو برخو کي خپره کړې او ورته يې د اعلان شکل ورکړئ دئ. د ده مقصد دادئ چي وښيي زما دغه کتابګوټئ د يوه انګليسي ايجنټ په استخباراتي راپور بنا دئ، نه دا چي هغه د منشي علي احمد وي، چي د پاچا امان الله منشي و، او ليکنه يې د امان الله د سقوط په نامه کړې ده. په دې ډول ښاغلي زماني هغه د " غازي امان الله خان پر وړاندې د انګريزي تخريباتو سرچينه" ښيي. دی دا هم وايي چي " مهمترين ماخذ کتاب داکټر صاحب کاکړ بوده...". په پښتو متن کي هغه "... تر ټولو لوی او معتبر ماخذ" ښيي. مانا دا چي له دغې منبع نه په پراخې اندازې استفادې سره زما دغه کتابګوټئ د برتانوي هند د حکومت د نظريو انعکاس دئ.

اول خو د ده دغه وينا د واقعيت تحريف دئ. زما د کتابګوټي له ۱۴۲ ماخذونو نه ۳۳ يې د تاريخپوه ميرغلام محمد غبار، ۲۹ يې د لودويک ادمک، ۲۱ يې د حاکميت قانون په نامه د پاچا امان الله، ۲۱ يې د منشي علي احمد او ۱۴ يې د تاريخپوه فيض محمد او نور يې د نورو دي. په دې ډول د ښاغلي زماني د وينا پر خلاف "دامان الله سقوط" په نامه ليکنه زما د کتابګوټي " تر ټولو لوی او معتبر ماخذ" يا " مهمترين ماخذ" نه دئ. مهمه دا ده چې "د امان الله سقوط" په نامه ليکنه، د زماني د وينا پر خلاف، د برتانوي ايجنټ يا د هغو استخباراتي راپور نه دئ. اول دی دغه ليکونکئ هم ايجنت (Agent) او هم د برتانوي سفارت سکرټر ښيي، په نامه د شيخ محبوب علي. په داسي حال کي چي سکرتر او ايجنټ په بېلو دورو کي د برتانوي هند لپاره کار کاوه. د ايجنټ په نامه هندي مسلمان له ۱۸۸۰ نه د پاچا امان الله تر واکمنۍ پوري يوازې د خبرلوځي په ظرفيت کار کاوه، او سکرتر يا منشي له هغه وخت نه چي برتانوي هند په افغانستان کي سفارت پرانيسته، په سفارت کي ماموريت درلود. دا هم بايد وويل شي چي د دوی ځينو له افغانستان او په خاص ډول له واکمنې کورنۍ سره خواخوږي لرله. د امير عبدالرحمن په وخت کي دغه ايجنټان په دې هم مؤظف وو چي هغه ته هم راپورونه تهيه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي. د دوی اول ایجنټ قاضي عبدالقادر یوسفزی و، چي د مخه د امیر شیرعلي لوی مشاور و، او د هغه په اصلاحاتو کي یې فعاله او مهمه برخه لرلې ده. برتانویان مجبوره وو چي هغه چې د دقیقو مالوماتو خاوند او د دوی مخالف هم و، استخدام کړي. دوی دافغان - انګلیس له دوهم جنګ نه وروسته د افغانانو د سخت مخالفت له امله بل څوک هلته استولی نه شو. حتی دغه شیخ محبوب علي، چي د سکرتر په نوم، په کابل کي د برتانوي هند په سفارت کي کار کاوه، د پاچا امان الله د کورنۍ سره خواخوږي لرله.

د ده دغه احساس هغه وخت ښکاره شو چي د پاچا امان الله ځایناستي، معین السلطنه، له درې ورځو پاچایي نه وروسته له ارګ نه په انګلیسي الوتکه کې پېښور ته ته. " د غازي امان الله زوال" نومي کتاب لیکوال، عزیز هندي، د دغې ورځي خپل مشاهدات په دغه ډول ثبت کړي: "کله چي د ارګ د مخې دروازې څخه معین السلطنه قدم د باندي کېښېښود، نو د ډېره غمه بې هوښه شو، او بیرته راستون شو، او دروازه یې په غېږ کي و نیوله او ډېر یې وژړله او کله چي د الوتکو ډګر ته ورسېد سترګي یې هماغسي له اوښکو ډکي وې. دلته د برتانیې د سفارت غړي په ډېرغم لړلي حالت ولاړ وو او له شکه پرته دا ډېره غم لړلې منظره وه. ... د برتانیا د سفارت هندوستانی سکرټر، شیخ محمد علي اکهي، حالت خو داسي وو چي په ډېره ژړا یې ستونۍ بند شو. ... کله چي په اتفاقي توګه ما له هغه سره وکتل، نو له هغه څخه مې د دومره ویرجنتوب پوښتنه وکړه. نو هغه ماته وویل چي: او ته نه پوهېږې چي اماني کورنۍ پای ته ورسېده او د هغه تر څنګه د صوبه سرحد د مسلمانانو هیلې هم له مینځ څخه ولاړې. که د اماني دورې اغېزه په بل ځای کي وه، که نه وه، د هغه موجودیت لږ تر لږه د صوبه سرحد د خلکو د بیدارولو لپاره ډېر ګټور و. موږ دا هیله کولای شوه چي موږ به د هندوستان د نورو صوبو څخه زر ازاد شو."(۱) لیکوال عزیز هندي په خټه پښتون او د هند اوسېدونکئ و. دئ له خپلي کورنۍ سره د پاچا امان الله د واکمنۍ په ټوله موده کي په کابل کې اوسېده؛ په قطعه نمونه کي کفتان او د پاچا ټېنګ پلوی، خو د واقع لیدونکي انسان او د افغانستان د وخت له اوضاع نه ښه خبر و. دی د امیر حبیب الله کلکاني په وخت کي د لنډې مودې لپاره بندي و. داسې ښکاري چي محبوب علي په اصل کي د بنګښ، یا ورکزي، یا کرمي له شعیه پښتنو څخه و. دیوه روایت له مخي، د ده یو زوي چي د ډېر عمر خاوند و، د افغان جهاد په وخت کي، په پېښور کې د ځینو اسلامي تنظیمونو د مشرانو سره ولیدل او چیرته نږدې یې په خپل مجلل کور کي مېلمانه کړل.

د امان الله د سقوط لیکونکئ د شواهدو او دلائلو پر بنسټ منشي علي احمد (شالیزی مومند) دئ، نه محبوب علي. د محترم داود ملکیار په روایت، هغه په خپلو خلکو، یاني د شالیز کلي په مومندو کې د "منشي صاحب" په نامه یادېده او ده پخپله په وړوکتوب کي هغه لیدلئ و. هغه وخت دی په دواړو سترګو ړوند و. په غزني کې د ملکیار او د منشي کورنۍ ډېري مشهوري دي. مومندان په پنځلسمې پېړۍ کي د کندهار د مرغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نومې سيمې څخه اول غزني ته ولېږدېدل او بيا په خپله اوسنۍ سېمه کې ، له کامې نه تر پېښور پورې ميشته شول او يو شمېر يې په غزني کې پاته شول.

دا چې ارواښاد علي احمد (شاليزى) د پاچا امان الله په ټوله دوره کې د هغه منشي و، محترم ارکان حرب، مهدي شاليزى په لاندې ډول تائيدوي. دى چې په افغانستان کې د حربي پوهنتون استاد و، د منشي علي احمد وراره دئ، او اوس په سويس کې ژوند کوي. دى دا هم وايي چې دوى څو وړونه وه چې يو يې ارواښاد عبدالستار شالېزى و، چې د لوړو زده کړو او عالي شخصيت خاوند او په مشروطه شاهي کې د کورنيو چارو وزير و. منشي علي احمد هم يو عادي شخص نه بلکه يو مهم او پوه شخص وو. دى د "غزني د تاريخ" په نامه يوه ليکنه هم لري، چې د صدراعظم محمد هاشم خان په وخت کې له چاپ نه پاتې او لادرکه شوه او ارواښاد مير محمد صديق فرهنګ، چې هغه يې له خپل ورور، ارواښاد رښتيا، نه تر لاسه کړې وه، د خپل اثر په ۴۰۲ مخ کې په دغه ډول ياده کړې: " تاريخ خصوصي غزنين، تاليف علي احمد بن فقير احمد ، ساکن شالېز غزنين، نسخه قلمي متعلق به س. ق. رشتيا ." شالېزى دا هم وايي چې تره يې د وخت له علماوو او اديبانو سره ناسته ولاړه درلودله او " دسترس کامل به مطالعه و بعضا اثار " شاعران کلاسيک " از قبيل رودکي، جلال الدين بلخي، حافظ شيرازي و سعدي و بيدل داشت." پر دې سربېره منشي علي احمد " در امور ديني و مذهبي وارد و بسياري را رهنمايي ميکرد." د ښاغلي مهدي شاليزي دغه ليکنه ماته د ښاغلي داود ملکيار په لاس رسېدلې او زه دلته له دواړو نه مننه کوم.

ښاغلئ شاليزى په دغې ليکنې کې په قطعي ډول حکم نه کوي چې "د امان الله د سقوط" په نامه ليکنه د هغه ده، خو له هغې نه واضحه ده چې منشي علي احمد هم د پاچا امان الله منشي او هم د دغې ليکنې ليکونکئ و. په دغه ډول: " ارواح شاد علي احمد خان با دانشي که حاصل نموده بود در آغاز کار به حيث مرزا در نزد مرحوم عبدالاحد خان برګيد همکاري (کرد) و برګد صاحب از جمله همکاران مهم و قريب مرحوم امير حبيب الله خان بود. مدتي بعد علي احمد خان بحيث ميرزای دفتر (منشي) با مرحوم عبدالکريم خان علومي، نائب الحکومه مزار شريف، شامل کار شد و آهسته آهسته شهرتي کسب نمود."

" بالاخره در عهد شاه امان الله مرحوم در دربار شاهي بحيث ميرزای دفتر شاه و هم باسم منشي که اصطلاح منشي به آمر دفتر و ميرزای دفتر (درانوقت) استعمال ميشد [ايفای وظيفه مينمود] و منشي علي احمد خان الی ختم پادشاهی با امان الله خان باقي ماند."

" در وقتيکه جنګ داخلي (سال سقاوي) که شاه امان الله خان مجبور به ترک وطن شد ، منشي صاحب به همرکابي شاه نيز از وطن يکجا خارج و در کويته رهسپار شدند. قراريکه ميګويند که منشي صاحب در

(c) ketabton.com: The Digital Library



موقعیکه شاه امان الله خان با اعضاي فاميل از کویته به ایتالیه عزیمت نمودند، به تحت نظارت انگلیس ها در قونسلگري شان باقیماند. در همین وقت کدام اثری بنام سقوط امان الله ... تحریر و تایپ شده در قونسلگری و بالاخره این اثر تایپ شده به ارشیف لندن سپرده شد."

لیکواله رییه ستیوارت هم په خپل کتاب کي په نامه د "اور په افغانستان کې" منشي علي احمد، بې له دې چي نوم یې واخلي، د پاچا شخصي منشي (Private secretary) یادوي او دا هغه وخت چي پاچا امان الله او منشي علي احمد په غزني کي، د هغه کلي یاني شالېز ته نژدې چیرته و.(۲)

ماپه خپل کتابګوتي کې منشي علي احمد د دقیقو مالوماتو خاوند ښوولئ و، په تېره د غزني په اړه. خو ښاغلئ زماني له خپل ذهن نه دغه حکم راباسي چې " د غزني مومند میرزا علي احمد خان نه خو د دربار منشي و او نه د دقیقو مالوماتو خاوند و." دی د دې پروا نه کوي چي د ده حکم، هغه هم دغسي غوڅ حکم، په واقعیت بنا دئ یا نه دئ. دی د دې هم پروا نه کوي چي په دغسي حکم سره د ده ټوله لیکنه بې اعتباره کیږي. خو دی غواړي په خپل فکر په خپل حکم سره ثابت کړي چي دغه لیکنه د انګلیسانو د سکرتر، محبوب علي، ده او هغه په اصل کي د پاچا امان الله پر ضد لیکل شوې ده. دی د دې هم پروا نه کوي چي هغه وخت د محبوب علي د پاره ممکنه نه وه چي دغه لیکنه وکړي، ځکه چي په هغه موده کي چي پاچا امان الله له کندهار نه د کابل په مقصد غزني ته رسېدلئ و، محبوب علي په کابل کې نه و. د برتانوي هند سفارت د فبروري په پنځه ویشتمه تړل شوئ او غړي یې هند ته تللي وو، او پاچا امان الله د مارچ په پنځه ویشتمه، یاني یوه میاشت وروسته له هغه له کندهار نه د کابل په لور روان شوئ و، او چي په غزني کې یې ځان د تخت بیرته ګټلو کې ناکام ولید، په شا سو او د مئ میاشتي په اخیره کي له خپل فامیل او ډیرو نورو سره په څو موټرونو کي، د منشي علي احمد په ګډون، کوټې ته لاړ. د امان الله د سقوط په اړه دغه پاڼې یا په ۱۹۲۹ یا په ۱۹۳۰ کي لیکل شوي، یاني هغه وخت چي منشي علي احمد هلته و، او محبوب علي هلته نه و. زماني دغه فکر نه کوي چي که دغه لیکنه د پاچا امان الله پر ضد د برتانویانو جعل وای، هغه به یې په هماغه وخت کي په انګریزي او فارسي کي خپره کړې او افغانان به یې پرې خبر کړي وای. حال دا چي هغه نورو څېړونکو په دغو نږدې کلونو کې د دهلي ملي ارشیف نه تر لاسه کړې. تاریخپوه لودویک ادمک د دغې لیکنې یادونه په خپل اثر کې کړې چې په ۱۹۷۴ کي خپور شوئ، نه په خپل لومړني اثر کي چي په ۱۹۲۷ کې خپور شوئ، په نامه د "افغانستان دپلوماتیکي تاریخ ۱۹۰۰-۱۹۲۳. دی هغه لیکنه د منشي په قلم د " سري او سیاسي یادښت" په نامه ښیي، چي برتانوي سکاټ هغه د 'د امان الله د سقوط' په نامه په انګریزي اړولې ده. (۳) د سکاټ له خوا د لیکني د سرلیک تبدیل د حیرانۍ وړ ښکاري، خو محتویات یې هغه دي، چي د هغه وخت د افغان لیکوالو په لیکنو کي بیان شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



برتانویانو چې د افغانستان د تاریخ په اړه جعل کړئ هغه یې په هغه خپل وخت کې په ډېر شمېر خپاره کړي دي. د دغو جعلیاتو ډېر مهم یې د تاج التواریخ دوهم جلد دئ، چې له هغه نه یې په خاص ډول د ډیورند کرښې په اړه په خپله ګټه ډېر کار اخیستئ دئ. په دې اړه به وروسته اوږد وږغېږم. بله دا چې سلیم عقل ته د منلو وړ نه ده چې برتانویان به خپلو چاروا کو ته یوه جعلي لیکنه تهیه کړي، او هغه په خپل ارشیف کې وساتي. مهمه داده چې د منشي علي احمد په لیکنه کې دغسي موضوع نسته چې په نورو اثارو کې نه وي بیان شوي. دا یوه داسې منسجمه او دقیقه لیکنه ده چې ښیي لیکونکئ یې عالم او د ډېرو مالوماتو خاوند و. په تېره د امان الله د دورې په هکله خو زماني دغه لیکنه د "انګلیس د استخباراتي راپور" او زما کتابګوتئ چې تر څه حده د هغې له مخې تهیه شوئ، "د انګرېزانو د فتنو نه ډک تبلیغات" ګڼي. د رښتین توب دغه دښمن ځان د ډاکټر په نوم هم یادوي، که څه هم 'د تحصیل' تصدیق لیک یې تر لیسانس پورته دئ، نه د ډاکټرې.

بله نوې موضوع دا ده چې ښاغلئ زماني زما له قول نه وایي: " د غازي امان الله خان په لاس پرته له محکمې د زرګونو انسانانو وژل کېدل.". دغه وینا زما نه ده او پاچا امان الله په زرګونو انسانان نه دي وژلي، هغه هم په خپل لاس. د هغه په دوره کې ډېر انسانان وژل شوي دي: اټکل څوارلس زره د خوست په جنګ کې، او تر هغو لږ د شینوارو، کوهدامن- کوهستان، د لوېدیځ کابل ښار او د غزني شاوخوا جنګونو کې. خو هغوی چې د پاچا په حکم بې له محاکمې نه اعدام شوي دي، په شمار او د ممتازو او نفوذ ناکو کسانو وو، چې د ده په سقوط کې یې نېغ یا نانېغ اثر لرلئ دئ. د هغو د ذکر نه د مخه به ووایم چې ما په خپل کتابګوتې کې ویلي چې د " پاچا په څه لږ لس کلنه دوره کې هیڅ افغان د سیاسي نظر څرګندولو له امله بندي شوئ نه دئ" او هغوی چې د ده په څرګند یا نا څرګند حکم اعدام شوي دي، په اصل کې د قدرت ګټلو، یا د قدرت ټینګولو په مقصد وو، چې په پای کې یې دی ناکام او د وطن نه په وتلو مجبور کړ.

د دغو ممتازو قربانیانو نه لومړی د پاچا امان الله پلار و، چې قاتل یې په غالب احتمال شجاع الدوله غوربندي و، او هغه په ویاړ سره خپلو دوستانو ته ویل چې ده امیر حبیب الله د خپل تره، جوهر شاه غوربندي، په انتقام وواژه، چې هغه د امیر په حکم اعدام شوئ و. شجاع الدوله د پاچا امان الله په وختو کې په لوړو رسمي مقاماتو کې کارکاوه. د ممتازو قربانیانو نه بل کس سردار نصرالله، د پاچا امان الله تره، و، چې خپل ورور امیر حبیب الله ته یې په شفاعت کولو سره امان الله او مور یې د مرګ له خطر نه ژغورلي وو. دی که څه هم د خپل ورور د وژل کېدو نه وروسته، په جلال اباد کې د هغه پر ځای امیر غوره شوئ و زر له امارت نه یې د امان الله په ګټه لاس واخیست، چې هغه په کابل کې امیر غوره شوئ و. نصرالله بیا په ډاډه زړه د کابل په لور روان شو. په دغه فکر چې ژوند به یې هلته خوندي وي، او له خپل وراره امیر سره، چې د مرګ نه یې ژغورلئ و، په کارونو کې همکاري وکړي. خو دی چې بتخاک ته ورسېد، د امیر امان الله په امر، چې هلته رسېدلئ و، بندي شو. ملا فیض

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد، چي د امیر عبدالرحمن د کورنۍ مخلص و، د مشرقي لویانو او قومي مشرانو له قول نه وایي چي "... پس از یک سال در شب جمعه، اول رمضان به بدترین احوالي، او را در محبس به خبه کردن (همغسېي و) هلاک فرمود و بعد ازان به امور خلاف شعایر اسلامي پرداخته، تغیر روز جمعه و بې ستري مستورات و بعضي قوانین بر خلاف شرع نمود." (۴). د دغه اثر مترجم ډاکټر رابرټ میک چیزني، دغه وینا په دغه ډول راوړي ده: د نصر الله د بندي کېدلو نه "څه کم یو کال وروسته، د ۱۹۲۰ کال د مې په ۹مه امان الله له یوې سختي نیشې نه وروسته د هغه د وژلو حکم صادر کړ، او بیا یې دغسې سیاستونه غوره کړل چي د مسلمانانو د عنعنو پر خلاف وو." (۵) تر ده هم ثقه روایت د پاچا امان الله د موجودي کورنۍ یوه غړي (چي ماته یې د نوم د نه ښودلو په شرط کړئ) او هغه دا چي سردار نصرالله د پاچا امان الله په امر مسموم شوئ، او له مینځ نه وړل شوئ دئ. سردار نصرالله یو ټینګ مذهبي شخص و؛ ټول قرآن شریف یې په یاد کړئ، او په خاص ډول د هیواد ختیځو علماوو او لویانو کي یې نفوذ لاره، د ګوډ ملا عبدالله د یاغیتوب یو لامل همدا و. د ننه په کابل ښار کي خو یې دغسي پلویان لرل، چې هغو غوښتل پاچا امان الله د هغه په انتقام کې د پغمان په لار کي ترور کړي، خو هغوی په خپل دغه پروګرام کي ناکام او ونیول شول. د پاچا امان الله د واکمنۍ په پیل کې د هغه په حکم د میرزا محمد حسین له مینځ نه وړل و. ده د امیر عبدالرحمن له وخت نه په لوړو مقامونو کې کار کړئ، د مستوفی الممالک په نامه د غټ نوم خاوند او د امیر د حکومت په ټینګښت کي یې نوم ایستلئ و. دي امیر حبیب الله ته هم ډېر مقرب و، او هغه ته یې خبر ورکړ چي امان الله او مور یې د هغه پر ضد نقشه لري. خو ده یوازې د حکومت په چارواکو کې نفوذ لاره. پاچا امان الله په قلعه مراد بېګ کې دهغه ټول جایداد، چي د یوه لوړ چارواکې د پاره بیخي ډیر و، ضبط کړ او هغه یې محمد ولي ته و باخښه.

بله وژنه چي په شمېر کې ډېره وه، د ۱۹۲۵ کال په مې کې د خوست له یاغیتوب نه وروسته د پکتیا والو وه. پاچا "د درې پنځوس بندیانو د وژلو امر وکړ."، ټول بندیان شاوخوا زر ښځې، کوچنیان، او څو سوه ځوانان او قومي مشران وو. (۶) د سوداګرۍ وزیر عبدالهادي داوي پاچا ته عرض وکړ چې "بهتر است این محکومان به اعدام محکمه شده و بحکم قاضي کشته شوند. پادشاه با کمال خشونت و غرور گفت: مگر نمیداني که من نواسه عبدالرحمن ام." (۷) دا په جنبش مشروطیت کي د ارواښاد عبدالحی حبیبي روایت دئ. دغې تراجیدي دواړو خواوو ته ډېر مالي او ځاني تلفات واړول. د فدایي ځوانانو په نامه یو اته سوه کسیزه کنډک ټول تلف شو. پکتیاوال د حکومت او پاچا نه دغومره ناراضي شوي وو چي، د هغو ایله جاري وروسته د کابل په جنګو کي د پاچا ملاتړ کي ډېره ناغیرې وکړه، او میر غوث الدین د احمدزیو د ایله جاریو مشر لا په حکومتي قواو ډزې وکړې، او میدان یې ګرد سره پرېښود، او یاغي شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچا امان الله د باندي شپږ میاشتي سفر نه د مخه کندهار ته لاړ او هلته یې یو نامالوم شمېر لویان د امنیت د ګډوډولو په تور په اعدام محکوم کړل. د دوی شمېر به ډېر وو، چي پاچا وروسته وویل چې "زه کندهار ته لکه چي د کار د پاره نه بلکه د قصابۍ د پاره راغلئ یم." د پاچا د اعدام نور قربانیان یو څو تنه قاضیان وو چي نه یې غوښتل د ښځو د مخ لوڅۍ په اړه فتوا ورکړي، چي پاچا ترېنه غوښتې وه. د دوی مشر پخوانی ستر قاضي، عبدالرحمن پغمانی و. دوي پکتیا ته د خلګو د پارولو او یاغي کولو د پاره لاړل، خو په دې کې ناکام او حکومت ته پخپله خوښه تسلیم شول، نه دا چي هند ته لاړ شي او د برتانوي هند له حکومت نه په دې برخه کي مرسته وغواړي. پاچا په کابل کې دوی د حرب وزارت د حرب دیوان ته د محاکمې لپاره وسپارل. د دیوان غړي د حربیې د وزیر په ګډون لوړ رتبه نظامي افسران وو. وزیر او یوه کنډک مشر د هغو اعدام غوښته، خو له یوې میاشتې محاکمې نه وروسته دوي په اعدام محکوم شول. له محمد صادق مجددي او د هغه له وراره معصوم مجددي نه پرته، چي هغوی بندي شول، په اعدام محکوم قاضیان په یوه روایت نهه تنه وو، چي په سیاه سنګ کي برالا اعدام شول. د قاضیانو محکمه په دیوان حرب کې د نظامي افسرانو یاني د اجرائي څانګې له خوا وه، نه د قضائیه د قاضیانو له خوا. په معاصر افغانستان کې دا لومړی ځل و، چې یوه ډله قاضیان اعدام شول. چي هغه د "شینوارو او کوهدامن د داړه مارانو د بغاوت لپاره لومړی ګام شو." او له امله یې یو څو تنو لوړ رتبه چارواکو سمدلاسه استعفی وکړه.

د حبیب الله کلکاني په اړه د پا چا امان الله سملاسي او بې له سوچه د اعدام حکم ډېر اثرناک ثابت سو، چي پایله یې د هغه او د کورنۍ د واکمنۍ ختم شو. دغه پېښه یو څه تفصیل غواړي چې په جبل الرسراج کي د تنظیمې رئیس، علي احمد لودي، د پاچا په هدایت له حبیب الله او سید حسین چاریکاري سره پوهاوي ته ورسېد. هغوي د ډېرو امتیازونو په بدل کې ومنله، چې له نا ارامي جوړولو څخه لاس واخلي، او د امنیت په خوندي کولو کي به له حکومت سره مرسته وکړي. دوی د کابل په لور رهي شول چې د کابل د حکومت په خدمت شروع وکړي، خو څنګه چې پاچا د مخه ګوډ ملا اعدام کړئ و، که څه هم هغه ته د مامونیت وعده ورکول شوې وه، حبیب الله په دې فکر شو چې نه چې د ده برخلیک به هماغسي شي، نو په سرای خواجه کې چیرته چي کابله ته د ورتګ په نیت رسېدلئ و، په تلیفون کي د علي احمد په نامه وړغېد، چې د ځان په اړه د پاچا په نیت ځان پوه کړي. نور نو د فیض محمد په ژبه چې د حبیب الله د خولې نقل کوي" اکنون که با پسر سقا عهد کرده او را به دست اورده ام، چي معامله کنم[؟] و امیر امان الله خان امر سر زدن و هلاک او نمود. او که خود را علي احمد خان اظهار کرده بود، عرض کرد که در صورت عهد و پیماني کي در میان نهاده شده است، چگونه در اعدام او اقدام ورزیده شود: و امیر امان الله خان اینرا شنیده فرمود، که: با تو عهد کرده، نه با من. زنده اش مگذار و چون پسر سقا اسرار دروني امیر امان الله خان را نسبت به خود کشف کرد، به همان تلیفون که سرگرم مکالمه بود، اظهار

(c) ketabton.com: The Digital Library



راستي كرده و خود را پسر سقا گفته، مخاطبانه لب به دشنام زن و زوجه امير امان الله خان ... كشوده از وصول و حمله خود در كابل بيم داده، گفت: در وقت حاضر امدنم خواهي ديد، انچه ديد. و امير امان الله خان از اين گفتار او كه از روى معاهده وعده اي جانبداري محمد ولي خان وكيل و غيره وزراى خاص و بزرگان كابل كه با اطمنان خاطر بر لب اظهار آورد، و همه ازماجراى خيانت وزراى خود بي خبر بود، از خشم متغير گرديد، تليفون را به غيظ بر روى ميز زده هيچ نگفت."(١٧)

ليكوال عزيز هندي هم دغه موضوع لږ و ډېر په همدغه ډول بيانوي او وايي چې د ګوډ ملا د اعدام په نظر كي نيولو سره، حبيب الله غوښتل چې د ځان په هكله د پاچا نظر په كوم چل ځانته معلوم كړي. نو يې كابل ته د تګ په لار په سراى خوجه كې " ... د پاچا حضور ته يې تليفون وكړ، او كله چې پاچا پوښتنه وكړه، چې ځوك خبري كوي د سقاو زوى ځواب وركړ، د شمالي د تنظيمېي رئيس احمد علي خان، او هغه بيا پاچا ته وويل چې دغه وخت د سقاو زوى د ده په كنټرول كې دئ، او په مخامخ كوټه كې د پيره دارانو تر مينځ ناست دئ، او پاچا چې د هغه سره هر سلوک وكړي، امر وكړي. په دې خبره غازي امان الله خان له جوشه په ډک غږ ځواب وكړ [وركړ] چې دا سپى سمدلاسه د مرګ غېږې ته وسپاره، او د هغه سر پرېكړه، او كابل ته يې راولېږه [راواستوه]. د سقاو زوى په دې خبره سره ځان خرګند كړ او پاچا ته د بد او رد په ويلو سره يې تليفون پرېښود."(٩)

مؤلفه ريېه ستيورټ، ابراهيم عطايي، سيد رسول رسا، او غلام محي الدين انيس هم په خپلو اثارو كې دغه پېښه ياده كړې، خو په لنډ ډول. منشي علي احمد، چې زماني د هغه پانې د انګليس د استخباراتو راپور ګڼې، دغه موضوع ياده كړې نه ده. په هر حال دغه پېښه د ۱۹۲۸ كال د ډسمبر ۱۲ شاوخوا كې شوې او سملاسي اثر يې دا شو چې سيد حسين جبل سراج كلابند او بيا تصرف كړي، او حبيب الله په كابل يرغل وكړي، او پاچا يوه مياشت وروسته، د ۱۹۲۹ كال د جنورى په ۱۴ له پاچايي نه لاس واخلي. وروسته به دغه پېښې بيان شي. د پاچا امان الله پلار، امير حبيب الله، او نيكه، امير عبدالرحمن، زورواكي يا مطلق العناني كوله، او ډېر افغانان يې په حكم اعدام شوي دي، خو د هغوى قدرت په قانون محدود نه وو. عجبه داده چې پاچا امان الله چې په وخت كې يې د تركي او افغان متخصصانو په همكاري افغانستان د لومړي ځل لپاره د ليكل شويو قانونو او مقررو خاوند شو، سره له دې هم د خپل پلار او نيكه په شان زورواكي كوله. د ده په وخت كې ليكل شوئ اساسي قانون هم ايستل شوئ و، خو په هغه كي د ده بې حد ه قدرت محدود شوئ نه و، كه څه هم دا د مشروطه غوښتونكو اساسي غوښتنه وه، چې پاچايي قدرت دې محدود شي. نو زما دغه وينا پر ځاى ده، چې په يوې غونډې كې مې اورولې وه، چې هغومره ډېر افغانان چې د امير عبدالرحمن، امير حبيب الله او پاچا په حكم اعدام شوي دي، تر دوى د مخه د معاصر افغانستان د ټولو پاچايانو او اميرانو په حكم اعدام شوي نه دي. په لنډ ډول دوى ټولو په ځان متكي، منظم، دايمي پوځ، او نور وسايل، د پيسو په ګډون، نه لرل چې دغسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



زورواکي وکولی شي. دا امیر عبدالرحمن او امیر شیرعلي وو، چې په افغانستان کې یې د لومړي ځل لپاره منظم پوځ تنظیم کړ، او امیر عبدالرحمن بیا د مالیاتو په زیاتولو، او په مجموع کې د حکومت د عوایدو په زیاتولو سره د دایمي منظم پوځ ثبات او پایښت یقیني کړ، تر اوسه په اساس کې په هماغه ډول پاتې دئ. تر امیر عبدالرحمن د مخه د حکومت عواید، چې لوی قلم یې د مځکو مالیات وه، دغومره کم وو، چې واکمنو نه شو کولی دایمي پوځ ولري. هغوی په زیاته اندازه قومي مشرانو ته محتاج وو چې د ضرورت په وخت کې ایله جاري تهیه کړي. هغه وخت په قومونو باندي د جم بست په نامه ټاکلې او کمه مالیه حواله کېدله، چې هغه هم د قومي مشرانو د لاري حکومت ته رسېدله. امیر عبدالرحمن له درانیانو نه پرته د ټولو قومونو، او په واقع کې د ټول هیواد په ښېرازو مځکو باندي د سه کوټ په نامه مالیه، چې د حاصل دریمه برخه کېدله، حواله کړه، چې هغه ډېر عواید کېدل. په وړاندي یې په ټول ملک کې ډېر پاڅونونه وشول، خو حکومت په پوځي زور او داسي هم په قومي ایله جاري سره هغه ټول وځپل او حکومت وکولی شول چې ټول هیواد په نیغ ډول د خپلو چارواکو له لارې اداره کړي. تر ده د مخه افغانستان د دفترونو لپاره حکومتي ودانۍ او رسمي محبس نه لاره، او هغه او نور د ده په وخت کې د دهمزنګ بندیخانې په ګډون ودان شول. په دغو او دغسي نورو اجراآتو سره وو، چې امیر عبدالرحمن په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره مرکزي حکومت تنظیم او پر ځای کړ، چې د هغه اصلاح شوئ او عصري شوئ شکل دوام لري. د ده په وخت کې و، چې په بین المللي موافقو سره د افغانستان د ټولو پولو تحدید او په ښه کېدل تکمیل شول، او په نتیجه کې یې معاصر افغانستان هسک او په نړۍ کې وپېژندل شو. نو امیر عبدالرحمن د معاصر افغانستان د دوهمي دورې مؤسس ګڼل کېدلی شي.

دلته به بیرته پاچا امان الله ته وګرځو. ښاغلئ زماني ادعا کوي چې " دولت انګلیس ده سال زحمت کشید تا دولت امانیه را با پروګرامش معدوم کند."ډېر عجب فکر او ډېره عجبه جمله! اول د "دولت انګلیس" افادې ته توجه په کار ده. "دولت انګلیس" یاني څه؟ دغه افاده نه په هند باندي د برتانیې د حاکمیت، او نه په برتانیه کې برتانوي حکومت یا په دقیق ډول د متحد سلطنت افاده کوي. دا هسې یوه عامیانه او پروپاګنډي افاده ده. دی باید پوه شي، چې "د انګلیس دولت" یو مجرد مفهوم دئ، او یو مجرد مفهوم بل مجرد مفهوم لکه "امانیه دولت" له مینځ نه وړلی نه شي. دا مشخص او ډینامیک انسانان دي چې دغه کارونه کوي. دی باید ثابته کړي چې په دغو لسو کلونو کې برتانویانو کوم کارونه وکړل، چې اماني دولت یې معدوم کړ. په اصل کې دلته د دولت کلمه راوړل بې ځایه او د ناپوهانو کار دئ، ځکه چې د دولت اساسي عنصر ولس یا خلک دي، او څوک هغه "معدوم" کولی نه شي. زماني خوښ دئ چې غټ الفاظ راوړي، او بې بنسټه حکمونه وکړي، بې له دې چې مانا او پایلو ته یې پام وکړي، یا پرې پوه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ښاغلي زماني يوه بله ذهني حيرانوونکې وينا

دي وايي چې " انګريزي استعمار سره له دې چې يو قوي افغانستان او غازي امان الله خان خپلې واکمنۍ او سياسي، اقتصادي، او پوځي ګټو ته لوی ګواښ ګڼله، او د غازي امان الله خان د وژلو او له مينځه وړلو دسيسو او توطيو په ځنګ کې يې د هغه سلطنت د نسکورلو د پاره د هر فرصت څخه استفاده کوله، او په دې لار کې يې د مذهبي مشرانو او دولت د مخالفينو د لمسولو او مرستې هيڅ کوښښ نه سپماوه، تل دا تبليغ کړئ دئ، چې ګواکې د اماني رژيم د نسکورېدلو اصلي سبب د اصلاحاتو د پروګرام د پيل کولو له امله د غازي امان الله خان اشتباهات وو چې خلکو ته د منلو وړ نه وو."

اول خو دغه فقره د املا او انشا له نظر نه د دغسي کس ښکاري، چې نوئ يې لوست او ليک زده کړئ وي. په فکري لحاظ خو ښاغلي زماني په دغې فقرې کې غټې موضوعګاني راوړې بې له دې چې يوه يې هم بيان او شرح کړې يا ثابته کړې وي. دی خيال کوي چې دی په دې اړه د صلاحيت خاوند دئ او د برتانويانو پر ضد چې هرڅه وليکي، لوستونکي به يې و مني، حال دا چې، لکه چې وروسته به وليدل شي، حتی پخپله پاچا امان الله په کندهار کې په يوې مرکې کې برتانويان په خپله ناکامي کې تبرئه کړي او ملايان او روحانيون يې خپل مخالف ښوولي، بې له دې چې په دې اړه يې له چا نه پيسې تر لاسه کړي وي. په بمبيي کې يې پاچا خان عبدالغفار ته لا له خپلو خلکو شکايت وکړ، چې دی يې "قادياني" او "وهابي" ګڼه، او دی نه غواړي چې په دوی باندي بيا د واکمنۍ کولو په مقصد کوښښ وکړي. هغه ترېنه غوښتي و چې، د کورني جنګ د مخنيوي لپاره له ده سره مرسته وکړي. غېر له دې هم د ښاغلي زماني دغه فقره دغومره سرګيچونکې، بې سويې، او پروپاګنډي ده چې په ځواب ورکولو نه ارزي، خوځنګه چې يو شمېر نور هم برتانويان د پاچا امان الله په ناکامۍ کې دخيل ګڼي او يو شمېر جذباتي او ويبسايټي نېشنلستان يې په اړه ناري سورې وهي، زه دلته کوښښ کوم چې د هغه وخت د معتبرو منابعو او ليکنو له مخې واقعيتونه په هر ډول چې وي وړاندې کړم. د دغه مقصد دپاره ما دغه منابع په انتقادي، او دقت سره کتلي، او په نتيجه کې مې د پاچا امان الله، د هغه د اصلاحاتو او کړو، او داسي هم له برتانويانو سره د هغه د اړيکو په اړه نوي ځيزونه کشف کړي، چې په پاتې پاڼو کې به يې لوستونکو ته وړاندې کړم. په دې موضوع به هم وغږېږم، چې ښاغلئ زماني چې" د اماني دورې تاريخ سره بې کچې مينه او تنده" ښيي، له دې امله ده چې پاچا امان الله خان د ده نيکه، مير زمان، چې د امير حبيب الله په دوره کې په کومي جرمي موضوع کې بندي و، ازاد کړ، او بيا يې د هغه د خدمتونو په بدل کې له حد نه ډېر ونازاوه، خو هغه د پاچا له ګوښه کېدلو نه وروسته، د کنړ مخالفانو له مينځ نه يوو. په پای کې به ښاغلئ سيستاني هغو تېروتنو ته متوجه کړم چې د معاصر افغانستان د تاريخ په اړه يې کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په يادې شوي فقرې کي له ښاغلي زماني نه پرته به بل څوک ومني چي "انګريزي استعمار" پاچا امان الله خان ته " لوی ګواښ ګڼله" او غوښتل يې هغه "ووژني"؟ دغه استعمار، چي د نړۍ په ډېرو برخو کې خپور و، پاچا امان الله په کوم قوت هغه ته ګواښ کېدلی شو. د خواشيني ځای دئ، چي يو طبي ډاکټر دغسي کاواکه غرېږي او د پاچا امان الله د ناکامي پړه هم په باندنيانو اچوي. دی به ځکه دغسي کوي، چي خلکو ته نيشنلست ځان و ښيي، د دې لپاره چي خپله ماوستي مخينه يې له ياده ايستلې شوې وي. د ده " انګريزي استعمار" هم د ده د "انګليس دولت" په څېر يوه مجرده افاده ده، چي عمل کولی نه شي. دی نه پوهيږي چي استعمار د عمران په مانا ده، لکه استفاده چي د فايدې اخيستلو، او استثمار د ثمر اخيستلو يا زېښلو په مانا ده. هو په تاريخ کې استعمار (کولونيليزم) په دې ډول ياد شوئ چي د يوه هيواد ځيني خلک په بل هيواد کې ميشت شوي، او ځينو يې په پای کې د هغه هيواد واکمني تر لاسه کړې. په افغانستان کې برتانويان په دغه مفهوم نه دي ميشت شوي. نو په دې ډول د "انګريزي استعمار" يادونه يوه پروپاګنډي افاده ده. افغانستان بايد په مالي، اقتصادي او پوځي لحاظ يو پياوړئ هيواد وای، چي برتانويانو امان الله خان ته يو لوی ګواښ ګڼلئ وای. افغانستان د پاچا امان الله د ډېرو غېر معمولي لګښتونو له امله دغومره ناتوان شوئ و، چي په مالي لحاظ برتانوي هند ته ګواښ کېدلی نه شو. " هغه وخت چي امان الله د حکومت واک په لاس کې ونيوه، د افغانستان په خزانه کې، د برتانوي منابعو پر اټکل ۱۵۰ ميليونه روپۍ وې، چي حبيب الله په ډېر ځير زېرمه کړي وې."(۱۰) د خوست له ياغي توب نه وروسته، د ۱۹۲۲ کال په جون کې د برتانيې د نظامي اتاشې د راپور له مخي " په حاضر وخت کې د اندېښنې غټ لامل دا دئ چي د کابل محلي خزانه له پيسو نه خالي ده، او خپل منابع يې لګولي دي."(۱۱) ليکوال عزيز هندی وايي چي له پاچا امان الله نه وروسته چې حبيب الله کوهدامني په واک شو، په خزانه کې ۲۲ ميليونه روپۍ پاته وې."(۴۴۵ مخ). دغه شمېره مشکوکه ښکاري، ځکه چي د پاچا امان الله په وخت کې لګښتونه بيخي ډير وو، په خاص ډول د خپلواکۍ په جنګ کي، او ودانيو په کولو سره، د ډېرو د باندنيو د استخدام له امله او د وسلو په رانيولو سره. له بلي خوا حکومتي عايدات تر پخوا لږ شول، د برتانويانو د مواجبو په درېدلو. په ځمکې باندې په نغدي سره د مالياتو په اړولو سره. د خوست يو کلن ياغي توب سره هم، چي حکومت ته شاوخوا دېرش ميليونه روپۍ تاوان واوښت. پخپله پاچا هم د بيت المال پيسې په خلاص لاس لګولې، لکه چي شخصي پيسې يې وي. د باندني سفر په وخت کي يې د هر هيواد غريبانو ته يو لک پونډه بخښل، په داسي حال کې چي د خپل ملک غريبان يې تر هغو ډېر غريب، او دغه پيسې هم په اصل کي د دوی وې. د ډېر لګښت له امله و چې پاچا د خپل پلار او نيکه پوځ لږ کړ، او په دغه ډول يې د هيواد دفاعي قوه ضعيفه کړه، او د منګلو له ياغيتوب نه يې هم عبرت وا نه خيست چي هغه يې په زياته اندازه په قومي ايله جاري سره وځپه. د پيسو د لږوالي له امله و، چي له بهرني سفر نه وروسته يې له ملکي او نظامي چارواکو نه وغوښتل، چې حکومت ته چي نوي وسلې يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



رانیولي وې، د دوو میاشتو [درو میاشتو] معاش بسپنه ورکړي. پـه هر بالغ نارینـه باندې یې هم پنځـه روپـۍ حواله کړې، او په دغه ډول یې دغه دواړې ډلې ناراضي کړې.

پاچا امان الله په خپلې لس کلنۍ واکمنې دورې کې هغومره ډېر لګښتونه وکړل چې هیڅ افغـان واکمـن په دغومره موده کې دغومره لګښتونه نه دي کړي: هو، د ازاد مارکیټ او د لارو د اصلاح له امله، سوداګري او ورسره ملي اقتصاد مخ په ښه کېدو و، خو دغه کار وخت غوښته، چې حکومتي عواید زیات کړي. په پای کې به وویل سي، چې افغانستان او واکمن یې پاچا امان الله په مالي او اقتصادي لحاظ برتانوي هند تـه ګـوابښ کېـدی نه شو.

## له برتانویانو سره اړیکي

دعامه ذهنیت پر خلاف د پاچا امان الله او برتانویـانو اړیکې د خپلواکې د جنګ نـه وروسـته خرابې او بحراني نه وې. پاچا امان الله له برتانوي هند سره په پرتله په نېغ یا نانېغ ډول مرسته کړې، خو په ظاهر کې یې یو وخت بل وخت د خلکو پـه خـاطر برتـانوي ضـد حرکتونـه کـول. پاچـا امـان الله د خپلـواکۍ د جګـړې نـه وروسـته د ډیورند' آخوا پښتنو سره د هغو د خپلواکۍ ګټلو په لار کې عمل و نه کړ، کـه څـه هـم دغـو پښـتنو د خپلـواکۍ پـه جګړه کې فعاله برخه لرله، او عمومي توقع هم دغه وه. اوس دغه موضوع مهمه نـه ګڼـل کیـږي، خـو هغـه وخـت دا جدي موضوع وه. اروانباد سید شمس الدین مجروح، چې هغه وخت ځوان و، د خلکو دغـه احسـاس پـه دغـه ډول ښـودلئ دئ: " ... و هـم بعضـي مـردم فکـر میکردنـد کـه ایـن جنـګ سـوم بـرای اسـترداد اراضـي از دسـت رفتـه افغانستان رخ داده بود، که آن نتیجه مطلوب بدست نیامـده. لـذا ایـن جنـګ را افتخـار بزرگي نـه، بلکـه ناکـامي تصور میکردند."(۱۲) د پاچا دغه بې پروایي په ۱۹۲۴ کې د ګوډ ملا د یاغي توب یو لامل شو. پاچا امـان الله د خپلواکۍ د جګړې نه وروسته څه کم دوه کاله ناکام کوښښ وکړ، چې په منځنۍ اسیا کې د پیسو پـه لګښـت، او په ملکي جامو کې د سرتیرو په لېږلو سره په دغې سیمې کې خپل نفوذ خپور کړي، او د انـور پاچـا پـه مرسـته او غوښتنه هلته د اسلامي کنفدریشن سروال شي، چې پـای یـې ناکـامي او د شـوروي دولـت سـره د لـومړۍ دورې د تودو اړیکو سرېدل شي.

لـه برتـانوي هنـد سـره د پاچـا امـان الله غـټـه مرسـته د عجـب خـان اپریـدي د موضـوع پـه ارتبـاط وه چـې لیکـوالي سـټیورټ اوږده بیـان کـړې (۲۱۹ - ۲۲۷ مخونـه)، او لنـډیز یـې دادئ: عجـب خـان اپریـدي لـه برتـانوي چارواکو سره، د هغو د زور زیاتي له امله، په کوهاټ کې د یوه انګلیس مېجر ځوانه لور د مـولي الـیس ( Molly

(c) ketabton.com: The Digital Library



Ellis) په نامه د ۱۹۲۳ کال په اپریل کي په نظامي چوڼۍ کې، د هغې له کوره وتښتوله، او بیا یې له خپل ورور شهزاده اپریدي او نورو ملګرو سره شنوارو ته، په افغانستان کې پناه یووړه. هلته دوی ټولو په منډه تي نومي محل کې واړول او کورنۍ یې هم ورسره یوځای شوې. ملک منصور شینواري د دوی ساتنه په غاړه واخیسته، او مشکوک کس هلته تللی نه شو. دا هغه وخت و چي ختیځ پښتانه د برتانویانو په بمباري سره، چې نوي رواج شوي وې، په تنګسه کې وو، او عجب خان اپریدي ته د اتل په سترګه کتل کېدل. برتانوي چارواکو د دوی پر ضد عمل کولی نه شو، خو په هغه حال کې چي په افغانستان یرغل وکړي. څنګه چي د دواړو هیوادو تر مینځ یو بل ته د دغسي کسانو د مبادلې تړون نه و لاسلیک شوئ، برتانویانو د هغو د تر لاسه کولو ادعا کولی نه شوه. دغه قصه ډېره اوږده ده، نو دوی دغومره و کولی شول د پېښور د یوې ډاکټرې مېرمني، مېرمن سار، او د هڼدې اخندزاده د کورنۍ د یوه غړي، ملا محمود اخندزاده، په مینځګړیتوب پېغله الس ازاده کړي، او هغه خپل کور ته ستنه شي. په دغې ټول مودې کي له هغې سره د یوې درنې مېلمنې په شان سلوک کېده. خو سفیر همفریز په کابل کې په پاچا امان الله فشار راوړ، چې عجب خان او ملګرو ته یې جزا ورکړي. برتانویانو د مخه د همدغي کشالې په سر د هند له لاري افغانستان ته د وسلو د انتقال مخه نیولې وه، او همفریز لا په یوه کتنه کي پاچا ته خبر داری ورکړئ و، چي "له اور سره لوبه و نه کړي." پاچا د دغي کشالې د هوارولو لپاره محمد ولي ګمارلئ و، پداسي حال کې چې تر دغه وخت پوري سرحدي چاري جنرال محمد نادر اجرا کولې، او دی ناراض شو. محمد ولي همفریز ته وویل چي که د ده خوښه وي عجب خان او ملګري به یې مزار ته تبعید شي او همفریز هوکه وکړه او عجب خان بیا د ۱۹۲۴ کال د جنوري په ۲۸ له خپلو ډیرو ملګرو سره، په درو لاریو کې مزار ته تبعید شو، او هلته مځکي ورته ورکول شوې او نغده هم ورته وټاکله شوه.

د ستېیورټ په نظر خو "امان الله د خپلو خلکو سره خپلي اړیکې ورانې کړې. قومونه د هغوی د دوو سپېڅلو اصلو په نقض سره وپارېدل: د ننواتې، او د موعودې پناه." په جلال اباد کې د برتانیې د قونسل په وینا، چې په لاریو کې د عجب اپریدي د کورنۍ غړو تبعید په ورځ هغوی ولیدل، د یوه تن خبرې په دغه ډول ثبت کړې، "که د واکمن په توګه د امیر د بندي کېدلو وېره له مینځ نه لاړه، پر هغه به له شک نه پرته د کفر فتوا صادره شي." پخپله پاچا هم منله چې "هیڅ امیر له برتانوي حکومت سره د مخه هیڅ ډول عوضي معامله نه ده کړې. زما تسلیمي په سرحد کې زما حیثیت ډېر ضعیف کړ." (ستیورټ، ۲۴۸) شنواري په خاص ډول ناراضي او له پاچا او حکومت نه د انتقام اخیستلو په انتظار شول، او دغه موقع هغو ته په ۱۹۲۸ کي په لاس ورغله، او دوی د انتقام اخیستلو په مقصد جګ شول.

پاچا امان الله له برتانیي نه ګیله کوله چي په پورته کشاله کې په انګلستان کې د ده د کارنامې قدر نه دئ شوئ. "له همدې امله به هم و چې برتانویانو د هغه د رسمي سفر په موده کې دهغه او د هغه د ملګرو ښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرکلی وکړ. درې ورځې دی او ملکه یې په پاچایي ماڼۍ کې د امپراتور او ملکې مېلمانه وو، او یوولس ورځې ټول د حکومت. پاچا له خپلو ملګرو سره یوه اونۍ په خپل لګښت تېره کړه، او په یوه ښار کې هغو برتانویانو چې د خپلواکۍ په جګړه کې برخه اخیستې وه، په خپله خوښه د پاچا امان الله په مخ کې په رڅې تېر شول، په دې چې امان الله دغسې پاچا دئ، چې و برتانوي امپراتورۍ ته یې چیلینج ورکړئ و. د برتانیې حکومت ته د خلکو دغه تود هرکلی له توقع نه پورته و. ډېره مهمه دا ده چې د برتانیې حکومت د افغانستان د پیاوړتیا د پاره موافقه وکړه چې ډول ډول عصري توپونه، توپک او نوري وسلې او مهمات وړیا ورکوي او د خپل سند هرسنټ په نظامي اکاډمۍ کې به شل تنه افغان منصبداران د هند د حکومت په لګښت روزي.(ادمک، ۱۳۰)

د برتانیې او هند حکومت غوښتل چې پاچا امان الله پیاوړئ او د خپل هیواد واکمن پاتې وي. په هغو لیکونو کې چې د ۱۹۲۵ او ۱۹۲۲ کلونو کې د دوی تر مینځ مبادله شوي، ویل شوي چې " د لومړۍ درجې مهمه موضوع دا ده چې امیر په خپل تخت وساتلی شي. دی که څه هم د قناعت وړ شخص نه دئ، تر ده ښه بل څوک نه لیدل کیږي، او انقلاب هغه څیز دئ، چې شورویان ورته کار کوي." پاچا امان الله هم ویلي و چې " زه پوهېږم چې د شوروي ایجنټان زیار باسي زما په خلکو کې انقلابي نظریې خپرې کړي، او زه دغومره ړوند نه یم چې فرض کړم چې کمونستي حکومت به ما او زما تخت ته له دښمنۍ نه غیر بل څه وي." (ستېیورټ، ۳۱۱)

اساسي دا ده چې برتانویانو د افغان-انګلیس له دوهم جنګ نه وروسته، د پخوا برخلاف، دغه سیاست غوره کړئ وو، چې افغانستان پیاوړئ او دوست وي، چې د باندني یرغل په وړاندې له ځان څخه دفاع وکړي، او د لزوم په وخت کې پخپله هم د هند د دفاع په مقصد د دغه احتمالي یرغل دفع وکړي. دوی د "علمي سرحد" په نامه عمومي پالیسي په واقع کې د همدغه مقصد لپاره ایستلې وه چې د ډیورنډ توافق لیک د دغه سیاست یوه برخه وه. دا چې افغانستان د امیر عبدالرحمن په وخت کې د لومړي ځل لپاره ټینګ مرکزي حکومت شو تر زیاتې اندازې دهمدغه سیاست له امله و. تاریخپوه، فیض محمد هم د دغه سیاست په ملاتړ وایي چې" برتانیه از رقابتي که با دولت روس دارد افغانستان را سد آهنین حمله رقیب خود پنداشته، در قوت و اقتدار و استحکام افاغنه و مملکت ایشان جد وافي و جهد کافي مبذول میدارند، نه اینکه به تخریب این سد متین همت گماشته تیشه به ریشه خود مي زنند."(فیض محمد، تذکر الانقلاب، ۳۱) سردار شیر احمد دغه مطلب په دغه ډول بیانوي: " لویه برتانیه له افغانستان سره کومه خاصه علاقه نه لري، خو هغه متجاوزه نه ده او دا یې پوره په ګټه ده چې غواړي افغانستان د بولشویکانو پر ضد د یوه حایل هیواد په شان پیاوړئ او اباد وي." (ستېیورټ، ۲۷۴) دا هم اساسي ده، چې د افغانستان او برتانیې پاچایي نظامونه سره په اساس کې جوړ، او په یوې لیکې روان وو، د شوروي نظام پر خلاف چې هغه له بېخ نه ورسره وران و. نو دا د برتانویانو په ګټه وه چې د پاچا امان الله واکمني پر ځای وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د پاچا امان الله ځيني مهمي تېروتنې

پاچا امان الله او حکومت ته يې چې د خوست له جنګ نه وروسته بل غټ خطر پېښ شو ، هغه د ده له باندني سفر نه وروسته د دغسي اصلاحاتو له امله و ، چي افغانان په هغو سره خپل د پیړیو دود دستور او ژوند طرز پرېږدي، او اروپايي دود دستور او ژوند طرز غوره کړي، هغه هم په حکومتي زور ، او په ګړندي ډول. اول له ډیرو لوړپوړو چارواکو سره د ده شپږ میاشتي باندنی سفر ، په داسي حال کې چې دی هم د دولت او هم د حکومت سروال و ، په دغسي وخت کې و چې هم د ده د لومړۍ دورې د ناآشنا اصلاحاتو ، او هم د يوه کلني جنګ خاطرې هيري شوي نه وې او د هيواد کراري هم په ډاډمن حال کې نه وه ، د ده په بیرون کېدلو سره د غبار په وینا " در تمام ولايات افغانستان حلقه های مخفي مخالف به فعاليت ضد دولتي درامدند ."(۱۳) لوی او اثرناک مخالف يې فضل عمر مجددي و ، چې د پاچا نوي پروګرامونه يې د شريعت مخالف ګڼل. مجدديان د خپلي نقشبنديه عقيدې له مخې عقیده لري چې د يوه مسلمان ملک واکمنان مکلف دي چې د شرعي قانونو له مخې حکومت وکړي، او که يې و نه کړ ، خلک دي د هغه مخالفت وکړي. فضل عمر مجددي د نقشبندي طريقې د مشر په توګه د پاچا امان الله په مخالفت د مخه له افغانستان څخه وتلئ او په اسماعیل خان دېره کې دېره شوئ و. د تاریخپوه ادمک د ليکني له مخي هغه د پاچا ضد تبليغ تر څنګه د جنوبي او پکتيا له عالمانو سره غونډه وکړه او په دې وغږېدل چې" د ځوانو افغانانو پر ضد کودتا وشي، او پاچا امان الله په ستنېدو سره له يوه شوي عمل سره مخ شي." دوی دغه پرېکړه هم وکړه چې " په وروستي ګام کې دي پاچا ګوښه او جمهوري نظام په پښو ودرول شي." (ادمک، ۱۳۹)

دغه اوږد سفر د پاچا په خپل نوښت و. په کابل کې خسر يې، نوميالي او مجرب محمود طرزي، په دغه وخت کې د نه سفر کولو مشوره ورکړه، خو هغه و نه منله. د ايټاليې د ناپل په ښار کې جنرال محمد نادر، او ورونو يې محمد هاشم، او شاه ولي، پاچا ته ځانونه ورسول، او ورته وويل چې " د افغانستان په اوسنيو اجتماعي، سياسي او اقتصادي حالاتو کې د چټکو اصلاحاتو لپاره ډګر برابر نه دئ." د دې مانا دا کېده چې دغه سفر و نه کړي، او له دغسي اصلاحاتو نه لاس واخلي. پر عوض يې پاچا جنرال نادر ته وويل چې دی دي افغانستان ته لاړ شي. "سپاه سالار يې پر امر باندي غوړونه کاڼه واچول." او په سفر کي يې هم ورسره ملګرتوب ونه کړ.(۱۴) د پاچا مور چې په حکومتي چارو کې فعاله او د ملکې ثريا پر خلاف وه، هم د دغه سفر مخالفه وه، او نه يې غوښتل چې زوی يې " ... خپل تاج او تخت په خطر کې کړي."(۱۵)(عزيز هندي، ۳۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچا چي له دغه سفر نه وطن ته ستون شو، هغه پخوانی امان الله هم نه، بلکي د اروپايي کلتور تر تاثير لاندي شوئ و. د غبار په وينا " وقتيکه شاه برگشت آنمرد گذشته نبود. او بسيار خود رای و مغرور شده بود، و با اقدامات عجولانه اي که نمود بزودي افغانستان را مستعد به يک انفلاق منفي نمود." (غبار، ۸۱۲) ليکوال عزيز هندي چي پاچا يې له نژدې پېژانده د غبار د نظر په تائيد کي د پاچا د وضع د تغير په اړه دليل هم راوړي او وايي چي (عزيز هندي، **۵۵**): " په اروپا کي له ده نه کوم شاندار استقبال شوئ و، د ده په طبيعت باندي دا تاثير کړئ و، چي دی تر پخوا زيات د خپل عقل، پوهي او د فکر د رښتين توب مدعي شي، نو ځکه د هيواد د پرمختگ له پاره چي ده کوم فکرونه او تجويزونه له ځان سره لرل، هغه يې سم او د لاس وهنې وړ نه گڼل." له همدې امله و، چي پاچا په ترکيه کې د هغه مشر اتا ترک ته په همدغې روحيې سره مالومات ورکړل.

اتا ترک وپوښته چې " ايا اعلي حضرت په خپل هيواد کې دومره محبوبيت لري چي د اصلاحاتو خلاف اعمال به د يوه بغاوت په شکل را مينځ ته شي؟ پاچا ځواب ورکړ، چي " ما د منگلو د بغاوت په ترڅ کې تر زياته حده د روحانيونو قدرت مات کړ، او دوی زما په هيواد کې يو مقتدر عنصر گڼل کيږي، چي د حکومت پر ضد د خلکو د راپورته کولو او تحريک کولو قدرت او استعداد لري، خو اوس دغې ډلې ته پخوانی قدرت نه دئ پاتې چې د حکومت پر ضد سرونه راپورته کړي." اتا ترک له ده نه بيا پوښتنه وکړه، چې که بيا هم دغه ډله په دغه کار کې بريالۍ شوه " اعليحضرت به وکړای شي هغوی په خپل قدرت سره و ځپي. [؟] پاچا په ډاډ وويل چي " هو، زه په اساني سره کولای شم چي د خپل پوځي قدرت په ذريعه د داسي شورشونو او فتنو په ټکولو بريالی شم." د اتاترک بله پوښتنه دا وه چي پوځ به د "تحريک" په وخت کې " خپل دسپلين وساتي او تاسي ته به وفادار پاتې شي [؟]" ځواب يې واورېد چې " هو، زه په خپل پوځ کې ډېر زيات محبوب، او د دوی په زړه کې ځای لرم." د اتا ترک بله مهمه پوښتنه دا وه چي د بغاوت " ... په حال کې تاسي يقين لرئ چې گاونډي هيوادونه به د اعليحضرت د حکومت پر خلاف کار روايي او لاس وهنه و نه کړي [؟]. ځواب يې واورېد چي " زه په دغه خبره کامل يقين لرم چي په دغه حال کي به روس او انگرېز دواړه خپلو ژمنو او تړونونو ته په درنه سترگه وگوري، او احترام به يې وکړي." اتاترک بيا ورته مشوره ورکړه چي " څرنگه چي دا ټول حالات د اعليحضرت په موافقت دي، نو دی دې دا اصلاحات زر تر زره پيل کړي." خو هغه په پای کي دا هم ورته وويل چي " په ترکيه کي هيڅ اصلاحاتو ته هرکلی نه دئ شوئ. ... هغه ما د برچې په څوکه عملي کړي دي. هيڅ اوسېدونکي خپل پخواني دودونه، دستورونه، رواجونه په خپله خوښه نه پرېږدي، تر څو د وخت حکومت د هغو [د ځپلو] لپاره قدرت استعمال نه کړي." د عزيز هندي د ليکني له مخي (عزيز هندي، **۴۹**) " تر دغو وروسته اعليحضرت تر پخوا زيات پر اراده او عزم ټينگ ودرېد. ... دا فکر هم په ده کي پياوړئ شو چي دی به افغانستان ته د رسېدلو سره سم اصلاحات په قوت او زور رواجوي." پاچا په رښتيا همدغسي وکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچا امان الله وطن ته د رسېدلو په لار کې، د هرات او کندهار له لارې د ۱۹۲۸ کال د جولای په اوله ورځ کابل ته ورسېد ، او دوه میاشتې وروسته یې لویه جرګه په پغمان کې راوبلله.

## د پاچا امان الله ورستنۍ لویه جرګه

لویه جرګه په پغمان کې د زرو تنو ولسي استازو، لوړ پوړو چارواکو، علماوو، او مخورو کسانو په ګډون د ۱۹۲۸ کال د اګست په ۲۹ پرانیستله شوه. ټول غړي یې په دریشي ملبس وو، نه وطني کالیو کې. او هغه توري دریشي، سپین کمیس او نکټایي کړي، او وریا ورکړي وي. غونډې په پنځو ورځو کې سر په سر وشوې، او جرګه د سپتمبر په دوهمه پای ته ورسېده. ډیري موضوع ګانې ورته وړاندې شوې، چې مهمې او اثرناکې یې دا وې: عسکري خدمت له دوو کلو نه دروکلو ته اوږد شو. ملایان مکلف شول چې امتحان ورکړي، او تصدیق تر لاسه کړي، او له هغه نه پرته ملایي ونه کړي. باندني ملایان، په تېره له دیوبندي مدرسې نه فارغ ملایان، وطن ته له راتللو نه منع اعلان شول. دا هم فیصله وشوه، چې شرعي محکمې دي له دې وروسته دعواګاني د شواهدو پر بنست فیصله کوي، نه د شاهدانو په شهادت. له پنځلس کلونو نه پورته نارینه افغان باندې د وسلو د رانیولو د بابته پنځه افغانۍ حواله شوې. له هر حکومتي چارواکي نه وغوښتل شول چې د یوې میاشتې تنخواه اخیستلو نه تېر شي، او هغه دې حکومت ته وبښي. هر نوئ چارواکئ مکلف و ګڼل شو ،چې د خپل ماموریت په شروع کې خپله شتمني ثبت کړي. پاچا له لومړۍ وینا نه مخکې له یو سل او پنځو هلکانو، او پنځلسو نجونو سره مخه ښه وکړه. هغوی د حاضرینو له مخې تېر شول، او د زده کړو لپاره په موټرو کې د ترکیې په مقصد روان شول. پاچا جرګې ته دغه نظر هم وړاندې کړ، چې نارینه دي له ۲۲ کلنۍ نه، او نجونې دې له اتلس کلنۍ نه د مخه واده و نه کړي. حکومتي چارواکي مکلف وګڼل شول چې یوازې یوه نکاحي ښځه ولري. پاچا د دغې جرګې په درشل کې د جرګې د یو څو تنو سره په یوې خصوصي کتنې کې ښکاره کړې وه، چې غواړي دین له دولت نه بېل، او د څو ښځو کول منع اعلان کړي، خو د هغو او د خپلو لوړپوړو چارواکو د مخالفت له امله له هغو نه تېر شو. دغه موضوع به وروسته بیان شي.

پاچا په دغې جرګې اکتفا و نه کړه، او یوه میاشت وروسته یې د اکتوبر په دوهمه د باندنیو چارو وزارت کې د مخورو، علماوو، چارواکو، دولتي شورا غړو او باندنیو دیپلوماتو نه جوړه یوه شپږ سوه کسیزه غونډه پرانیستله. په دغې غونډې کې د افغان چارواکو مېرمنو هم ګډون کړئ وو، او دا لومړی ځل و چې افغان مېرمنې د خپلو مېړو سره په یوې عمومي، رسمي غونډې کې یو ځای وي. مقصد دا و چې، پاچا خپل اصلاحي پروګرامونه دوی ته شرح کړي، او د هغوی له لارې خپل خلک د خپلو اصلاحاتو پر خوا رامات کړي. پاچا ... هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل باندنی سفر ګټور وباله، او وې ویل چې د سفر ټول لګښت د هغو سوغاتو له ارزښت نه لږ دئ چې ورته ورکول شوي دي. خو ده د هغو ځیزونو د رانیولو پیسې ونه ښودلې چې په ایتالیې او فرانسې کې شاوخوا شپږ میلیون او په جرمني کې شاوخوا څورلس میلیون نقد پرې لګېدلي وو. پاچا امان الله خپل سفر په سیاسي لحاظ ګټور وباله، چې له نورو حکومتونو سره یې د دوستۍ تړونونه لاسلیک کړي، او سوداګري اسانتیاوې برابرې کړې دي.

پاچا په دوهمې غونډې کې څرګنده کړه، چې نظامي افسران منع دي چې د روحانیونو او پیرانو مریدان وي، او سرتیري باید دغسې مهارتونه هم زده کړي، چې وروسته ترېنه کار اخیستلی وشي. ده دا هم وویل چې نظامي افسران دي په خپله رضا د اصلاحاتو په خاطر له درو میاشتو معاش نه تېر شي. په عین حال کې یې دا هم وویل چې د سرتیرو معاش به ډېر شي. په ولایتونو کې یې د ښوونځیو د پرانیستلو وعده هم ورکړه خو زده کوونکي باید د زده کړې پر مهال واده ونکړي.

په دریمه ویناکې پاچا امان الله د ښځو د ستر په اړه وویل، چې په دوو میاشتو کې به ستر له مینځ نه یووړل شي. پاچا چادري د ښځو روغتیا ته خطر وباله، او وې ویل چې دوی دې د چادري پر ځای له ترکي نقاب نه کار واخلي. هغه دا هم وویل چې " ... ستر په اسلام کې الزامي نه دئ، او ده بیا خپلې مېرمني ته مخ راواړاوه، او ورنه وغوښتل چې مخپټونی له مخ نه لیري کړي. هغې د ښځو په چکچکو سره همدغسې وکړل." نورو ښځو هم مخونه لوڅ کړل. دا په واقع کې د افغان ښځو د مخ لوڅۍ لومړی ګام و. په رښتیا هم د اسلام په صدر کې ښځې مخ پټې نه وې. د مخ پټۍ په اړه په اسلام کې ارشاد نه شته، او مخ پټي یا ستر له باندي نه په اسلامي عربستان کې رواج موندلئ دئ. پاچا امان الله بیا ملایان د نادانو او متعصبانو په نامه وغندل او د جهالت او تعصب د خپرولو او دوه مخۍ مسئول وګڼل.

پاچا په څلرمه وینا کې وویل چې ده سردار شیر احمد صدراعظم ونوموه، خو هغه ونه کولی شو افغانان وهڅوي چې د ده تر لاس لاندي کار وکړي، او تر هغو چې نوی انتخابي پارلمان جوړیږي، دی به د صدارت چاري هم تر سره کوي، ځکه چه یوازي دی انقلابي ریفورمونه پلي کولی شي. ده په پای کې زیاته کړه چې " زه یو انقلابي پاچا یم او غواړم د ژوند په هر اړخ کي انقلاب راولم." (ادمک، ۱۲۲-۱۳۷)

د پاچا دغه ویناوي یوازي د اورولو لپاره نه وې، د عمل لپاره وې. "عامو نارینه وو ته امر وشو چې مغربي کالي واغوندي.... په لومړي سر کي یوازي څو تفریحي ځایونو ته بې له خولۍ او لویدیځ ډول کالیو ورتګ بند شو، خو وروسته ښارندوی ته... حکم وشو چې له هر ډول لارې څخه دې، چې ټاکل شوي کالي یې نه وي اغوستي، یوه پیسه د جرمانې په ډول تر لاسه کړي." د بل حکم له مخې " ... هیڅ یوه نارینه ته چې اروپایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کالي يې نه وي اغوستي د استقلال په مراسمو کې ګډون کولای نه شي." داسي هم د يوه بل حکم لـه مخې "هيڅ ښځي ته د مکتبي برقعې د په سر کولو نه پرته له کور څخه د وتلو اجازه نه وي." (عزيز هندي، ۷۸-۸۱) د غبار د ليکنې (مخ ۸۱۳) له مخي، "شاه امر نمود تا در جاده های مخصوص در پايتخت تابلوها کذاشتند و نوشتند هيچ زني با برقع نمی تواند ازينجا عبور کند." پاچا دا امر هم وکړ چي "تمام مردم در شهر کابل دريشی و کلاه بپوشند و در هر چند قدمي پوليس استاد بود که از متخلفين جريمه نقدی ميگرفت." غبار دا هم وايي چي "قطع نظر از مصارف گزاف دريشی، که از توان اکثريت مردم خارج بود، برای تطبيق اين امر هيچ مغازه بزرگی ... موجود نبود. لهذا اغلب دکانداران کلاه های افسران نظامی در سر ميکذاشتند." داسي هم "... سلام دادن با دست منع شده و بايستی برسم فرنگ بايد کلاه از سر برداشته شود." دغه حکمونه عملي کېدل، او کابل ښاروال علي احمد لودين د هغو په عملي کولو کې ډېر فعاليت کاوه. يو ځل د بخارا پخوانی پاچا چي کابل ته يې پناه راوړې وه د "... پوليسو له خوا ودرول شو او جريمه شو، د دې لپاره چي لنګوټی يې په سر و."(سټيورټ، ۴۱۱)

د حيرانۍ ځای لا دا دئ چي پاچا له روحانيونو سره پـه عـام محضر کي نـاوړی سلوک کـاوه. د ليکـوال عزيز هندي په وينا (عزيز هندي، ۵۸) هغه وخت چي روحانيـان د خارجه وزارت پـه سـالون کـي د پاچـا د هرکلـي د پاره راټول شوي وو، پاچا "... د خپلو درباريانو، ملازمينو، د بهرنيو دولتونو سفيرانو سره په اروپايي کاليو کې سالون ته راننوت، دا دستور صادر شو چې د سلام عليک او سترې مشي پر ځای دي ټول له سر نه خولۍ راکښـه کړي، او په دې ترتيب دي د هغه سلام ته ځواب وويل شي، او بيـا ده لـه يـوه سر نـه تـر بـل پـورې يـوه وچـه سترې مشي وکړه او تېر شو. د اعليحضرت دا عمل د ده ډلې لپاره بيخي نوئ او د زغملو نه و. هغوی د خپلو عقيدو لـه مخې د ده دا عمل د مذهب په خلاف و ګاڼه."

خو د لوړپوړو چارواکو په کورنيو کي د ښځو مخ لـوڅی مـخ پـه زياتېـدو وه. "... پـه کابـل او پغمـان کـي ښځي په ډېرو ښايسته کاليو کي په بې پروا ډول هري خواته پـه سـيل او چکر بـوختي وي. د هغـو کـالي اروپـايي ډوله، مخونه بيخي لوڅ او سينګار دي." (عزيز هندي، ۷۷). مخ لوڅی عموما مخ په ډېرېدو وه. پاچا مېرمن ثرايا د ښځو د شکايتونو لپاره اداري ايستلي وې. په هغو کې د مېړو په وړاندې د ښځو عرضـونه اورېـدل کېـدل. چي خپلو مېرمنو ته يې "کـافي ډوډۍ نـه ورکولـه، وهلې يې، او [مېرمنـو] يـې طلاق غوښـته." پاچا مېـرمن يـوه پټـه ښځينه پوليسي اداره تنظيم کړې وه، چي "... د کابل په نارينه وو کي يا حتی د ښځو تر مينځ د هر ډول ارتجاعي حرکت څارنه وکړي. زړو ښځو ته وظيفه ورکول کېدله، چي کورونو ته ورشي، او وګوري چي که له هغوی سره ښه چلند کېده." (سټيورټ، ۴۱۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاچا دا هم د اصلاحاتو یوه برخه ګڼله چې د جمعې ورځې رخصتي د پنجشنبې ورځ کړي، په داسې حال کې چې د جمعې ورځ خلکو ته یو ډول مذهبي ورځ شوې وه. د لیکوالي ستیوړټ په نظر (ستیوړټ، ۴۱۱) دا ټول د پاچا د ستر پلان شروع وه. پاچا د خپل پلان د عملي کولو لپاره د باندنیو چارو وزارت کې ژوند غوره کړ، او عادي چاري یې محمد ولي ته سپارلې وې. خو په نورو ساحو کې د پاچا امان الله د لبرل او ازاد مارکیت د رواجولو له امله پرمختګ شوئ او پانګه وره ډله خلک د هسکېدلو په حال کې وه. په ټولیز ډول " په اقتصادي برخه کې هم یو ژور اوښتون د مینځ ته راتللو په حال کې و، او د خلکو د ژوند څرنګوالئ مخ په ښه کېدو و. ... د سوداګرو منځنۍ طبقه هم د خپل راپرزېدلي حال نه راپورته شوې وه. ... په کلیو او کورونو کې د لاسي مصنوعاتو جوړولو ته زیات پرمختګ په برخه شوئ و. د حمل او نقل لپاره هره ورځ نوي اسانتیاوي را مینځ ته کېدلې." د کابل او پېښور تر مینځ د تجارتي مالونو د لېږدولو لپاره یوه کمپنئ فعاله شوې وه. " د حکومت له خوا د موټرو دغه ترانسپورټي مؤسسو ته خاص حقوق او واکونه ورکول شول. د هیواد واردات او صادرات ورځ په ورځ مخ په زیاتېدو وو." (عزیز هندي، ۹۷-۹۹) په ختیځ کې د بند غازي په نامه یو بند جوړ شوئ و، چې ډیري مځکې په خړوبېدلې. نهر کریم داسې هم په غزني کې د سلطان محمود پاچا د وخت بند سلطان د فعال کولو لپاره کار کېده. خو د اطرافي سیمو په وګړو کې د بېکارۍ له امله غریبي ډېره وه. داړه مارانو او غلو د همدغو بېکاره خلکو په مرسته یو وخت بل وخت داړې اچولې او امنیت یې ګډ وډ کاوه. دغه اجتماعي رنځ لیکوال عزیز هندي په افغانستان کې د لومړي ځل لپاره اوږد بیان کړئ او د هغه رول یې په ملي سیاست کې د حبیب الله کلکاني په بریالي کېدلو کې ښوولئ.

حکومتي چارواکو په دغه حال کې هم له خپل مقام نه ناوړې ګټې پورته کولې، او د حکومت او خلکو د نارضائیت پروا یې نه کوله. حتی نائب الحکومه ګانو هم په خپلو سیمو کې د " دزد بگیر" په نامه ډلې ساتلې، او "... اکثرو لنډ فکرو او طامعو حاکمانو د دوی په منځګړتوب له لوتمارو سره اړیکي (ساتلې) او په هر لوټ کې به یې خپله برخه اخیستله." (عزیز هندي، ۱۴۲) له نائب الحکومه ګانو هم پوښتنه کېدلای نشوه، ځکه چې " همه آنها بارکزایي و مربوط به خاندان سراج الخواتین، مادر شاه بودند." تاریخپوه حبیبي د هغو نومونه ذکر کړي، او دا یې هم ویلي چې د دوی زیاترو په خپلو ناوړو کارونو سره " شاه محبوب و ترقیخواه را از آغوش مردم دور ساختند، و حمایت ازو رو به کاهش نهاد." (حبیبي، جنبش مشروطیت، ۱۷۴) پاچا مور، سرور سلطان، چې په سراج الخواتین یادېده، په حکومتي چارو کې ګوتې وهلې، او زوی یې د هغې مخه نه نیوله، ځکه چې هغې د هغه په پاچا کېدلو کې رول لوبولئ، او هم یې خپل وراره، والي علي احمد، له هغه سره پخلا کړئ و. والي علي احمد د پاچایي په فکر و. سراج الخواتین په سیاست کې هغسې فعاله وه، لکه ناسکه خوابنې یې، بي بي حلیمه چې وه. وروستۍ دغو مره نوم ایستلئ و چې ویل کیده چې نړۍ له امیر عبد الرحمن نه ویرېږي، او هغه له بي بي

(c) ketabton.com: The Digital Library



حلیمې نه. خو په بحراني وخت کې سراج الخواتین او بي بي حلیمې د ملت په ګټه کوم مهم کار نه دئ کړئ. په داسي حال کې چې د امیر محمد یعقوب خان او غازي محمد ایوب مور، اروابښادي قمر جاني، لوی غازي ملا مشک عالم، او لوی غازي غټ مشر، محمد جان وردګ او نور غازیان د برتانوي یرغلګرو پر ضد هڅول. تر ډېره حده د هغې په هلو ځلو او د پیسو په لګښت و، چې لمسی یې، دوولس کلن موسی جان، په غزني کې دغازیانو له خوا د پلار پر ځای امیر اعلان شو. خو محترم عبدالله کاظم په خپلې یوې لیکنې کې هغه "... از پشتون های فقیر" په نامه یادوي، په داسي حال کې چې هغه د اروابښاد سعادت خان مومند لور وه، چې ځلوښت کاله د مومندو خان او د برتانویانو سخت مخالف و.

د پاچا امان الله په وخت کې د کابل خلکو کې فکري بدلون راغلئ او مخ په پیاوړي کېدو و. د اروا ښاد مجروح په الفاظو (سرگذشت من، ۴۲-۴۳) " بعد از حصول استقلال در رفت و آمد به خارج زیادت قابل ملاحظه اي رخ داد، که این هم برای احیای شعور سیاسي عامل مهمي به شمار میرفت. ... اصطلاحات و لغات نو از زبان آنها شنیده میشد. منورین و مکتبیان عوض نام عشیره و قبیله، و بجای نام مسکن و ولدیت خود نام ملت و وطن را جانشین ساختند. افق نظر وسیعتر میشد." دوی کوښښ کاوه "... آزادی سیاسی بیشتر بوجود آید. حتی نام جمهوریت هم از زبانها میخاست، و الغای رژیم پاچاهی را قرار میدادند."

خو دغه "منورین" یوه وړه ډله خلک وه. دوی کابل ته منحصر او د پاچا تینګ پلویان وو. "(ادمک، ۱۳۸) لیکواله ستیورټ یوازي د جمهوریت غوښتونکو د نامه ذکر کوي. او غبار وایي (مسیر تاریخ، ۸۱۴) چې " در بین روشنفکران وطنپرست یکدسته عناصر مرموز بشکل یک حزب نقابدار و مصنوعی رخنه کرده. این نقابداران شارلتان در مرکز و شرق کشور جهت فریفتن مردم شعار های دروغین (انقلابي) میدادند، و ظاهرا از جمهوریت دم میزدند." له "حزب نقابدار" نه د غبار مطلب به د جمهوریت ګوند وي، چې د منشي علي احمد په وینا مشر یې محمد ولي، او غړي یې، د غلام صدیق څرخي په ګډون، یو څو لوړپوړي چارواکي وو. په دغه وخت کې له دغه ګوند نه پرته بل ګوند نه و. خو محمد ولي قومي او ولسي بنسټ نه لاره، او د کابل په تعلیم کړو منورو ډلو باندي یې له پاچا نه وروسته ډېر نفوذ لاره. د مشروطیت حرکت د مخه په افرادو وېشل شوئ و، او که کوم منظم جوړښت یې لاره، هغه له مینځ نه تللئ و. په پاسنیو رسمي کړیو کې وړې ډلې په اشخاصو څرخېدلې، او والي علي احمد هم جمهوریت غوښته، خو هغه ځانته ډنګوله.

د ډلو سرانو کوښښ کاوه له رسمي قدرت نه په استفادې سره خپلې ډلې پیاوړې کړي. غبار (۸۱۲) د بهسودو د یوه مشر، میر غلام صدیق، له قول نه وایي چې په کوهدامن کې چېرته چې والي علي احمد د تحقیق لپاره تللئ و، یوه شپه یې کلکاني حبیب الله او سید حسین ورته وپېژندل او وویل چې "... ما تا کنون سه برادر

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوديم؛ حالا چار برادر شديم»" د منشي علي احمد د ليکني له مخي، پاچا چې په سفر کې و، نائب السلطنه يې، محمد ولي په قلعه مراد بيگ کې، په خپل کور کې د حبيب الله کلکاني سره د شپې په پټه ليدل او ورته ويل چې که دی يې و بښي پاچا به يې ونه بښي. له حبيب الله کلکاني سره د همدغو کتنو له امله به وو چې محمد ولي د پاچا امان الله د وخت يوازي لوړ پوړئ چارواکئ و، چې د حبيب الله د امارت په وخت کې په کابل کې مامون اوسېده، په داسي حال کې چې څو نور لوړپوړي چارواکي، د محمدزي سردارانو په گډون، وځپل شول. لا عجبه داده چې د شاه اغا صديق مجددي په روايت د ۱۹۲۸ کال په نومبر کې د صاحبزاده عبدالله مجددي په کور کې کلکاني حبيب الله، له يو څو نورو مخورو، د حيات الله عزالدوله په گډون، د دغي يوې ناستي لپاره بلل شوئ و، چې د پاچا پر ضد پاڅون تحريک کړي. پاچا، د دوی په نظر، د شريعت خلاف شوئ و. په يوې مخکنۍ غونډه کې د پاچا مشر ورور، سردار عنايت الله هم گډون کړئ و، خو په دغې دوهمي غونډې کې يې د وعدې پرخلاف گډون ونه کړ. (۱۵) دغه روايت د يوې سرچشمي له مخې دئ او تائيد ته اړه لري. وروسته حبيب الله چې د سردار عنايت الله پاچايي ونه منله، دغه روايت يو څه قوي کوي. په هر حال، غلام صديق (څرخي) په خپل وار، له کابل نه د شينوارو دوه مشران خپل قوم ته واستول چې د پاچا پر ضد پاڅون تحريک کړي. د پاچا ضد دغه ورانکاري او کړه د يوې لړۍ پيل شو. په شلمې پېړۍ کې، د طالبانو د رجيم نه پرته، نور ټول حکومتونه د رقيبو لوړ پوړو چارواکو د ورانکاريو او کړو په نتيجه کې نسکور شوي دي.

د پاچا امان الله په وخت کې د ډلو مشران هم سره وران وو، او پاچا نه غوښته او يا يې نه شو کولی سره متحد يې کړي. د اروپا د سفر نه وروسته "... د هغه د وزيرانو تر مينځ بې اتفاقي رامينځ ته شوې وه." (عزيز هندي، ۲۱). د دغې بې اتفاقۍ دليل دا و چې پاچا د دې لپاره چې خپل انقلابي پروگرامونه په قوت پر مخ بوزي، لوړ قدرت ځانله منحصر کاوه. په دغه کار سره د وزيرانو صلاحيت لږېده له لويي جرگې نه وروسته سردار شېراحمد ته پاچا بلنه ورکړه چې، لومړی وزير يا صدراعظم وي، خو ټولو هغو، په تېره غلام صديق چې د هغه وزيران ونومول شول، ونه غوښتل چې د هغه تر لاس لاندي کار وکړي. ستيوړټ لا وايي (۴۰۰) چې " او پخپله امان الله د کابينې غړو هر ځانگړي وزير ته په پټه ته او مشوره ورکوله، چې [ د هغه تر لاس لاندي] له خدمت نه سر وغړوي." پاچا او سردار شېر احمد له اول نه سره وران و، لکه پاچا او والي علي احمد چې سره وران وو. پاچا په پای کې د سپتمبر پر ۲۲ مه څرگنده کړه چې، څرنگه چې ممکنه نه ده د کوم صدراعظم په مشري کابينه جوړه شي، نو دې لا هم د دولت او حکومت سروالي کوي. پاچا په دې ډول د صدارت مسئوليت ځان ته متوجه کړ، چې پايله يې ورته گرانه تمامه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ده په اخري حکومت کې د امنيتي چارو افسران دا وو: عبدالعزيز بارکزی د حرب وزير، محمود سامي د قول اردو قوماندان او عبدالاحد (مايار) داخله وزير. غلام صديق (څرخي) د باندنيو چارو وزير و. محمود طرزي، چې د تجربې خاوند او د پاچا رښتينئ خواخوږئ و، له نظرنه لوېدلئ و. په دې چې د پاچا مور د هغه د لور ياني ملکې ثريا سره مخالفه وه. د پاچا د کورنۍ دغه ستونزه تر اخيره پورې پاتې وه. خو پاچا ډاډه و چې د ستري جرګې له لارې، چې دی يې مؤسس و، د ولس له ملاتړ نه به بهره من او په اوضاع به حاکم وي. له همدې امله و، چې ده څرګنده کړې وه چې لويې جرګې به په منظم ډول کيږي، او چارې به د هغو په مشوره اجرا کيږي. دا چې د ده حکومت د پغمان د لويې جرګې د استازو بې سارې عزت وکړ، په دغه مقصد و چې په دوی کې به دغسې يوه پياوړې ډله هسکه شي چې "... د پاچا د نويو فکرونو هر ډول ننګه او ملاتړ وکړي."، خو هسې چې پاچا فکر کاوه هغسې ونه شول." سره له دې هم چا فکر نه کاوه چې " ... همدا وکيلان چې نن يې دغومره قدر کيږي، کله به چې ... خپلو کورو ته ستانه شي په هر ځای کي به د پاچا پر خلاف د الحاد او بې دينۍ تبليغ کوي." (عزيز هندي، ۲۲)

## د پاچا ضد تبليغونه او بغاوتونه

لويه جرګه لا پای ته نه وه رسېدلې، چې پاچا له غټو ستونزو سره مخ شو. غبار (۸۱۷) د نورو له قول نه هغه د "... حلقه مخصوص حضرات مجددي به شمول بعضي سرداران بزرګ و روحانيون مشهور" کار بولي. د غبار مطلب به د شاه اغا مجددي روايت وي چې بيان يې د مخه شوئ دئ. د قاضيانو د اعدام پايلې هم پاچا ته ګرانې تمامې شوې. دغه قصه د مخه د منشي علي احمد د روايت له مخې بيان شوئ. ليکواله ستيوړټ (۳۹۰-۳۹۳) د هغې بيان، په تفصيل خو په لږ تفاوت، کوي. دغه پېښه د ۱۹۲۸ کال د اګست مياشتې په اخرو کې ښيي، او شمېر يې هم نهه تنه، د پخواني ستر قاضي عبدالرحمن بېګتوتي په سروالي ښيي. هغه دا هم وايي چې د قاضيانو له اعدام نه وروسته ملايانو په لوګر، کوهدامن، کوهستان او کابل ښار کې پاچا ضد تبليغونو ته زور ورکړ، چې د هغو له امله شاوخوا لس تنه ملايان په کابل، نژدې لس تنه په خوست او شاوخوا پنځلس تنه په کوهستان کې بندي شول. د مؤلف فضل غني مجددي په وينا حتی "بعضي از وزرا و بزرګان دولت موقف امان الله خان را تائيد نکردند، مثل محمود طرزي، عبدالهادي خان وزير تجارت و عبدالرحمن لودي همه استعفاي خود را تقديم پادشاه کردند." (۱۲) په خلکو کې هم ويل کېدل، چې پاچا غواړي د کمال اتاترک په شان ملايان وځپي، شرع پرېږدي او د ملک نظام سيکولر کړي. داسې ښکاري چې د پاچا په کامپ کې د قاضيانو د اعدام په پايلو چا فکر نه دئ کړئ. دوي به په دې فکر وو، چې په دغو اعدامونو سره به د حکومت مخالفان عبرت واخلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پوه شي چې حکومت پیاوړئ او په اوضاع حاکم دئ، خو دوی دې ته ملتفت نه وو چې اوازې تر ډېره حده په نالوستې افغان ټولنه کې په ګړندي ډول خپرېږي او خلک پاروي، هغه هم چې د قاضیانو د مظلومیت په اړه وي. لیکواله ستیوړټ وایي چې "له کابل نه د باندي، په ولایتونو کې خلکو په ازاد ډول ویل چې پاچا به حتماً لېونی وي." (ستیوړټ، ۴۰۲)، خو په کابل کې حکومتي چارواکو د پاچا ملاتړ کاوه. دوی هغه پرمختګ ستایه چې پاچا ورته ملا تړلې وه، خو ویل کېده چې دوي غوږه مالان دي، او هغه څه وایي چې پاچا یې غواړي. خو دغه خلک هم د پاچا په اصلاحاتو زیانمن کېدل. پاچا کوښښ کاوه د دوي د هغو عوایدو مخه ونیسي چې په هغو سره یې اروپایي دریشی، ګاڼې او ګړندي موټرونه رانیول. په دې ډول پاچا له منورو ایډیالستي ځوانانو نه پرته رښتیني متحدان نه لرل، او خپل دریغ یې هم نه ټینګ کوه. "هغه نژدې یوازي و." (ستیوړټ، ۴۲۰)

## د شنوارو یاغي توب

په همدغه حال کې و چې شنواري د ۱۹۲۸ کال د نومبر په ۱۴ مه یاغي شول. دوی لا د مخه په اکتوبر کې هڅه کړې وه چې د هغو نجونو د تګ مخه ونیسي چې د جلال اباد- ډکې په لار ترکیې ته د زده کړې لپاره تللې، خو شنواري په دې کې بریالي نه شول. عزیز هندي وایي چې کشکي چې دوي بریالي شوي وای، چې په هغه حال کې ممکن پاچا پر ځای پاتي وای، چې دی یې اخلاصمن و. دی دا هم وایي چې د دغو نجونو ډېر پلرونه هم ناراض وو، چې لونې یې دباندي استولي کیږي او ویل کېده چې دوی د شنوارو لویان تحریک کړي وو. (عزیز هندي، ۲۴۳، ستیوړټ، ۴۱۳)

غبار (۸۱۸) د سنګو خېل شنوارو بغاوت د کوچیانو سره د هغو د یوې نښتې نتیجه ګڼي، چې په هغې کې څو تنه شنواري تلف شول، دوی قاتلان ونیول او حکومتي چارواکو ته یې و سپارل، خو هغو قاتلان خوشې کړل. او شنواري بیا د حکومت پر ضد جګ شول. ستیوړټ دغه پېښه د هغو د یاغیګرۍ نه څو ورځې وروسته ښیي، خو هغه د قاتلانو خوشي کېدل د بډو له امله ګڼي، او بیا وایي چې په دغه کار سره شنواري دومره وتوربدل، چې "د انتقام قانون" ته یې رجوع وکړه. (ستیوړټ، ۴۱۷). منشي علي احمد د شنوارو د یاغي توب مخکښان محمد افضل او محمد علم بولي، چې دواړه د سنګو خیل شنوارو مشران وو. دوی په دغه وخت کې په کابل کې وو. هلته غلام صدیق څرخي وهڅول چې خپل قوم و پاڅون ته و هڅوي. په شنوارو کې دوی خپلو قومیانو ته وویل چې "پرېکړه داده چې د دوی لوڼې به د زده کړې لپاره ترکیې ته واستولي شي، خو [مګرا] دا چې دوی د هرې یوې د معافي کېدولو په لار کي پنځه سوه روپۍ ولګوي" سنګو خېل د شنوارو د درو نورو څانګو- علي شېر خېل، سه پای او مندوزي- کې، تر ټولو مهمه څانګه وه، او په دغه وخت کې ملک محمد افضل او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملک محمد علم دغومره فعال وو، چې هم يې خپل قوم د پاچا پر ضد و لمسوه او وروسته يې د حبيب الله کلکاني په امارت کې په قومي او ملي سياست کې فعاله مخکښي وکړه. محمد افضل ليکل او لوستل هم کولی شول. لکه چې د مخه ويل شوئ، شنواري د عجب خان اپريدي په موضوع کې له حکومت نه د انتقام اخيستلو موقع ته سترګي په لار وو.

دوی سمدلاسه د ډکې او بټي کوټ لار بنده کړه او په اچين کي يې حکومتي مرکز چور کړ، او چارواکي يې بندي کړل. د جلال اباد اعلی حاکم پاچا له دغې پيښې نه په تليفون کې خبر کړ. پاچا ورته ډاډ ورکړ چې " دی الوتکي، پوځ او وسلې لري، او څنګه چې سلطنت يې په بين المللي بنسټ ولاړ دئ، دی د دغسي بغاوتونو پروا چندان نه کوي." (ستيوړټ، ۴۱۷) پاچا په عين حال کې اعلی حاکم ته هدايت وکړ، چې شنوارو ته دې يوه درې کسيزه جرګه واستوله شي، خو په هغې کي دې ملا، حضرت او سيد نه وي. اعلی حاکم همدغسي وکړل، خو په غني خېل کې هغه له اويا څخه ډېرو شنوارو چور کړه. په همدغه وخت کې نور شنواري هم له سنګوخېل سره يو ځای شول او ټولو په ګډه د پيش بولک په چوڼۍ بريد وکړ. سرتيرو د زړه مقاومت ونه کړ، او ياغيانو د هغو وسلې او د خزانې پيسې تر لاسه کړې. شنواري په دغه ډول د وسلو خاوندان شول.

حکومت بيا د لومړي ځل لپاره د نومبر په شلمه شنواري بمباري کړل. د الوتکو پيلوټان افغانان او شورويان وو. تبليغي پاڼې يې په شنوارو وغورځول شوی، چې په هغو کي يې دا د "علم او جهل" جګړه وبلله. (ستيوړټ، ۴۲۰)

پاچا په يوه کتنې کې د برتانوي هند سفير، همفريز، ته وويل، چې "شنواري زما د دښمنانو له خوا، چې ملايان دي، هڅول شوي دي، او دوی زما د اصلاحاتو په اړه غلطي اوازې خپروي." هغه ورته وويل چې "ملايان د خپل شته والي لپاره جنګيږي." او دا چې دغه بمباري د روسي پيلوټانو له خوا کيږي، خلک يې ناراضه کړي دي." همفريز بيا رډ ورته کړه چې په تاسي باندي د قومي خلکو له خوا د اسلام ضد تور لګول کيږي، او دا چې تاسي کسبي ملحدان ګمارئ چې ستاسي رعيت بمباري کړي، دغو تورونو ته اعتبار ورکوي." (ستيوړټ، ۴۲۰) غبار هم وايي، چې همفريز شاه ته وويل چې "... اعليحضرت تمام طبقات مردم را مخالف خويش ساخته. روحانيون، دهقان ها، تجار و عساکر همه از ريفورم های جديد و تزئيد ماليات ناراضي ګرديده اند." غبار دا هم وايي چې همفريز بيا مشوره ورکړه چې " ... شاه بايد با تمام قوا در صلح و اشتيې با رهبران شورش شنوار بکوشد تا اغتشاش در محل خود محدود بماند، ورنه اګر مهمند ها با اغتشاشيون پيوستند، خطر عظيم خواهد شد." (غبار، ۸۱۹). داسي ښکاري شوه چې څو ورځې وروسته دوو روسي پيلوټانو په افغان سرتيرو باندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سهو بمونه وغورځول، چي له امله يې د برش تنه تلف او ډېر نور ټپي شول.(ستېيوړټ، ۴۲۰) په دغه حال کې د جلال اباد ښار ساتنه مهمه شوه.

يو شمېر خوګياڼي د ښار د ساتني لپاره ورسېدل، خو نظامي قوماندان چې له کابل نه جلال اباد ته ورسېد، نه په هغو او نه په نورو ايله جاريو اعتماد درلود، چې د رضاکارو په نامه هلته رسيدلي وو. دغه قوماندان مومندو ته د وسلو وېش بند کړ، او په ښار کي يې نظامي حکومت اعلان کړ. په دغه وخت کې اوازې وې چې شنواري او مومندان غواړي چې په ښار ننوزي او چور يې کړي. د مومندو نفوذناک روحاني، د چکنور ملا، تر دغه وخته دوی ارام ساتلي وو، خو هغه له پاچا نه هم غوښتي و، چې خپل اصلاحي پروګرمونه ودروي. پاچا د هغه غوښتنه هم ونه منله. هغه بيا " شنواري وهڅول چې په ښار و دانګي، په دغه مقصد چي افغان حکومت د هغه غوښتني ومني." (ستېيوړټ، ۴۲۱) محمد ګل مومند له پاچا نه په تيليفون کې وغوښتل چي جلال اباد ته نور پوځ واستوي، او که نه دغه ښار به په ځو ورځو کي له لاسه ووزي. پاچا يو څه توپونه او وسلې جلال اباد ته واستول، خو قوماندان محمدګل مومند ته يې دا هم وويل، چې د دسمبر تر پايه پوري له شنوارو سره و نه جنګيږي. خو شنواري د نومبر په ۲۹ مه د کابل وره له لاري ښار ته ننوتل. ښار ته د ننوتلو د مخه له ښار نه دباندي ښوونځي سوځول شوي وو.

شنوارو بيا په يوې لس ماده ايزي څرګندونې کې د پاچا د ټولو اصلاحي پروګرمونو لغو کول وغوښتل او په پاچا يې هم د "کافر" حکم وکړ. په عين حال کې پنځوسو شنوارو په جلال اباد کې د برتانوي هند قونسلګري بنده کړه. قونسل محمد جهانګير هغو ته وويل چې دی او هيئت يې د پاچا د دولت مېلمانه دي، خو ځواب يې واورېد چي پاچا "کافر" دئ او ميلمانه يې د رعايت مستحق نه دي." شنوارو بيا قونسګري چور کړه، اور يې ورته واچوه، خو له چاروا کو سره يې غرض ونه کړ." (ادمک، ۱۳۹، ستېيوړټ، ۴۲۲). جلال اباد ته لويې لاري د ياغي توب له پيل نه بندي شوې وې.

دا به د همفريز د مشورې په اثر و، چي پاچا سردار شېراحمد او غلام صديق جلال اباد ته واستول، چي کشاله له ياغيانو سره د خبرو له لارې هواره کړي. شنوارو په درو ناستو کې (ډسمبر ۴،۳) خپلې غوښتې ورته وړاندي کړې. غوښتني يې دا وې، چې ټول ريفورمونه دي، د هشت نفري جلبي سيستم په ګډون لغو شي، نجوني دي له اروپا څخه بيرته راوغوښتلې شي، د ملايانو او سيدانو په چاروکې دې مداخله و نه شي: او د دوی پر ضد دي له انتقامي اقدام نه ډډه وشي.(ادمک، ۱۴۱). ستېيوړټ نورې غوښتني هم پرې اضافه کوي، چي ډيري مهمي يې دا وې، چي پاچا بايد خپله مېرمن "طلاقه کړي"، محمود طرزي بندي او کورنۍ يې له ملکه بېرون کړي. (ستېيوړټ، ۴۳۳). غبار (۸۲۰) لا دا هم وايي چې " درين ضمن سردار شيراحمد خان يک پيشنهاد بيست و يک

(c) ketabton.com: The Digital Library



فقره اي از طرف شنواري ها به کابل فرستاد ، که در طی آن عزل شاه، وليعهد و حکام و کابينه با اخراج محمود طرزي از افغانستان مطالبه شده بود." غبار ديو شمېر نورو مخورو افغان لويانو ذکر هم کوي، چې د سولې د خوندي کولو لپاره يې کوښښونه وکړل، خو په مقصد و نه رسېدل.

فيض محمد او عزيز هندي د دغه هيئت په ناکامۍ کې د هغه د سروالانو وتخريبي رول ته ګوته نيسي. د عزيز هندي په وينا سردار شيراحمد شنوارو ته اخطار ورکړ، چې "عبدالرحمن خان يوازې ستاسي له سرونو څخه منارونه جوړ کړي وو، خو زه به ستاسي خاوره هم په شنوارو کې پرې نه ږدم، او هغه به کابل ته يوسم." (عزيز هندي، ۲۵۲) د فيض محمد په وينا په جلال اباد باندې د شنوارو حمله د غلام صديق په لمسه وه، په دې ډول چې "غلام صديق خود را به متمردين دوست نموده ايشان را به بندي کردن خود و حمله بر شهر جلال اباد و شيراحمد خان نمودن ترغيب کرده."(فيض محمد ، انقلاب، ۱۷ ، ۳۳) غلام صديق په شنوارو باندې نفوذ لاره. ده لا د مخه د هغو دوه مشران د خپل قوم د پاڅولو لپاره لمسولي وو. دی د نوميالي اروابناد سپاه سالار غلام حيدر څرخي زوی و، چې هغه د امير عبدالرحمن په وخت کې د مشرقي د نظامي او ملکي چارو د اعلی حاکم په توګه له شنوارو سره په ښه چلند کې نوم ايستلئ و. خو له غلام صديق نه چې توقع کېدله، چې شنوار به ارام کړي، هغه دغه کار ونه کړ. په نتيجه کې د دوی هيئت په مقصد ونه رسېد ، او پاچا بيا د شنوارو د ارامولو لپاره د محمود ياور په مشري يوه نظامي قوه واستوله، خو دغه قوه له نملې نه اخوا تللی نه شوه، او په خپل ماموريت کې ناکامه شوه. پاچا له ناچارۍ خپل ماما زوی، ېخوانی والي علي احمد ، د تنظيمې رئيس په توګه د يوې نظامي قوې په قوماندانې هغې خوا ته واستوئ. دی تر ډېره حده په خپل ماموريت کې بريالی شو ، خو د ماموريت نتېجه يې لا معلومه نه وه، چې پاچا امان الله د حبيب الله کلکاني او ډلې له خوا له دغسې خطر سره مخامخ شو ، چې له پاچايي نه يې هم لاس واخيست. که څه هم پاچا د نوي کال د جنورۍ په پنځمه خپل اصلاحي پروګرامونه لغو اعلان کړي وو ، (ادمک، ۱۴۲) لکه چې خوست د ياغي توب په اخر کې يې هم د خپلو اصلاحاتو لغو اعلام کړي وه. خو دواړه يې هغه وخت اعلان کړل، چې وخت له وخته تېر و ، او مؤثر واقع نه شول.

## حبيب الله په نا ارام کوهدامن او سيد حسين په ناکرار کوهستان کې

د شنوارو بغاوت لا پای ته رسېدلئ نه و چې په کوهدامن کې کلکاني حبيب الله، چې په عامه ژبه په سقاو زوی يادېږي، د ډسمبر له دوهمي اونۍ نه وروسته، تر پخوا ډېر جدي شو ، او په دغه ډول حکومت له بل خطر سره مخ شو. دغه خطر که څه هم د شنوارو د خطر په اندازه غټ نه و خو ، کابل ته د نژدې والي له امله، تر هغه مهم کېدلی شو ، خو لکه څنګه چې وبه ليدل شي، حکومتي چارواکي دغې نکتې ته متوجه نه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حبيب الله چي په ۱۹۲۸ کي شاوخوا د څلوېښتو کلونو و، د کوهدامن د کلکان د کلي " ... يو معمولي بې وزلئ او نوم ورکئ سړی و." د ادمک د روايت (۱۴۳) له مخې د ده اوله نوکري په قلعه مراد بيګ کي د محمد ولي په کور کي وه. د يوه بل روايت له مخې د ده اوله نوکري د کوهدامن د ملک محسن په کور کي وه. حبيب الله په قطعه نمونه کې سرتېرئ شو. دغه قطعه د ترکيې د جمال پاشا د افغان پوځ لپاره د نمونې په توګه تنظيم شوې وه، خو هغه د خوست د پاڅون نه د مخه له مينځ نه تللې وه. عزيز هندي په دغه قطعه کې کپتان و. دی وايي چې حبيب الله يوه ورځ له اجازې نه پرته کورته ته، چي د ده او د پيره دارانو تر مينځ نښته وشوه. حبيب الله د پيره دار په توپک سره هغه وواژه، او ياغي شو، او پېښور ته و تښتېد. هلته يې يو کال د چايو دوکان و چلوه. بيا پاړه چنار ته لاړ، خو هلته يې د غلا په تور يوولس مياشتې په بند کې تيري کړې، او چې له بند نه خلاص شو د منګلو په بغاوت کې يې د حکومت پر ضد برخه واخيسته. يو څو سرتېري يې ووژل او بيا يې په خپلي سيمې، کوهدامن، کې په داړه مارۍ شروع وکړه، خو فيض محمد (۱۴) وايي چې حبيب الله له اول نه له غريبۍ نه غلا ته ملا تړلې وه. دی په قطعه نمونه کې د هغه نوکري هم نه يادوي، خو په پېښور او توتګي کې د هغه له ستونمن ژوند نه غږيږي.

حبيب الله چې کوهدامن ته ستون شو، له يوه عادي غله نه زيات نه و. د چاريکارو سيد حسين تر هغه خطرناک داړه مار و. دی د مخه د يوې ښځې په قضيه کې د دوو کسو د وژولو له امله فرار او ياغي شوئ و. دی د شتو خاوند و. " خلک له هغه څخه ډېر ډارېدل او هغه په دومره زړه ورتيا چي د خپلو څو تنو ملګرو سره به ښارونو ته ننوت او له لوټمارۍ وروسته به بيرته تلو، او چا د هغه سره د مقابلې توان نه لاره."(عزيز هندي، ۳۲۹) د سيد حسين په لاس کي به هر وخت توپانچه وه، او چي به په چا په غوسه شو، سمدلاسه به يې پرې فير کاوه. د حبيب الله او سيد حسين په داړه ماري سره کوهدامن او کوهستان نا ارامي سيمي شوې.

حبيب الله کوهدامن ته تر راتللو وروسته د فيض محمد (۱۵) په وينا " ترک اقامت در خانه و لانه خود گفته، با چند تن دوستاني که با او همراز و انباز بودند، شب به جاي و روز به جاي... گذرانيده، از غلبه جوع اقدام در سرقت و اکل مال حرام و ريختن خون ضعفای انام نموده، و رفته رفته به علاقه دار و حاکم کوهدامن و کوهستان به دادن حصه مال از مردم يار گرديده از خوف دستگير شدن ايمن و مطمئن گشت." فيض محمد دا هم وايي چې " حتی محمد ولي خان... با او عهد امان جان در بين نهاده و پول و تفنگ و فشنگ داده، اسوده خاطرش ساخت." مؤلف سيد رسول هم وايي چې " محمد ولي با اين ناز و نعمت او [ امان الله] با بچه سقاو همدست بوده و به او کمک مينمود."(۱۷) پخپله محمد ولي "هم د دغه داړه مار له دغه داړه مار [حبيب الله] سره تماس نيول منلئ، خو هغه دا هم ويلي چي ده دا کار د امان الله په خبرتيا او امرونو سره کړئ دئ.." (ستيوړټ، ۵۷۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستیوریټ (۴۳۵) له غریبانو سره د حبیب الله له سخاوت نه هم غږیږي او وایي چي په دغه سخاوت سره " هغه ځان له غله نه وچت کړ." هغې حبیب الله حتی د انګلستان د رابن هوډ په قطار کې هم ودروه، چي شته من به یې لوټول، او له بې وزلو سره به یې مرسته کوله. غبار وایي چې " ... بچه سقا نیز در کاپیسا و پروان دسته دزدي فراهم کرد و به سرقت و قطع طریق پرداخت: او شبها دزدي میکرد و روزها در کوه ها متواري میگردید، و دستگیري او برای پولیس محل مشکل میگردید. ساحه فعالیت او انقدر وسیع شد که حتی اگر شبی با دسته خود به خانه وارد میشد، صاحب خانه، از ترس جان، خاموشانه او را تغذیه میکرد و به حکومت اطلاعی نمیداد. کار او به جایي رسید که مقداري پول از خزانه مزار به کابل مي امد، و همینکه بچه سقا شنید، راه را گرفت و پول را ربود، و تعقیب حکومت محل به جایي نرسید."(غبار، ۸۲۱) ډېره موده نه وه تېره شوې چي حبیب الله او سید حسین دغومره زړه ور شول چي " حتی بر بازرگانان کابل که مال التجاره، از قبیل پوست قره قل و قالین و اجناس روسي از ترکستان حمل و در کابل نقل میدادند، پول حواله کرده و ایشان مکتوب حواله او را به حکومت نموده، از بیم اینکه مال تجارت ایشان را از عرض راه نچاپند، ناچار پول همی دادند و حکومت به دستجات قشون سواره و پیاده عزم تعقیب و گرفتاری انها نکرده، تا که نیرو در بازو یافته، و جنگ ها در بین حکومت و ایشان واقع گشته، که چند تن به قتل رسیده، بدست نیافتادند."(فیض محمد، ۱۵ غبار (۸۲۱) وایي چي " در قوس که اتش اغتشاش ننگرهار تیز شد، حکومت محل ملک محسن و چند نفري را به سبب امداد به بچه سقا محبوسا به کابل اعزام نمود. متعاقبا دولت، احمد علي خان، رئیس بلدیه کابل، را به حیث رئیس تنظیمه کاپیسا و پروان با اختیارات تامه اعزام کرد، تا از پشت سر مطمئن بوده به اطفای شورش ننگرهار پرداخته بتواند."

احمد علي لودین په خپل دغه ماموریت کې د جرګې لار ونیوله، لکه سردار شیراحمد چې د مخه په ننګرهار کې له شنوارو سره نیولې وه. اول یې له حکومت نه وغوښتل هغه بندیان ازاد کړي چې له حبیب الله سره یې د مرستې کولو له امله نیولي وو، بیا یې د کاپیسا او پروان له مشرانو سره جرګه وکړه. د جرګې فیصله دا شوه چې له حبیب الله سره دې پوهاوی وشي. په عین حال کې دوی ومنله چې "... در جلب قوه های محلي به دولت خدمت نماید." لودین وروسته له هغه چې له مرکز نه یې صلاحیت تر لاسه کړ، له شخص حبیب الله او سید حسین سره په باغ عاروق کې جرګه شو. هلته یې " ...عهدنامه و انهم در حاشیه قران با دو نفر مذکور امضا کرد. دربن معاهده بچه سقا قبول کرد که از مخالفت با دولت و شرارت دست بکشد. در مقابل دولت تعهد نمود که جرایم بچه سقا و سید حسین را عفو نماید." لودین بیا د حرب وزیر نه په تلیفون کې وغوښتل چې " ...هشتاد و دو تفنګ و کارتوس با معاش و رتبه غوند مشري به هردو نفر، بچه سقا و سید حسین داده شود." (فیض محمد، ۱۲ غبار ۸۲۱) په دې ډول دغو داړه مارانو، چې د قانون او شریعت پر خلاف خپل وطنوال وژلي او امنیت یې ګډوډ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړئ وو، سمله لاسه د ډسمبر په ۱۲مه د دغسي رسمي حيثيت او رسمي مقامونو خاوندان شول چي پخپله به هم ورته حيران وو. حبيب الله کلکاني يو غريب، نالوستئ کليوال و، خو ساده نه و. د سفر او بندي توب کړاونو، او د ژوند نورو ترخو تجربو د هغه عقلي قوه پياوړې کړې وه، چي په دې فکر کي شو، چي پاچا کوم هغه سلوک چي له ګوډ ملا عبدالله سره کړئ و، ممکن له ده سره هم هغسي وکړي، او له مينځ نه يې يوسي. د فيض محمد په الفاظو " ملا عبدالله با جمعي از بانيان فساد بعهد امان الله خان و سوگند قران در کابل امده به ياسارسيد." (فيض محمد، ۳۲) حبيب الله د دې لپاره چي دی هم د ګوډ ملا په شان له مينځ نه يوړل نه شي، په سرای خواجه کې د احمد علي لودين په نامه له شخص پاچا سره په تليفون کې وغږېد، چي د ځان په اړه د پاچا امان الله په نيت پوه شي. دغه تليفوني مکالمه د مخه په تفصيل سره بيان شوې ده، کومي تليفوني مکالمې چي په ټول افغان ولس او په خاص ډول پخپله په پاچا امان الله ژور اثر کړئ، همدا مکالمه وه، خو پاچا په هغه وخت کې هغه په جدي ډول په نظر کې ونه نيوله.

پاچا د شنوارو د ځپلو لپاره له ټول افغانستان نه ايله جاري يا قومي مليشياوي وغوښتې- له لوګر، پکتيا نه (منګل، ځدران، ځاځي، ځمکني، مقبل، وزير او احمدزيو) نه، له ميدان، وردګ، غزني او بهسودو څخه، له پنجشير، نجراب، تګاو، ريزه کوهستان او غوربند نه، له پغمان، چاردهي نه، له مزار، قندهار، هرات او قطغن نه يې احتياطي او نظامي پوځ هم وغوښته. (فيض محمد، ۱۸) خو دا يوه پروسه وه چي وخت، تنظيم او وسله وال کېدل يې غوښتل. د منظم پوځ پرخلاف چي هم وسله وال او هم د کسبي افسرانو تر قومندې لاندي په لږ وخت کي د جنګ ډګر ته استول کېدی شي. حکومت به د مشرقي په غير شنواري قومونو او خلکو اعتبار نه لاره، چي د هغوی ايله جاري يې نه وه غوښتي، سره له دې چي هغه په کم وخت او نسبتاً لږ لګښت سره تنظيم کېدلای او د شنوارو پرخلاف استول کېدلای شو. ډېره مهمه لا دا ده چي، په کابل کې به لا منظم پوځ لږ و، چي حکومت دغسي لوی کار ته لاس واچاوه. په کابل کې چي منظم پوځ هر څومره و، زياتره برخه يې ننګرهار ته استول شوې وه. ستيوړټ په دغه وخت کې د کابل پوځ يو نيم زر ښيي. (ستيوړټ، ۴۳۸) نور ليکوالان په کابل کې په دغه وخت کې د پوځ د شمېر په اړه يا چوب دي، يا وايي چي کابل له پوځ نه خالي و.

مهمه دا هم ده چي د حرب وزارت چارواکي او په سرکې يې پخپله وزير، سردار عبدالعزيز، دغسي کسان نه وو چي په دغسي اضطراري حال او غېر عادي ژمي کي د راتلونکو ايله جاريو تنظيم وکولی شي. مليشياوو ته له ډېرمه تونو نه وسلې ورکول کېدې، خو مشران يې د نامه او تجربې خاوندان نه وو. يوازې د احمدزيو د ايله جاري مشر مالوم و، چي هغه مير غوث الدين و. د ښار او چاردهي خلکو ته د هغو د کلانترو له لارې وسلې ورکړل شوې. ايله جاريو په کابل کي په پرله پسې راتګ سره دا سي حال جوړ کړئ وو، لکه په کابل کي چي حکومت نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له بلي خوا له تيليفوني مکالمې نه وروسته حبيب الله ته خبره د مرګ او ژوند وه. فکر به يې کاوه چې تر هغو چې امان الله په واک کې وي دې په افغانستان کې ژوندی پاتې کېدلی نه شي. خو له دې وروسته د پېښو په اړه ليکنې سره توپير لري. د بېلګې په ډول، فيض محمد (۱۸) وايي چې حبيب الله او سيد حسين دواړو په ګډه اول چاريکار ونيوه، او بيا يې احمد علي په جبل سراج کې له اتلسو ورځو محاصرې نه وروسته تسليمېدو ته اړ کړ او " احمد علي خان (با عده اي) از سواران نظام شاهي و پياده به تخليه ارګ جبل سراج رضا داده و عهد امان جان خود با ايشان در ميان نهاده، قلعه و قورخانه و خزانه راکه در انجا بود با هژده ضرب توپ ماشينګن و قلعه شکن و مقداري از تفنګ به ياغيان تسليم نموده، راه فرار جانب کابل را پيمود، و دزدان از تصرف اين ارګ پادشاهي مکنتي از پول نقد و اسلحه بدست اورده زيادتر دلير و جسور شده، عزم حمله و يورش بر کابل جزم کردند." خو ليکوال عزيز هندي وايي چې دا يوازې سيد حسين و، چې د چاريکارو له نيولو نه وروسته يې جبل سراج کلابند او بيا يې حبيب الله پرې خبر کړ، او له هغه وروسته و چې حبيب الله په کابل د حملې تکل وکړ. فيض محمد، په خپل پورته بيان کې، تېر وتلئ دئ. په بل ځای کې دی هم، د ستېيوړتې په شان، په کابل باندې د حبيب الله بري د قوس ۲۲، ۱۳۰۷ (ډسمبر ۲۲، ۱۹۲۸) ښيي او پر دې برسېره په هغو دوولسو ورځو کې، چې دی په کابل کې په نښتو اخته و، سيد حسين هلته نه و، که څه هم حبيب الله پېغامونه ورته استولي وو.

## پر کابل باندې د حبيب الله بريد

<u>حبيب الله پخوا له دې چې په کابل ورد مخه</u> شي، د فيض محمد په وينا (۱۹) د يو شو ملايانو او خانانو له خوا د امير په توګه وپېژندل شو، په دې ډول چې "... ملايان بعيد از ديانت... به اظهار اينکه بدون امير حمله بر کابل شرعاً بلا جواز، و اگر کسي کشته شود خونش هدر و در نزد داور بي نياز مردود است، نماز جمعه را با خطبه امارت به نام حبيب الله خواند. راه مدعا برگرفتند." غبار هم وايي (۸۲۲) چې در همين تاريخ [۲۰ قوس] يکدسته خان و دزد در قلعه ملا ويس الدين (کلکان) شبانه اجتماع کرده و بچه سقا را به عنوان (پادشاه افغانستان) شناختند و دستاري بر سرش بستند." خو د عزيز هندي په روايت (۴۰۱ مخ) حبيب الله له يرغل نه وروسته په کومې نښتې کې " په کوهدامن کې د خپل امارت اعلان کړئ او هري خوا ته يې خپل حاکمان او کارکوونکي ټاکلي او لېږلي وو." حبيب الله وروسته تر هغه د ملايانو په مشوره دا کار وکړ، چې سيد حسين ونه غوښته چې امير شي. هغه فکر نه کاوه چې دوی حکومت نسکورولی شي. د امير او پاچا لقبونه په مينځ کې سره توپير لري، او حبيب الله به دلته امير نومول شوئ وي، ځکه چې کله چې دی په واک شو، د امير لقب يې غوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړ. د حملې د نېټې او د حبیب الله د ملګرو د شمېر په اړه هم اختلاف دئ، او د ستیوړټ د یرغل نېټه سمه ښکاري، چې هغه د ډسمبر ۱۴مه ده.

د حیرانۍ ځای لا دا دئ چې حکومت هغه وخت خبر شو چې یرغلګر د کابل ښار ته ننوتل. دوي د ښار په ګډوډ حال کي ناري وهلې، چې غواړي له شنوارو سره د حکومت په ملاتړ وجنګیږي. دوی د غبار په روایت تر دري سوه، او د عزیز هندي په روایت شاوخوا یونیم سل تنه وو. فیض محمد د هغو ټول شمېر شاوخوا دوه زره ګڼي، خو په دوی کې یوازي دوه سوه وسله وال او نور یې پښې لوڅې روان وو. فیض محمد دا هم وایي چې د یرغلګرو لومړنی، چټک پرمختګ، د حکومت له نه اماده توب نه برسېره، دا هم و چې "... وزرای خاین و حضرت شور بازار و سردار محمد عثمان و بزرگان کابل و محمد ولي خان... و غیره راکه به ایشان اطمینان و وقت حمله را نشان داده بودند." (فیض محمد، ۱۹ مخ) عزیز هندي (۳۵۲، **۳۵۷** مخ) د شمالي د یوه مشر، حاجي عبد الرحمن، د زوی له قول نه وایي چې دی په هغه مجلس کې حاضر و، چې حبیب الله په کابل باندي د یرغل تجویز کاوه، او ده دغه خبر په تکلیف سره پخپله د حرب وزیر، سردار عبدالعزیز، ته ورسوه، خو هغه ورته اهمیت ورنه کړ او پاچا یې هم پرې خبر نه کړ. د عزیز هندي په وینا " د هغه زړه او فکر ټول د دولت [پیسو] په ټولولو پسې و او دا دولت په هماغه اندازه زیات را ټولېدای شو، څومره چې پاڅون اوږدېده." دا سره له دې چې ده دغومره شته ټول کړي وو، چې یوازي "... د هغه د اسونو د اوخور ورځنی لګښت یونیم سل روپۍ وې." د عزیز هندي په نظر دا سردار عبدالعزیز و چې د پاچا امان الله "... افغاني حکومت یې د سقاو زوی لاس ته وسپاره." (عزیز هندي، **۳۵۸** ) د پاچا امان الله د حرب وزیر، سردار عبدالعزیز، د ولسمشر محمد داود د ملي دفاع وزیر، سردار غلام حیدر رسولي را یادوي چې په خپلي بې کفایتۍ او ځانله د خاص اجندا په تعقیب سره د جمهوري نظام نسکورېدل ممکن کړل.

په کابل باندي د حبیب الله کلکاني او ملګرو یرغل عزیز هندي، تر نورو لیکوالانو، اوږد بیان کړئ دئ. دی د ډیرو پیښو مشاهد و، او وروسته د حبیب الله د یوه ملګري روایت بیانوي چې "... د سقاو زوی نیت دا و چې، ښار ته له ننوتلو سره سم داسې مشهوره کړي چې د خپلو ملګرو سره د پاچا کومک ته راغلئ دئ، او په دې ترتیب د کوم ځنډ پرته هغه نېغ په نېغه ارګ ته ننوځي او پاچا ونیسي."(عزیز هندي، **۳۵۹** مخ ) حبیب الله به دغه تاکتیک ځکه غوره کړئ و، چې حکومت ټوله توجه شنوارو ته اړولې وه، او کابل یې نژدې له پوځ نه خالي کړئ و. او پاچا د حبیب الله له خوا ښار په خطر کې نه لیده. دا چې حبیب الله د ډسمبر په ۱۴مه (جمعه، د قوس ۲۲، ۱۳۰۷) بې له کوم غټ مانع، ځان له خپلو ملګرو سره ارګ ته نژدې ورسوه، په دې اړه ټول لیکوالان موافق دي، خو هر یوه دغه پېښه په بېل ډول بیان کړې ده. عزیز هندي (**۳۵۸**) تعجب کوي چې حبیب الله دي کابل ته "... یوازي د یو څو تنو په مرسته راشي او هیڅوک یې مخه و نه شي نیولای. ان تر دې چې هغه د انګریزي سفارت له

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپاهیانو څخه هم وسله واخلي او د ځان له طرفه هلته محافظان ودروي او بیا هم د حربیې وزارت ورباندي خبر نه وي، او نور پرمختګ هم وکړي او د پوځي ښوونځي له سرتېرو څخه توپک او وسلې واخلي او تر دې وخته هم د حربیې وزارت په خوب ویده وي." غبار د عزیز هندي د مطلب اصلي ټکی تائیدوي، خو هغه دا هم وايي چې (مخ ۸۲۲) " در وقت پیشین همین روز (۲۲ قوس) وزارت حربیه مطلع شد که بچه سقا نزدیک کابل رسیده است. چون کابل را قبلا از عسکر منظم تخلیه کرده بودند ، پس بناچار معین وزارت حربیه (حبیب الله خان) با یک عده کوچک رو به راه شمال حرکت کرد. یک دسته پولیس هم به گردنه (اسمايي) صعود و تولی گارد شاهي به استقامت (کلوله پشته) مارش نمود ، ولي بچه سقا تا ان وقت داخل سرک شهر ارای کابل شده، مستقیما ارګ شاهي را هدف قرار داده بود."

دا د نظامیانو یو ور ټولی و، چې په ټینګ عزم یې سقاویان، د حربیې وزارت له امر نه پرته په شا ووهل. غبار وايي (مخ ۸۲۲) چې " ... هژده نفر شاګردان تعلیمګاه سواري از باغ نزدیک (شهر ارا)، جلو سریع بچه سقا را ګرفتند." خو د عزیز هندي به روایت (۳۲۱ مخ) " ... د شاهیو رساله" د " حربیې وزارت د امر رسېدلو نه پرته، له سقاویانو سره په جګړه پیل وکړ، او د سقاویانو د زیاتېدونکي سیلاو مخه یې د ښار د دروازې مخکې ونیوله." فیض محمد وايي (۱۹ مخ) " دسته ظابطان سواري... به دفاع برخاسته، ایشان را از دخول شهر باز داشتند." سقاویان بیا یو ځای بل ځای په شا کېدل. په شهر ارا کې یې لږ څه توختنه او دفاع وکړه او بیا باغ بالا او شاوخوا ځایونو ته په شا شول. خو د دوی ناڅاپي حمله او چټک پرمختګ، که څه هم د لنډ وخت د پاره و، د امنیتي چاروا کو او په واقعیت کې پخپله د حکومت حتی د پایتخت په خوندي ساتلو کې بې کفایتي وښووله. او حکومتي اعتبار ته یې سخت زیان ورساوه. ښاریانو او د چاردې (چارده) خلکو چې د فیض محمد په روایت پنځوس زره توپک او پریمانه کارتوسونه له حکومت نه تر لاسه کړي وو، د خپلو کورونو ساتنه کوله اوله دوی نه لږو کسانو له حکومت سره همکاري وکړه.

لا مهمه دا ده چې د فیض محمد په روایت (مخ ۲۰) " ... حتی بعضي از مردم وزیري، منګل و احمدزي سپاهیان امیر امان الله خان را از کوه اسمايي هدف ګلوله کرده، از جمله غلام غوث [الدین]... افزون از سه صد میل تفنګ را که به دست اورده بود، با خود در خوست برده، خلاف دولت برخاست." ارګ ته له کوم نژدې ځای څخه د پاچا نائب، محمد ولي، او بیا د حرب وزیر، سردار عبدالعزیز، هر یو توپک په لاس په داسې حال کې چې تر شا یې سرتیري وو، په منډه روان شول. له هغه وروسته و، چې توپونو په ډزو او الوتکو د سقاویانو پر ځایونو بمباري شروع کړه، په دغه وخت کې د غبار په وینا (مخ ۸۲۳) " بچه سقا از کوه کافر و نه برجه و باغ بالا تا کوتل خیرخانه موضع ګرفته و تقویه شده میرفت. در حالیکه دولت در شهرارا و قلعه بلند و کلوله پشته و تپه شیرپور، شکل دفاعي اختیار کرده بود."

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حملې په دربېمه ورځ چې ټاک او ټوک کېده، او حکومتي نظم له مینځ نه تللئ و، برتانوي چارواکي هم له بد امنۍ نه اندېښمن شول؛ که څه هم حبیب الله هغوی ته ډاډ ورکړئ و، چې له دوی سره به غرض ونه شي. په همدغه وخت کې یوه اکتشافي الوتکه د ښار په فضا کې را ښکاره شوه، او په پښتو او فارسي کې یې پاڼې وشیندلې، چې په هغو کې د افغان- برتانیې د دوستۍ په اړه ډېر څه ویل شوي وو، په عین حال کې یې اخطار هم ورکړئ و چې، که د دوی سفارت ته تاوان واوښت، دوی به انتقام واخلي. په دغه کار سره هم خلک او هم حکومتي چارواکي په غوسه شول، او دغه عمل یې د افغان خپلواکۍ پر خلاف عمل وګاڼه. خو برتانویانو دغه عمل ځکه وکړ، چې وېرېدل چې په دغه ګډوډۍ کې، چې حکومت یې ساتنه نه شي کولی، ممکن په دوی هغه څه وشي چې په لومړي افغان-انګلیس جنګ کې، په مکناټن او په دوهم جنګ کې په کوګناري شوئ وو. دوی، چې د برتانیې سیاسي استازي وو، په دغو جنګونو کې وژل شوي وو. شنوارو خو په جلال اباد کې د دوی قونسلګري چور کړې او سوځولې وه.

ډېره دردناکه پېښه د ارګ په اوسېدونکو باندي د یرغل هیبتناک اثر و، چې ماشومان یې په ژړا او انګولا کړل، او پاچا مور یې دغومره ووېروله چې د ارګ محافظان او د شاهي رسالې سرتیري یې پرې نه ښوول چې له دوی نه لیري شي. پخپله پاچا یې هم تر دې حده په غوسه کړئ و، چې خپل وزیران یې ملامتول چې له حالاتو نه یې بې خبره ساتلئ و. دی چې یو زړه ور شخص و، څو ځله یې وغوښتل چې پخپله د جګړې ډګر ته ورشي خو "... هر ځل به سرونه د هغه پښو ته ټیټ شول او په ډېر منت او زاریو او ژړاګانو به یې له ارګ څخه له وتلو منع کړ." (عزیز هندي، ۳۲۲) خو پېښو په پاچا سخت اثر وکړ. په نتیجه کې د قومونو د نه همکاري او "... بي وفایي مردم کابل و چاردهي... یاس به او روي داده، مادر و زوجه و پسران کوچک خویش را با تمام جواهرات دولتي در روز چارم حمله حبیب الله و سید حسین به سواري طیاره به قندهار فرستاد." (فیض محمد، ص ۲۰)، خو عزیز هندي وایي (مخ ۳۷۱- ۳۷۸) چې "... په دې موده کې د سقاو زوي مرستي ته نه پخپله سید حسین راغئ، او نه یې کومه مرسته راولېږله."، خو د سقاویانو په ځایونو باندي د توپونو ګولۍ او له الوتکو نه بمونه غورځېدل، چې له امله یې د یرغل په پنځمه یا شپږمه ورځ د حبیب الله او ملګرو زړه ورتیا له مینځ نه لاړه. بې وسلې کسان یې په شا شول او پاتې یې په "زیات شمېر یا ژوبل یا مړه شول."

دوی چې د کلوله پشته او باغ بالا له سلاح کوټونو نه پرېمانه وسلې تر لاسه کړې وې، ښه جنګېدل. حتی هغه وخت چې حبیب الله په باغ بالا کې پټ و، په شراپنل یا چرې سره په اوږه ولګېد، او ټپي شو، بیا هم جنګېده، او د خپلو ملګرو معنویات یې لوړول.(عزیز هندي، ۳۷۳، فیض محمد، ۲۰) په پای کې د یرغل په لسمه یا یوولسمه ورځ ټول یرغلګر په شا شول، اول له نو برجه کلا او بیا له باغ بالا او شاوخوا ځایونو څخه. په دغه ډول حکومتیان په یرغلګرو غالب شول، او د کابل ښار یې د هغو له خطر نه وژغوره. په همدغه وخت کې و

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د ترکيې جنرال، کاظم پاشا د جنګي چارو د تنظيم لپاره کابل ته ورسېد. واضحه ده چې د حکومتي چارواکو او په سر کې د وزير عبدالعزيز ستره غلطي دا وه چې د کابل د ښار د دفاع لپاره يې کافي قوه نه وه پرې ايښې، او حبيب الله او ملګرو ته يې اسانه کړه چې په زړه ورتيا او مهارت له دغه حال نه استفاده وکړي. په اصل کې دا د پاچا امان الله غلطي وه، چې د نيکه او پلار پوځ يې کم کړئ، د دغه فکر له مخې چې دا د قلم وخت دئ، نه د توري، که څه هم د ده دغه بېځايه شعار د خوست ياغيانو د مخه باطل کړئ و.

حبيب الله او ملګري يې چې کوهدامن ته په شا شول، کوهدامنيان او کوهستانيان يې ناراض وليدل. البته روحانيونو يې د پخوا په شان د حکومت پر ضد تبليغ کاوه، او پخپله پاچا يې "کافر" باله او خلک يې جهاد ته بلل، خو خانان، ملکان او عام خلک يې حيران وو چې څه ډول چلند غوره کړي. عزيز هندي يوازنی ليکوال دئ چې په دې اړه يې اوږده ليکنه کړې. دی وايي (عزيز هندي، ۳۹۴-۳۹۲) چې وروستي له دواړو نه په وېره کې وو او دغه وېره پکي عامه وه چې " د حکومت پوځونه به د سقاو زوي په تعقيب شي، او څنګه چې دی غل او لوټمار دئ، وبه تښتي او په غرونو کې به ځان پټ کړي او بدنامي به په دوی راځي." بيا نو د دغو "... سيمو زيات اوسېدونکي له خپلو سيمو څخه" نجراو، پنجشير او نورو سيمو ته کډه وکړه." ځيني يې په دې فکر هم وو چې څه وخت "... د حکومت پوځونه د شمال سيمو ته ننوځي، هغوی به په يوه ترتيب د سقاو زوی او د هغه ملګري ونيسي او حکومت ته به يې وسپاري." عزيز هندي بيا وايي چې "که په دې وخت کي د حکومت پوځونه د شمالي سيمي حدودو ته ننوتلي وای، نو د سقاو زوی له مينځ نه تلل ضروري و."

خو حکومت په سقاويانو باندي خپل بری تعقيب نه کړ. پر ځای يې تبليغي پاڼي وشيندلې، او له توپونو او بمونو څخه يې کار واخيست، او له پوځ نه يې کار وا نه خيست او له تبليغي پاڼو نه، چې له الوتکو نه خپرېدلې" ... داسي ښکارېده چې دولت د شمال ټول اوسېدونکي د دغه پاڅون مسئول ګڼي، او ډېر زر به پوځونه هلته وليږي." ځنګه چي عام وګړي نالوستي وو، مغرضانو "... اوازې خپرولې چې پاچا خپلو پوځونو ته د دوی د عامې وژنې امر کړئ دئ." حکومت ضد تبليغونه او اوازې عامي شوې، او وېره ډېره شوه. د حبيب الله ملګرو، روحانيونو او نورو "فساد غوښتونکو" له دغه حال نه په استفادې سره د حبيب الله د امارت موضوع پورته کړه. عزيز هندي وايي چې په دغه وخت کي و چې حبيب الله په کوهدامن کي، د پورته کسانو له خوا امير غوره شو. د امارت وړانديز اول سيد حسين ته شوئ و، خو هغه و نه مانه، ځکه چې هغه "... هيڅکله په دې ايمان نه لاره چې د حکومت په قدرت باندي دي بريالی شي." (عزيز هندي، ۴۰۰) بيا نو حبيب الله په "... جبر سره په خلکو خپله سلطه ټينګوله، او له خلکو څخه يې سرتيري په زور را ټولول."

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دغو ټولو انکشافاتو په وړاندي د حکومت ځواب دا شو چي "... له کابل څخه يې د ليري ويشتونکو توپونو خولې له امتياز نه پرته د دې ياغي خلکو خواته کړې، او په کلای مراد بيګ باندي يې ګولۍ واورولې." په دوهمې اونۍ کي يې هوايي بمبارۍ هم پيل کړئ. په دې ډول په دغو بمباريو او ګوليو سره بې شماره عادي کسان تلف شول، په تېره وروسته له هغه چي شديدې شوې. په دغه حال کي ډېر په دې فکر شول چي د حکومت په بري کي "د دوی بربادي ده." بيا هم ډېرو خلکو له حکومت سره د جنګ پر ځای هجرت ته دوام ورکړ، خو "... د دوی خانان او مخور کسان له خپلو لښکرو سره تر پايه پوري د سقاو د زوی مرستي ته رانغلل." کوم کسان چې له حبيب الله سره ملګري شول، هغه بې وزلي وو، چي مقصد يې لوټماري وه، نه جنګ. دوی ته "... په دې ډول د ډوډۍ پيدا کولو يوه ښه لاره برابره شوې وه." (عزيز هندی، ۴۰۲-۴۰۵)

## د کابل ښار استحکامات او د پاچا ناڅاپي استعفی

غبار وايي (مخ ۸۲۴) چي حبيب الله او ملګري يې د ډسمبر په ۲۵مه له کابل نه په شا شول، له هغه وروسته "... تقريبا دوازده هزار عسکر منظم و غير منظم در سرتاسر خط کوتل خير خانه و غيره حصص تمرکز يافت و اشغال قطعي کاپيسا و پروان محتمل گرديد." خو دی دا هم وايي چي د عالي مرکز د نشته والي يا سبوتاژ له امله د مارش امر و نه شو، او دغه جبهه په دفاعي حالت کي پاتې شوه. د فيض محمد په وينا (مخ ۲۱) دغه جبهه په منظم پوځ او ايله جاري سره وار په وار پياوړې کېدله او په قلعه مراد بيګ او نورو برخو کي د کوهدامنيانو پر ځايونو ګوزارونه کېدل، خو ګټه يې نه کوله. عزيز هندي د دغه وخت پيښي په تفصيل ذکر کړي، چي لنډيز يې دا کيږي، چي د ترکي جنرال، کاظم پاشا په تجويز د کابل په جنوب لويديځ او شمال لويديځ کي دفاعي کرښي جوړي شوې اود منظم او غېرمنظم پوځ کابو دوه ويشت زره پوځ ځای پر ځای شو، او د هر محاذ قومنداني د يوه جرنيل په غاړه شوه. باغ بالا د جبهې د مرکز په شان مظبوط شو او په لوړو غونډيو او د الوتکو د ډګر په لوړو ځايونو کې توپونه ودرول شول، او د کابل امنيت په دې ډول ونيول شو. پوځ ته هم د پرمختګ امر ورکړل شو، او قومانده يې هم سور جرنېل محمد عمر ته وسپارله شوه. دی چي يو زړه ور قومندان و، زيړ، ظالم اوبډي خور هم و، چي له امله يې څو ځله بندي شوئ، خو د ضرورت په حال کي به سملاسه ازاد او وظيفه به وروسپارله شوه، لکه اوس چي همدغسي وشول.

دا چي د جنرال محمد عمر تر لاس لاندي قوه څومره وه، مالومه نه ده، خو هغه د ټول پوځ يوه برخه وه، چي له کابل نه يې لس ميله ليري يو څو کلي ونيول، او د کلای مرادبيګ د څوکو په هغه خوا کي يې مورچې جوړې کړې او هغه يې خپل مرکز وټاکه. ده مهمات راټول کړل، د دې لپاره چي په سيمې کي د ننه ور د مخه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو ده یوه غټه ستونزه هم لرله، او هغه دا چي د ده په پوځ کې د ځدرانو او منګلو جنګیالي د خپلو مشرانو تر قوماندې لاندي وو، دغه مشران د خوست په جنګ کې له ده سره دغومره وران شوي وو، چي له هغه " سره یې خبري څه لاندي باندي کولې، تر څو خبره زور ته ورسېده او له دواړو خواوو څخه څو تنه ژوبل [شول] او پخپله سور جرنېل هم په پښې په ګولۍ ولګېد. او هغه له میدان څخه د خپلي خېمې په خوا په شا شو. ډېر زر دا اوازه په رضا کارانو او پوځ کي خپره شوه، او د جګړې په لومړئ لیکه کي یوه عامه نا ارامي پیدا شوه." له کابل نه د پاچا نایب محمد ولي سمله لاسه دلته ځان ورسوه او د منګلو په غوسه شوي مشران یې ارام کړل، خو د سور جرنېل په پوځ باندي د ۱۹۲۹ کال د جنوري په ۱۳ مه شپه یو ناڅاپي برید له حد نه ډېر اثرناک ثابت شو.

په هغه " ... شپه د سقاو زوی ورور، حمید الله، پنځوس تنو ... د څلورو خواوو څخه یې د شبخون تکل وکړ. او د دې غلچکي برید هدف یوازي دا و، چي سرکاري پوځ او رضاکاران یوڅه وارخطا کړي." خو، " همدا چي غلچکي برید پیل شو [ د سرکاري پوځ] یوه برخه په دې فکر شوه چي د کوهستان لښکر، چي د راټولېدو اوازې یې خپرې وې، ناڅاپي یرغل کړئ دئ، او یوې بلې برخي داسي فکر کاوه چي قبایلي لښکر د سهار پېښنه یو ځل بیا راپورته او توده کړې ده، او پوځونه یې چي د سختو سړو له امله په خپلو خېمو کې دننه پراته وو، په ډېره وارخطایي له خېمو نه راووتل، او کله چي یې ولیدله چي له څلورو خواوو نه ګولۍ اورېږي، نو جرئت یې له لاسه ورکړ او د شپې په دې وېروونکې تیاره کي چي هري خواته هڅه وکړه، په هماغه خوا وتښتېدل."(عزیز هندي، ۴۱۴) په دې ډول حبیب الله او ملګرو ته یې د سرکاري پوځ ټول توپک، ماشیندار او توپونه په لاس ورغلل، او دوی ځانونه کابل ته نږدې ورسول. خود کابل دفاعي ترتیبات، لکه چي د مخه ویل شوئ، دغومره پیاوړي وو، چي حبیب الله او ملګرو ته یې د کابل نیول ممکن نه و.

خو چي "د دې مخکینۍ کلا (کمر بند) د ماتېدلو خبر غازي امان الله ته په هماغه نیمه شپه ورسېده... د هغه په افغانستان باندي د راتلونکي حکومت د ټینګېدلو ټولي هیلي له مینځ نه ولاړې." (عزیز هندي، مخ ۴۱۷) تراجیدي یوازي دا هم نه ده. یاغي شنواري د پاچا د پاره غټه اندېښنه وه. د فیض محمد په ژبه (۲۱، ۱۰۸ مخونه) د ننګرهار د تنظیمې رئیس، سردار علي احمد، " به طمع امارت با خامه خدیعت و فریب به امان الله خان نوشت که: ۲۳ هزار کس از شنواري و غیره جانب کابل به راه افتادند، اطلاعاً عرض شد. و این مکتوب او به امان الله خان رسیده موجب هراس او گشت." فیض محمد بیا لیکي چي پاچا "... هم به فراست دریافت که وزرای غدار و خیانت کارش او را دست بسته به حبیب الله خان خواهند سپرد، ناچار ترک سلطنت نموده، فرار اختیار کرد که گویا فرارش از همان مکتوب علي احمد خان به روی کار آمده."(فیض محمد، ص ۱۵۸) په بل ځای کې فیض محمد د پاچا عزم په دې ډول یادوي: " از بي وفایي قشون نظامي و قومي و اهالي شهر کابل و چار دهي...

(c) ketabton.com: The Digital Library



امیر امان الله خان را از حصول ظفر مایوس ساخته در خوف و رعب گرفتن و به پسر سقا سپردن انداختند." (فیض محمد، ۱۵۸- ۲۱۰)

په دې ډول پاچا د مقاومت روحیه له لاسه ورکړه. که څه هم د کابل استحکام پیاوړی، پوځ پر ځای، او وسلې پرېمانه وې، د توپونو او څو جنګي الوتکو په ګډون. پاچا په هماغه نیمه شپه کې، بې له دې چې له چا سره مشوره وکړي، خپل مشر ورور معین السلطنه سردار عنایت الله، که څه هم د واکمنۍ شوقي نه و، راضي کړ چې د ده پر ځای پاچا وي. دی بیا د سهار پر نهو بجو د ۱۹۲۹ کال د جنوري په ۱۴مه له محمود طرزي، دباندنیو چارو وزیرغلام صدیق، د دربار وزیرمحمد یعقوب، او داخله وزیر عبدالاحد (مایار) سره په موټرونو کې د کندهار په لور روان شو.(فیض محمد، ص ۲۱، ستیوړټ، ۴۲۹ مخ) عزیز هندي د پاچا امان الله د دغه سفر ربړونه هم یادوي، چې هغه د پرله پسې واوري اورېدولو له امله، د جدي سخت ساړه او په پاچایي موټرونو کې د کافي تېل نشته والئ وو، خو څنګه چې پاچا په "ډیرو باوري کسانو هم ډاډ له لاسه ورکړئ و" خپل قیمتي وخت ضایع نه کړ او له لږو تېلو سره هم د کندهار په لور روان شو. په لار کې یې د تیلو د یوه ټانکر نه تېل تر لاسه کړل، خو د غزني او مقر تر مینځ، له لنډو وقفو نه پرته، د پرله پسې واوري اورېدلو له امله سړک د موټرو د تللو نه و، تر څو چې هغه د خلکو په مرسته د موټر تللو وړ شو. (عزیز هندي، ۴۲۲-۴۲۵ مخونه) ستېوړټ لا وایي چې امان الله د خپلو ملګرو سره څلور ساعته پیاده مزل وکړ، چې مقر ته ورسېد، او اوښئ (اخښئ) یې، محمد حسن، له کندهار نه له څو موټرو سره راغئ او بیا دوی ټول کندهار ته لاړل. دغه ټول سفر ۳۲ ساعته ونیول.

د امان الله له ګوښه کېدو نه وروسته درې مهمې پېښې وشوې: د ننګرهار د تنظیمې رئیس، سردار علي احمد، د پاچایي اعلان وکړ، خو په دغه کار کې پاتي راغئ او حتی مجبور شو، د ځان ژغورنې په مقصد میدان ترک کړي، او په ډیرو تکلیفونو سره پېښور ته لاړ شي. بله پېښه، چې ممکن افغانستان او افغانانو ته سخته تمامه شوې وای، د غلام نبي په تش په نامه سروالي د شوروي اتحاد د زر کسیز پوځ له مزار نه پر شا کېدل و، چې کابل ته د تګ په حال کې و. دغه موضوع په افغان لیکوالو کې اروا ښاد خلیل الله خلیلي، په افغانستان باندې د شوروي اتحاد لومړی یرغل په نامه کتابګوټي کې کښلې وه. په دې وخت کې په مسکو کې د برتانیې سفیر، برېټ وېټ (Braith Waite) په خپل اثر کې، چې د روسیې د رسمي پاڼو پر بنسټ یې کښلئ، لیکي چې" روسانو د ۱۹۲۹ کال په پسرلي کې په افغانستان یرغل وکړ، چې امان الله په خپل لړزېدلي تخت، بیرته کښېنوي. ستالین شاوخوا زر کسان، په افغان یونیفورم کې، د خپل پخواني نظامي اتاشې، پرېماکوف، په قوماندانې چې ترکي یونیفورم یې اغوستئ و، افغانستان ته واستول. هغو مزار او بلخ له سختو جګړو وروسته ونیوه، خو د محلي خلکو خواخوږي یې زر له لاسه ورکړه، او ستالین چې خبر شو، امان الله تښتېدلئ، هغه یې بیرته وغوښتل."(۱۸) ستیوړټ دغه پېښه په یو څه تغیر، خو په اوږده ډول، بیان کړې، او ویلي چې دغه انتخابي

(c) ketabton.com: The Digital Library



قوه له شاوخوا اتو سوو کسانو ځخه جوړه شوې وه، د یو څو الوتکو په ګډون دغه قوه د مې د میاشتې په اولو کې یانې د حبیب الله کلکانې د امارت په مهال افغانستان ته واستول شوه، او ستالین چې هغه بیرته وغوښتله، غلام نبي بیا هم له خپلو افغان جنګیالیو سره تر بامیان پورې د مخه ولاړ، او بیا په شا شو. (ستیوړټ، ۵۲۱)

داچې دغه قوه د پاچا امان الله په غوښتنه استول شوې وه، معلومه نه ده. ستیوړټ وایي چې دا په مسکو کې د افغانستان د وخت سفیر، غلام نبي ( څرخي )، او وروریې، د باندنیو چارو وزیرغلام صدیق ( څرخي ) کار وو. وروستی چې د دوو میاشتو لپاره مسکو ته تللئ و، هلته یې له خپل ورور سره په ګډه دباندنیو چارو کمیسار او د اسیا په چارو کې د هغه مرستیال، کاراخان، نه وغوښتل چې له امان الله خان سره د بیرته واکمن کېدلو په لار کې مرسته وکړي. له هغه وروسته و، چې د شوروي اتحاد سیاسي بېرو (پولیټ بېرو یا سیاسي دفتر) دغه فیصله وکړه. دا چې دغه مرسته دې په څه ډول وي، په دې اړه دواړه وروڼه، جنرال پریماکوف او ستالین سره، چې د شوروي اتحاد ستر واکمن وو، وغږېدل او دغه قوه په هغه ډول واستول شوه چې پورته یې بیان وشو. (ستیوړټ، مخ ۵۲۱) مالومه نه ده چې د شوروي اتحاد دغه پوځ دغو وروڼو پخپل سر بللئ و، یا یې د پاچا امان الله په هدایت غوښتئ و. دا ویل کیدی شي چې غلام صدیق به له کندهار نه د پاچا امان الله په امر تللئ وي. دا چې ستالین دغه قوه افغانستان ته استولې وه، د تعجب وړ ښکاري. ده چې د قدرت ګټلو په لار کې خپل رقیبان ځپلي و، په دې پیل کړئ و چې د ننه په شوروي اتحاد کې سوشلیزم عملي کړي. د دې مانا دا کېدله چې دی به نورو هیوادونو ته د انقلاب له صادرلو نه ډډه کوي، په داسې حال کې چې د ده ستر مغلوب رقیب، لیون تراتسکي، معتقد و چې د "اکتوبر انقلاب" د ساتلو لپاره دې په نورو هیوادونو کې دایمي انقلاب وهڅول شي. هغه دغومره انقلابي وو، چې ویل یې څوک چې په شلمې پېړۍ کې پیدا شوئ، او انقلابي نه وي، سهوه کړې ده.

عجبه لا داده چې د پاچا له ګوښه کېدلو نه درې ورځې وروسته، یانې د جنوري په ۱۷مه حبیب الله کلکاني، بېله دې چې جګړه یې کړې وي، په ارګ مسلط شو. سردار عنایت الله له درو ورځو پاچایي نه وروسته، د خپلې کورنۍ او ځینو لوړپوړو چارواکو سره په برتانوي الوتکه کې پېښور ته ځان خوندي وایست، او حبیب الله ځان خادم دین رسول الله ونوموه او په واکمنۍ پیل وکړ، چې د کورني جنګ په حال کې یې نهه میاشتې دوام وکړ، او بیا، د جنرال محمد نادر په سروالي، د یحیی خېل کورنۍ په واک شوه.

امان الله په کندهار کې د دوهم مستعفي پاچا، عنایت الله، او دریېم مستعفي پاچا، علي احمد، له یوځای کېدو نه وروسته، بیرته د پاچا کېدلو حرکت پیل کړ. د کندهار خلکو ورسره خواخوږي وښووله، خو د جنګي مېړو په ورکولو کې زړه نا زړه وو، او امان الله چې هغو ته وویل، دی به د مېړو جلبولو لپاره هرات ته لاړ شي، کندهاریو بیا شاوخوا څوارلس زره مړونه ورته تنظیم کړل. ده بیا هلته یو نوئ حکومت تنظیم کړ، او له نوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



قومي پوځ سره د ۱۹۲۹ د مارچ میاشتي په ۲۵مه د کابل په لور روان شو، او په غزني کې له دوو زرو نه زيات هزاره مېړونه د ملاتړ لپاره ورسره یوځای شول. خو په غزني کې دی له خطرونو سره مخ شو. لومړی خطر د امير حبيب الله د پوځيانو له خوا و، چي ډېر ليري نه و. دو ته بل خطر د سليمان خېل او اندړ پونده قومونو له خوا و، چي د موسمي کډوالي په لړ کې له هند نه غزني ته رسېدلي و، او دوی د شيراغا مجددي له خوا د پاچا پر ضد لمسول شوي و. مجددي چي کلونه د مخه د پاچا امان الله سره د هغه د ريفورمونو په سر له افغانستان څخه وتلئ او په دېره اسماعيل خان کې دېره و، دغه پونده قومونه د هغه مريدان و. په پونده قومونو کې سليمان خېل شتمن او د وسلو خاوندان وو. خو د دوی توپکونو کافي کارتوسونه نه درلودل. حبيب الله چي په کابل د دوی له دغه حال نه خبر شو "... وزارت حربيه را فرمان کرد که از هر رقم فشنگ که به تفنگ های انها راست بيايد صندوق های زيادي را فوراً حمل و نقل داده، به انها برسانند." (فيض محمد، مخ ۹۷) د پاچا پوځ چې يو ځای بل ځای په ښتوکي برى موندلئ و، په ښه حال کې و. په همدغه حال کې و چي يوه ملا چي غوښتل يې ځان پاچا ته، د عرض کولو په پلمه، ورسوي، او په تبرګي يې ووژني، سمدلاسه ونيول شو، او ووژل شو. په کابل کي نوي امير د خپل ورور، حميد الله او د کابل والي، محمد محسن، د ظلمونو له امله له مخالفتونو سره مخ شوي و، که څه هم دوی تبليغ کاوه چي پاچا امان الله د اسلام له دائرې نه بيرون شوئ دئ. تر دغه وخت پوري وردګو د نوي امير د پوځ څو حملې په بري سره شنډې کړي وې. داخله وزير عبدالاحد (مايار وردګ) پاچا ته مشوره ورکړه چي د وردګو په لار په کابل ور د مخه شي، خو پاچا د خپل اوښي[اخښي]، محمد محسن، په مشوره وروسته له هغه چي يو شمېر کندهاريو د جنګ ميدان پرې ايښئ او د کندهار په لور روان شوي و، د مې په ۲۳مه ناڅاپه د کندهار په لور مخ په شا شو. دوی لا په داخله وزير هم شکمن شول چي غوښتل يې په دغه ډول دی د امير حبيب الله پوځ ته په لاس ورشي. (ستيوړټ، مخ ۵۲۵) د کندهار ښار ته نژدې چيرته په کوم ځای کي د هغه ټوله کورنۍ - ۲۷ تنه نارينه، ۳۵ ښځي او ماشومان او درې نوکران په څو موټرونو کې ورسره يوځای شول، او ټول په ګډه کوټي ته ولاړل، چي هغه په برتانوي هند کي حسابېدله. پاچا بيا له خپلي کورنۍ سره بمبيي ته کډه وکړه او له هغه ښار نه په کښتۍ کې ايټاليې ته لاړ، او د ژوند تر پايه پوري هلته استوګن شو، تر څو په کال ۱۹۲۱ کي وفات شو، او مړئ يې د افغانستان د جلال اباد په ښار کې د پلار تر څنګه خاورو ته وسپارل شو.

## پاچا امان الله او د هغه لس کلنه واکمني

د پاچا امان الله لس کلنه واکمني، د پېښو د نظر نه، ډېره شتمنه ده. هغومره چي دی په افغانانو کې ياديږي، پلار او نيکه يې نه ياديږي، که څه هم د هغو د هر يوه د واکمنۍ موده، د ده تر مودې ډېره اوږده وه، او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیکه یې امیر عبدالرحمن خان لا د معاصر افغانستان د دوهمي دورې مؤسس دئ، سره له دې هم د پاچا امان الله د واکمنۍ په اړه تر اوسه کوم جامع، افاقي او انتقادي اثر کښل شوئ نه دئ. د دغسي اثر د نشته والي له امله به و، چې وروستيو سمون پالو واکمنو ډلو، د محمد داود د صدارت له دورې پرته، غټې تېر وتني وکړې او افغان ولس ته يې ډېر زيانونه ورسول.

د پاچا امان الله د واکمنۍ په اړه د عزيز هندي، فيض محمد، او غبار، او تر څه حده د لودويک ادمک، او ريه ستيوړټ ليکني ډېري مهمي دي، خو جامعي نه دي. اروانباد غبار ته مي يوه ورځ ياده کړه چي له تانه توقع کېدله چې، د پاچا امان الله په اړه دې جامعه ليکنه کړې واى، خو هغه خبره هسي تېره کړه. په اصل کي له پاچا امان الله سره بېعدالتي شوې ده. کلونه کلونه د هغه نوم نه اخېستل کېده، او دارالامان يې په نوي کابل واړول شو. خو په افغانستان کې نوي په واک شوي کورنۍ، له پخوانۍ واکمني کورنۍ سره همدغسي بې عدالتي ګانې کړې دي. نو د پاچا امان الله په اړه نه دا چي بحثونه ونه شول، انتقادي بحثونه هم پرې ونه شول، او په اړه يې سطحي او ناسم ذهنيت خپور شو او پاچا امان الله او واکمني يې هغسي چي وه ونه پېژندل شوه. خو دی اوس هم مخالفان او پلويان لري، او په اړه يې احساسات پارېږي. په دې وروستيو کې لا ويب سايټي نېشنلستان د هغه د سر پرېکړو په شان سلوک کوي. دا به له دې امله هم وي، چي افغان کلتور په اصل کې په يو کرښه ييز فکر بنا دئ: يا نيکي يا بدي، غندنه يا ستاينه، کفر يا اسلام، سپين يا تور او داسي نور. دا به د اوستا (Avista) په حواله د سپتامه (Spitama) ته منسوب د اوښبه، زردښت، فکري ميراث وي چي نړۍ يې د دوه ګوني مفکورې، يا د اهورا مزدا (د نيکۍ خداى) او اهريمن (د بدۍ خداى) په نامه وېشلې وه. (۱۹) د زردښت عقيدوي فکرونه د اټکل مخزيږدي شپږمي پېړۍ نه د اسلام تر خپرېدو پوري په افغانستان او پارس کې مروج وو. سپتامه د پښتنو يوه څانګه وه چي ډېر نامتو اتل يې سپتامتنر و، او هغه څه کم دوه کاله له مقدوني سکندر سره په اريانه او سغديانه کې وجنګېد.

په افغانستان کي د رسمي پاڼو د ارشيف نشته والی هم د تاريخي موضوعاتو په اړه د متوازنو او افاقي اثارو ليکل مشکل کړي دي. اوس خو د يوه کرښه ايز کلتور جذمي توب په اثر، د دين په نامه حيرانوونکي عملونه، ليکني او تلقينونه کيږي. له نيکه مرغه په دې وروستيو کې، د نويو تعليم کړو، ازادي پالو په هسکېدلو سره په افغانانو کې انتقادي روحيه ټوکېدلې، او هيله کيږي، چې وروسته به څو کرښه ايز فکر د دغه منحط يو کرښه ايز کلتور ځاى ونيسي او د متوازنو او انتقادي ليکنو دپاره به ډګر هوار شي. دغه حال به بيا د فرد، ډلي او ټولني د پېژندلو په لار کي غټه مرسته کړې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس به په دې اړه خاصې خبرې وشي، چې پاچا امان الله خپله واکمني له لاسه ورکړه، په داسې حال کې چې دی په ۱۹۱۹کې د دغسې افغانستان واکمن شو ،چې ټينګ مرکزي حکومت او قوي پوځ يې لاره، او په خزانه کې يې شاوخوا ۱۵۰ ميليونه روپۍ موجودې وې. پاچا امان الله د پوره خپلواکۍ په ګټلو سره، په ولس کې د منلي توب هسکې ته ورسېد ، خو لس کاله وروسته ده ځان مجبور وليد چې له خپلې کورنۍ سره له افغانستان نه د تل لپاره ووزي، هغه وطن چې ده يې په اړه ويل چې "از خدمت به وطن بالاتر عشقي ندارم."

د پاچا امان الله اوله غټه ناکامي په منځنۍ اسيا کې وه، چې هلته يې په ملکي جامو کې سرتيري واستول او ډيري پيسې يې ولګولې، په دې هيله، چې د انور پاشا او محمود طرزي د تجويز له مخې دى به د يوه اسلامې کانفډريشن مشر وي په منځنۍ اسيا کې د لومړي نړيوال جنګ په ختم سره، او د تزاري امپراتورۍ په پاشل کېدو سره سياسي تشيا او ګډوډي مسلطه شوې وه. هلته افغانانو په اول کې ښه پرمختګ وکړ، او په ډيرو سيمو کې، په تېره بيا په مرو کې يې نفوذ خپور شو، خو په مسکو کې چې د بولشويکي نوی حکومت ټينګ شو، او د مسکو-تاشکند رېلوې بيرته چالانه شوه ، نوي حکومت واکمني هلته جاري کړه شو، دا د پاچا د اجندا پای شو، او خبرداری هم ورته ورکړل شو، چې له سيمې نه په شا شي. امان الله همدغسې وکړل، خو شورويانو سره له دې هم افغانستان ته د پنجده د سپارلو وعده پر ځای نه کړه. د دواړو دوستي پر ځای وه، خو په منځنۍ اسيا کې د حکومت ټول کوښښونه او لګښتونه بابېزه شول.

د پاچا امان الله ډېره غټه ناکامي په ۱۹۲۴ کې د خوست ياغي توب وو. غبار يې علت دا ګڼې چې "... دهقانها و مردم خوست که از سوی اداره و فشار مامورين دولت ناراض بوده و از تبليغ عمدي (قانون ناسخ مذهب است)، فريب خورد ، و زير پرچم خان و ملا قرار گرفته بودند ، به استقامت لوګر حرکت کردند" (غبار، ۷۹۸). فيض محمد (۱۴) هم د چارواکو ناوړۍ چلند او بډې اخيستلو ته ګوته نيسي، خو دی دهغه نږدې او مشخص علت د حاکم امرالدين په هغه امر کېويني چې د منګلو د يوې ښځې په دعوه کې فيصله د هغه چا په ګټه شوې وه چې ښځه پرې ولاړه وه. قاضي ملا عبدالله د دعوې هغه بله خوا نيسي، چې دغه ښځه په وړکتوب کې د هغه په نامه شوې وه. دلته د حکومت د اصلاحاتو په لړ کې، د ښځو په اړه نوئ قانون له مروج دود سره په ټکر کې و، او ملا عبدالله دغه دود د شريعت له مخې د اجرا وړ ګاڼه. هغه "... بر حاکم اعتراض اعراض از شرع مطهر کرده، حاکم به ترديد و تنقيد فقيه او وقعي ننهاده، ګفتارش را به ګوش قبول جای نه داد." دی بيا وايي، چې "ملا عبدالله که مترصد افروختن فساد بود ، فرصت يافته اقدام در ايقاذ نايره کينه و عناد نموده و مدعي ملزم را تحريک و ترغيب به ننګ افغاني بودن در نزد ملکان و قبايل کرده، خود نيز دامن زن اتش فتنه ګشت و نائره قتال را حسب الزام خويش در اشتعال اورده و تمامت قبايل سمت جنوبي از تبليغات و تحريکات ملا

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالله لنگ که ابراز تائید دین مبین و تنویر شرع متین مي نمود ، و مردم را وعده بهشت میداد ، رشته محاربت را با دولت تا یک سال و دو ماه امتداد دادند."

ځیني کسان د خوست په یاغي توب کي د پخواني امیر ، محمد یعقوب د کنیزي د زوی، عبدالکریم، لاس ویني او وایي چي هغه له هندوستان نه منګل ته راغئ، او د ځان د امیر کېدلو لپاره یې دغه یاغي توب تحریک کړ. خو دوی فکر نه کوي، چې دغه یاغیګري د ۱۹۲۴ د مارچ په کومه نېټه یاني هغه وخت شوئ و، چي هوا یوڅه توده شوې وه او عبدالکریم د اګست د میاشتې په کومه ورځ، یاني شپږ یا اوه میاشتي وروسته منګلو ته راغلئ، او دغې یاغیګرۍ دغه وخت خپله تودوخې له لاسه ورکړې وه، او د هغه راتګ لا په یاغیانو منفي اغېزه وکړه، او دی بیا بیرته هند ته په شا شو ، او د هند حکومت هغه برما ته تبعید کړ، او هلته یې هم تر ځارنې لاندي ونیوه، او هغه بیا ځان وواژه. په یوه بل روایت هغه کوم بل افغان وواژه. عجبه ده چي څوک د نامتو غازي محمد ایوب هغه زوی نه یادوي چې، چي د دغي یاغي ګرۍ په وخت کي یې ځان وزیرستان ته ورسوه، خو څه یې له لاسه و نه شول.

د خوست تراژیدي افغانستان ته ګرانه تمامه شوه. د فیض محمد په روایت له دواړو خواوو څخه څوارلس زره کسان له مینځه لاړل. یو اته سوه کسیز کندېک چي له ځوانو رضاکارو افغانانو نه جوړ و، ټول له مینځه لاړ. او حکومت ته دېرش میلیونه روپۍ تاوان واوښت. ټول اصلاحات چي تر دغه وخت پوري شوي وو، لغو شول. دغه لویه تراجیدي د پاچا امان الله لپاره د عبرت درس کېدلی شو ، خو هغه ترېنه زده کړه و نه کړه، او څلور کاله وروسته په ۱۹۲۸ کي یې د لومړۍ دورې تر اصلاحاتو نه په کراتو ډېرو پاروونکو اصلاحاتو پیل وکړ، چي نږدې ټول یې په افغانانو باندي په حکومتي زور د اروپایې ژوند طرز او دودونو تحمیل وو، چي پای یې بیاهم د افغانانو وژل کېدل، د پاچایي نظام نسکورېدل، او له وطن نه د تل لپاره پخپله د پاچا او د هغه د کورنۍ وتل شول. د معاصر افغانستان په تاریخ کې دا یوه بېسارې او دردناکه تراجیدي وه. په دغو ټولو پیښو کې پخپله د پاچا رول محوري و، چي په هغه به زر ورږغېږم.

ایا په پورته پیښو کي برتانویانو لاس درلود؟ په هغه وخت کې په عام ډول، او اوس هم تر یوه حده، عامه ذهنیت د برتانویانو، یا په عامه ژبه د انګرېزیانو، پر ضد و. حتی اوس هم چې په دغې سیمه کي نه توقع کېدونکي پېښه وشي، ویل کېږي چي هغه د انګرېزانو کار دئ، لکه چې د شوروي اتحاد د یرغل په وخت کې ویل کېده چي د افغانستان له لاندي کولو څخه د هغو مطلب دا دئ چي، ځان تودو اوبو ته ورسوي. په اصل کي دغه فکر څه کم درې پېړۍ دمخه د تزاري روسیې سروال، لوی پیتر، وړاندې کړئ و، خو له هغه وخت نه تر اوسه په سیمي کي دغومره ژور انکشافات شوي دي، چي دغه فکر یې بې معنی کړئ دئ. د افغان طالبانو د هسکېدلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وخت کې حتی ګلبدین حکمتیار لا ویلي و چې دوی د انګرېزانو په تحریک راولاړ شوي دي. افغانان لکه چې په عمومي ډول په تحول او تغییر قانع نه دي. په هر حال، پاچا امان الله د خپلو خلکو د انګلیس-ضد ذهنیت نه خبر و، او یو وخت بل وخت یې له دغه ذهنیت په پلوي په برتانیه انتقادونه کول، خو هغه له خپلو اکي ګټلو نه وروسته د هغو پر ضد عمل کړئ نه دئ، حتی د هغو په ګټه یې ډېر کارونه هم کړي، چې په د مخه پاڼو کې یې ذکر شوئ دئ.

فیض محمد، سره له دې چې د برتانویانو مخالف تاریخپوه و، لا یو څه په زیږه ژبه، د پاچا امان الله د وخت په پیښو کې د انګلیسانو د لاس لرلو فکر په دغه ډول ردوي: "... هر حادثه و داهیه سیاسي را که در داخل افغانستان و سرحدات شرقي و شمالي آن از جهالت و وحشت ملت و سو کردار و رفتار و فشار و انزجار دولت و حکومت به روی روز افتاده و مي افتد، از اثرات اعمال قبیحه خود ندانسته، حمل بر تحریص دولت انګلیس مي نمایند." (فیض محمد، ص۳۱) پخپله امان الله هم د خپلي ناکامۍ پړه په خپلو وطنوالو اچوي، نه په بل چا. په بمبیي کي چي دی اروپا ته د تګ په لار کې تم شوئ و، د پښتنو لوی مشر پاچا خان ورته ځان ورسوه، او ورته وې ویل چې د دې لپاره چې په افغانستان کي د جنګ مخه ونیول شي، ته بیا د مخه شه او د سرحد [پښتونخوا] پښتانه به دي ملا په ټینګه وتړي. خو هغه صاف ورته کړه چې "بس زما کار ختم شو. ما لس کاله د دې قوم خدمت وکړ. په دې لسو کالو کې ما په وخت ډوډۍ نه ده خوړلې، د سحر نه مې تر ماښام کار کړئ، د خپلې ښځې او زامنو نه خبر نه وم. د شپې به بیا د دوی په فکر کې وم، چې دوی به څنګه ترقي وکړي. د دوی په صله کې زه قوم قادیاني او کافر کړم." پروفیسر ډاکټر وقارعلي شاه کاکا خېل چې د ۱۹۲۸ او ۱۹۲۹کلونو د پښتون مجلې د لیکنو پر بنسټ د پاچا امان الله په اړه لیکنه تهیه کړې، دغې نتیجې ته رسېدلئ چې : "زه تر قیامته پوري د دې خبري منلو ته تیار نه یم چې د افغانستان انقلاب د بیروني سیاست د مکارۍ نتیجه ده." (۲۰). له "انقلاب" نه مانا د حکومت بدلون دئ. په اول کې انقلاب په دغه مفهوم یادېده. عامه افغانان اوس هم "سقاو زوی انقلاب" وایي. لیکوال عزیز هندي هم د انګرېزانو د لاسوهنې په اړه اوږده لیکنه لري چې په پای کې وایي چې "مورږ به په هیڅ ډول په انګریزانو دا تور نه شو لګولای چې د افغانستان د ۱۹۲۹ کال په پاڅون کې یو ډول د هغو لاس وو." (عزیز هندي، ۵۲۳) دبرتانویانو د لاس وهني په اړه د نامتو انګلیس، لارنس، نوم هم راوړل کیږي، چې هغه په لومړي نړیوال جنګ کي عربان د عثماني امپراتوري په وړاندي په بري سره هڅولي وو، د پاچا امان الله په اړه پښتانه هم لمسولي دي. خو د دغې وینا مدعیان دې ته متوجه نه دي چې هغه د مکرم شاه په بدل نامه د ۱۹۲۸ کال له مې نه وروسته په کراچي او میران شاه کي د برتانیې فضایي قوه کي خدمت کاوه، حکومت یې هغه د ۱۹۲۹ کال په جنوري کې په بېړه انګلستان ته واستوه. (ادمک، ۱۴۲، ستیوړټ، ۴۹۱) په کابل کې د امان افغان ورځپاڼه د هغه له وظیفې نه خبره وه او په اړه یې راپورونه له مبالغې نه ډک ګڼل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پاچا امان الله په وړاندي د وروستیو پاڅونونو په اړه د هغه خپل نظر قاطع دئ، چي لیکوال ه ستیوړټ یې په دغه ډول بیانوي (مخ ۵۱۱): " امان الله برتانیه د هغه پر ضد اغتشاش کې تبرئه کړه." پاچا خپل دغه نظر د شیکاګو ټریبیون جورنالست، لېړي روی(Larry Rue) ته هغه وخت ښکاره کړئ و، چي هغه د مرکې لپاره په خاصه الوتکه کې د ۱۹۲۹کال په فبروري کي کندهار ته ورغلئ و. پاچا د عبد الوهاب طرزي، د محمود طرزي زوی، په ترجماني هغه ته دا هم ویلي و، چي " ملایانو یې مخالفت کړئ ، ببله دې چي پیسې ورته ورکول شوي وي." هغه داهم ویلي و، چي " دی پوهیږي چي سقاو زوی د سفارت په وره کې له همفریز سره خبري کړي وې، خو د هغه په نظر دغه خبري یوازي د سفارت د حفاظت په اړه وې."، خو د هغه په نظر د هغه هغو کوښښونو چي مطلب یې د ایران، افغانستان، ترکیې، او روسیې سره متحد کول و، برتانویان پارولي وو، چي خلع یې کړي، خو دوی یې ویلو ته زړه نه کاوه. برتانویانو به ځکه په دې اړه څه نه ویل چي د دغسي اتحاد امکان بیخي لږ یا هیڅ نه و، او هغه هیڅ موضوع شوې نه وه.

باندني عوامل چي په پورته ډول د پاچا په مسافر کېدلو کي دخیل نه وو، هغه به پخپله د پاچا اصلاحات او د حکومتي عمالو کړه او د هغو په وړاندي د خلکو غبرګونونه وو، چي له امله یې له وطن نه ووت. په اصل کې دا خلک دي چي پیښې رامینځ ته کوي، او تاریخ جوړوي، په تېره هغه وخت چې دوی وپاریږي، او ټولنه ډینامیکه شي، لکه د پاچا امان الله په وخت کې چي همدغسي وشول. د افغانستان په معاصر تاریخ کې دا لومړی وار و چي حکومت په پراخو اصلاحاتو لاس پوري کړ، چي ځینو یې خلک مجبورول اروپایي دودونه او ژوند طرز غوره کړي، او خپل رواجونه او دودونه پرېږدي. د امیر عبد الرحمن په وخت کې حکومت د لومړي ځل لپاره سیمي او کلي ته ننوت، خو د خلکو کلتوري ارزښتونه یې په خپل حال پرې ښوول. سره له دې هم په وړاندي یې پاڅونونه وشول، خو حکومت هغه په پیاوړي پوځ وځپل. د پاچا امان الله په وخت کې حکومت هم د خلکو کورونو ته ننوت او هم یې ښځي او نارینه مجبورول چي خپل ژوند طرز اروپایي کړي، او کافي پوځ یې هم نه لاره. دا د سلیم عقل پر خلاف کار و. څومره چي یو څوک د پاچا امان الله سیاستونو او کړو ته ځیر کیږي، هغومره حیرانیږي. پاچا امان الله په خپل باندني شپږ میاشتني سفر کي تر دې حده د اروپایي کلتور تر اثر لاندي شوئ و، چي لکه نور یې نه غوښتل چي په خپلو شډلو افغانانو واکمني وکړي. که داسي نه وای هغوی به یې نه مجبورول چي خپل د پیړیو کلتوري ارزښتونه پرېږدي، هغه هم په حکومتي زور او سمدلاسه، او په عوض کې د اروپایي کلتور ظواهر ومني، چي نه یې غوښتل او نه یې ورته ضرورت لاره. هغه دغومره پاروونکي وو چي هغه اوس هم څوک په افغانانو تحمیل کولی نه شي.

دا چي امان الله ټینګ وطنپال او د پرمختګ او عصریت غوښتونکئ وو، په دې کې شک نه شته. ده د خپلواکي په ګټلو، او د عصري پوهنې په پراخولو او خلکو ته د برابرو حقوقو په خوندي کولو، او د ټولني په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مدني کولو سره خپل ولسپال توب هم تثبیت کړ. هم يې ځوانان او ځوانانې د زده کړې لپاره، د حکومت په لګښت، باندنيو هيوادونو، په خاص ډول ترکيې، ته واستول، او هم يې د ننه په وطن کې، په کابل ښار او ولايتي ښارونو کي، ثانوي او مسلکي ښوونځي پرانيستل. پخپله يې هم پوهنې ته خاصه توجه وکړه. هغومره چې ده عصري پوهنې ته توجه کړې، بل افغان واکمن نه ده کړې. داسې هم ده د ليسې فېر يا ازاد مارکېټ په غوره کولو سره پانګه ورو ته ممکنه کړه، د لګښتي مالونو لپاره کارخانې جوړې کړې. هغوی همدغسې وکړل، او دغه لړۍ روانه وه. په نتيجه کې حکومتي عايدات يو څه ډېر شول. په ښېرازو ځکو باندې د جنس پرځای د نقدي مالياتو په ايښودلو سره هم دغه هڅه پياوړې شوه، چې ځکه وال ځکې ښې وداني کړې او شاړې ځکې کرنيزې کړې. له دغو ټولو انکشافاتو سره فردي ازادي هم ملګرې شوه. خو دا د پاچا کلتوري سياستونه وو، چې په پای کې يې دغه ټول انکشافات په صفر کې ضرب کړل. اروانباد سيد شمس الدين، چې د هغه وخت زلمی و، په دې اړه داسې وايي چې: "با تمام اين فضائل و مزايای دوره اماني، امان الله خان مرتکب سهوهای بزرگی هم شد، که منجر به اشوب افغانستان و سرنگوني خود او شد. او در عصري ساختن مملکت از عجله و ناسنجيدګي کار ميګرفت. او فريفته ظواهر غرب بود و بيشتر از تحمل به عقائد به نو آوري ها دست زد، که مقبوليت و شهرت نيک خود را از دست داد. او خود را پادشاه انقلابي ميګفت و حق هم داشت که او را انقلابي بګويند، اما قوتي را که چنين انقلاب اجتماعي بکار دارد با خود نداشت. ماشين عسکري و جنګي او ضعيف و غير فعال بود. پشتيباني يک ګروه قوي مردم را که با او همنوايي داشته باشد، هم نداشت و در همکاران خود مردمان شايسته و لايقي را هم کمتر داشت، که درين راه مويد و مددګار او باشند."(مجروح، ص ۴۰)

له يادو شوو پېښو او چلندونو نه ښکاره ده، چې د پاچا په ناکام کېدلو د هغه خپل نظرونه، يا په يوه کلمه، د هغه خپل شخصيت محوري رول لاره. هغه ځو ځلي ويلي و، چې دی يو انقلابي پاچا دئ، او غواړي د وطنوالو د ژوند په هره ساحه کې انقلاب راولي. د هند يوه نوميالي کمونست مبارز، م. ن. رای (M. N. Roy) ته يې په يوې مرکې کې ويلي و، چې "... دی انقلابي او کمونست دئ." (۲۱) خو له انقلاب نه د پاچا مطلب هغه اصلاحات کېدل چې ده پرې شروع کړې وه، او له "کمونيزم" نه د هغه مطلب، د ستيورټ په نظر، "... کوم ډيالکتيکي يا ټولنيز جوړښت نه، بلکې په عمومي ډول هغه احساس و، چې هر يو بايد نيکمرغه او برابر وي."(ستيورټ، مخ ۵۱۲) په دې ډول پاچا امان الله د خپلو وطنوالو د ژوند د ښه کولو لپاره غوښتل دغه اصلاحات وکړي. آيا ده دغه فکرونه له خپل چاپېريال، يا له هغو انقلابونو نه ترلاسه کړي وو، چې د مخه په ايران (۱۹۰۲)، عثماني ترکيې (۱۹۰۸) او په روسيه کي اول په ۱۹۰۵ کي او بيا په ۱۹۱۷ کي پېښ شوي وو؟ بولشويکانو له خپلو هسکېدلو نه وروسته د انقلاب او کمونيزم په اړه په دغسې پراخ پروپاګنډ لاس پوري کړئ وو، چې حتی د لويديځې اروپا په نوميالیو تحول غوښتونکو باندي يې هم اثر کړئ و. په افغانستان کې، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دربار په غلام بچه ګانو ، او د حبیبیې ښوونځی په فارغانو او په نورو کې یا په لنډ ډول په مشروطه غوښتونکو کې د تحول غورځنګ په قوت پروت و ، خو د دوی اساسي غوښتني، قانوني نظام، د پوره خپلواکۍ ترلاسه کول، او د لوېدیځ مدنیت رواجول وو. دوی په عمومي ډول اعتدالي وو ، خو افراطیان هم پکې وو ، چې امیر حبیب الله شاید د همدغو په تحریک ، د لغمان په کله ګوش کې وژل شوئ وي. که د پاچا امان الله بیوګرافي چا لیکلې وای، دغه او دغسي نوري موضوعګاني به بیان شوي وای. خو دغسي بیوګرافي تر اوسه لیدل شوې نه ده. په دې اړه به زه دلته یو څه ولیکم.

امان الله په اولي ځوانۍ کي د سراج الاخبار له لیکنو نه، چې نومیالي وطنپال، جورنالسټ، محمود طرزي، چلوه، متاثر شوئ دئ. دی هلته د هغه له لور، ثریا ، سره اشنا ، او بیا ښځه او مېرمن ، او ملکه او پاچا شول. ملکه ثریا د خپل مېړه د اصلاحاتو ، په تېره د ښځو په موضوع کې د هغه ټینګه فکري ملګرې وه. پاچا ترکي ژبه زده وه، خو پښتو یې روانه نه وه، او ده خپل عمر زیاتره په کابل ښار کي تېر کړئ او له اطرافي ژوند سره اشنا نه و . د پاچایي په وخت کې یې ډېر ترکي متخصصان استخدام کړل، او د هغو او افغان متخصصانو په مرسته یې ډېر قوانین وایستل. دی د ترکي اصلاحاتو په خوا و . په ترکیه کې د اتاترک په وخت کې ډېره مهمه پېښه د دولت نه د دین بېلول او د سیکولر نظام په پښو درول و ، چې په ټوله اسلامي نړۍ کي یې غټ غبرګونونه وپارول. ترکانو ډېر پخوا د عباسي خلیفه ګانو په وخت کې، په تېره د سلجوقیانو ، او عثماني ترکیې په وخت کي اسلام او مسلمانانو ته ډېر خدمتونه کړي وو. پاچا چې په افغانستان کي اصلاحات پیل کړل، په زیاته اندازه د ترکیې د اصلاحاتو نه په الهام وو. خو ده دا په نظر کي نه ده نیولې، چې د عثماني ترکیې اصلاحات، چې د تنظیماتو په نامه یادېدل، د نونسمي پېړۍ په سر کي شروع شوي وو. په دې اړه په انګریزي کي ښېجوړې اثر د پروفیسر برنارډ لویس دئ، په نامه د معاصري ترکیې هسکېدنه. ما د لندن پوهنتون کي د دغه اثر نه د درسي کتاب په توګه ډېره استفاده کړې، او د هغه د مؤلف لکچرونه مي ډېر اورېدلي دي. دی هلته په هغه وخت کي د تاریخ د څانګي مشر و . په هر حال ترکي اصلاحات یا تنظیمات د نونسمي پېړۍ تر پایه پوري په وقفو سره کېدل، او د مخالفت له امله به کله پر ځای ودرېدل. په همدغو اصلاحاتو سره هلته په ملکي او نظامي ساحه کې دغومره ډېر تعلیم کړي کسان هسک شوي وو ، چې په ۱۹۰۸ کي یې انقلاب وکړ. خو د دوی نوئ نظام د لومړي نړیوال جنګ له امله، چې دغه نظام یې یو جز و ، تجزیه شو ، او بیا له یوې لنډې وقفې نه وروسته، دغه اوسنۍ ترکیه د مصطفی کمال په سروالي د یوه متحد او نېشنلستي نظام په بڼه هسک شو ، او مصطفی کمال هم د اتاترک په نامه یاد شو . خو په افغانستان کې تر پاچا امان الله نه د مخه عصري اصلاحات نه وو شوي. زما د پاچا امان الله په نامه کتابګوتي له مخي " هغه وخت افغان ټولنه په ټینګه سنتي او نړدې ټوله نالوستې وه. د هغو ډېرو لږو سواد لرونکو اوښتون غوښتونکي لرل، خو د هغو شمېر بیخي لږ وو. په دوی کي مشروطه غوښتونکي یا د قانوني حکومت

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتونکي، چي غبار يې روښان فکران ګڼي لا د ګوتو په شمار وو. ... د دوی په برابر کي د اوښتون مخالفان يا ساتنپالان وو چي هم بيخي ډېر وو او هم يې له اولس سره يوځای د عنعنوي دودونو او چلندونو له مخي ژوند کاوه. ځيني دودونه لا داسي ګڼل کېدل، چي لکه د دين برخي وي. اسلامي شرع د دغسي ذهنيت په جوړولو کي اغېزمنه برخه لرله، او اسلام په ټينګه هم دين او هم دولت ګڼل کېده. دا د ټولو خلکو ذهنيت او د ملايانو، پيرانو او سيدانو ټينګه عقيده وه." اروانښاد مجروح لا وايي چي په ټولنه کي " عامه مردم افغانستان و محافظه کاران، که اکثريت و قوت با انها بود، باعاده سنن قديم (ستاتسکو) تمايل داشتند و برای از بين بردن رژيم توطئه ميکردند." (مجروح، ص ۴۴)

په دغه حال کي هم پاچا امان الله د خوست له ورانوونکي پاڅون نه وروسته په ۱۹۲۸کي په لا پاروونکو اصلاحاتو شروع وکړه، په داسي حال کي چي کافي نظامي قوه يې هم نه لرله. ده د خپل زوی احسان الله په وينا د خپل دوست اتاترک هغه سلا هم هېره کړه چي يې ورته ويلي و، چي " تاسي غواړئ يوه ښکلې ماڼۍ جوړه کړئ، ښه بنسټ يې اردو مه هېروئ. لومړی دا اردو جوړه کړئ، بيا نو کولی شئ چي بې له وېري نه د خپل هيواد په پرمختګ ولاړ شي."(۲۲)

پاچا امان الله له پيښو نه زده کړه نه کوله، که څه هم هغه به غټي وې، لکه د خوست پاڅون چي خلکو او دولت ته يې ډېر تاوان اړولئ وو. پاچا اتوکراټ و او چاري يې د خپل فکر له مخې اجرا کولې، که څه هم د خلکو ژوند به يې په زور ډول متاثر کاوه. ده يو ځل له نورو څخه وغوښته چي د ده په دغه وړانديز نظر ښکاره کړي. ده د ۱۹۲۸ کال د لويي جرګې په درشل کې يو څو وکيلانو او څو لوړ پوړو چارواکو ته په يوې خاصي غونډي کي وويل چي غواړي دغه څه عملي کړي. " د ستر له مينځ نه وړل، او په عمومي ډول د ښځو ازادي، د څو ښځو کولو الغا، له دولت نه د دين بېلتون د دغسي قوانينو په ايستلو سره چي حتمي به نه وي په اسلامي شرع بنا وي، په افغانستان کي د وسلو مجاز ګرځول، په مځکو باندي د ماليات زياتول، د ملي بانک تاسيس او د بانک نوټونو خپرول." د ستېيوړټ په وينا " هيڅ يوه د هغه يو هم تائيد نه کړ. غبرګون يو هيبت و، په خاص ډول د خوست د وکيلانو، او نورو سرحدي وکيلانو کي. کومه هغه روغ نيتی چي د دوی په خاص قدر کولو سره پيدا شوې وو، سمله لاسه په مخالفت بدل شو. امان الله خفه و. هغه به سره له دې په خپل دريځ ولاړ وای، خو [محمد] ولي، غلام صديق او څو نورو ترېنه په ټينګه وغوښتل چي خپل وړانديزونه تعديل کړي. هغه بيا په دغه فکر شو چي دغه لويه جرګه له دغسي بې تعليمو او شډلو کسانو نه جوړه ده، چي د دغسي موضوع ګانو په اړه سم نظر ورکولي نه شي."(ستېيوړټ،مخ ۳۸۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سياسي ټولنو واکمنان مشورو، او په خاص ډول د ولس يا د هغه د استازو د نظرياتو پوهېدلو ته اړتيا لري. په تېره کې که څه هم د اوس په شان منظمې دولتي مؤسسې نه وې، واکمنو بيا هم د خپلو خاصانو نظرونه غوښتل. هيرودوټ، دوه نيم زره کاله د مخه، په دې اړه د يوه واکمن د يوه مشاور نظر په دغه ډول ثبت کړئ دئ. د هخامنشي امپراتور، خشايارشاه يوه خپلوان، مشاور ارتـه بـانوس هغـه تـه وويـل چې "صـاحبه! څه وخت چې مخالفي نظريې نه وي وړاندي شوي، ممکنه نه ده چي ډېره ښه يې غوره شي، او يـو څوک مجبور دئ هغـه ومنـي چي وړانديز يې شوئ وي. کله چي دغسي مخالفتونه اورېدل شوي وي، هغه د سرو زرو په څېر وي، چي ته يې له بل سره په يوه ګړه محک وسولوې، او توپير يې ووينې." (۲۳)

په افغانستان کي امير عبدالرحمن، سره له دې چي د خپلو اسلافو پر خلاف، زورواک و، بيا هم په تشيا يا په خپل سر کارونه نه کول. هغه به لومړی ملي موضوع د خپلو خاصـانو تـر مـينځ طرح کـړه، هغـو بـه پـه اړه يـې بحث وکړ، او امير به د دغه بحث په نظر کې نيولو سره هغه نظر غوره کاوه، او عملي کاوه چې ده بـه غـوره ګانـه. امير چې په ژوند کې ډېري سړې تودې حس کړي ، او د هيواد په ډېرو سيمو کي ګرځېدلئ، او د تجربو خاوند و، د خلکو په دود دستور ښه پوهېده، اومراعات به يې کاوه. تر هغه د مخه پاچايانو مهمي چاري له قومي مشرانو، مخورو او له خپلو ملکي او نظامي مشاورانو سره په جرګو اجرا کولې. په دې ډول ولس د واکمنو له سياستونو، چلندونو، او نظريو نه خبرېده او جرګې چي قومي وې، د خلکو پـه ژوند اثر کاوه.

د پاچا امان الله په وخت کي لويي جرګې د لومړي ځل لپاره رواج شوې. پاچا دستور ورکړ چي هـر پـنځـه کاله به لويه جرګه کيږي، او د خلکو استازي به په مشوره ورکولو سره پـه حکومت کولـو کې برخـه اخلـي. خو د ۱۹۲۸ کـال لـويي جرګـې يـوې وړې ډلـي وښـووله چـې د پاچـا او اولسـي اسـتازو تـر مـينځ، د هغـه د اصـلاحي پروګرامونو په اړه اختلاف دومره ژور و، چي نه پخلاکېدونکئ ګڼل کېده. په دغه حال کي توقع کېدله چي پاچا به له خپل افراطي پروګرام نه تېر شي، يا بې لږ تر لږه لس، پنځلس کاله وروسته وغورځوي، تر څو هغه ډېر شمېر ځواناني او ځوانان، چي په هيواد او باندي په زده کړه بوخت وو، فارغ شي او د اصلاحاتو او تحول غوښـتونکې ډله پياوړې شي. خو پاچا دغسي ونه کړه او په يوازي ځان يې د خپلو اصلاحاتو په عملي کولـو شـروع وکـړه. دی چي ځوان او له روغ ځان نه بهره من و، دغومره انتظار ايسـتلی شـو. . هغـه وخت ده د تعليم کـړو ځوانـانو پـه مـټ خپل سمونونه پيل کولی شول، بې له دې چي مخالفان يـې پـه وړانـدي اغېزنـاک خنـډ کېـدلی وشـي. (دی پـه کـال ۱۸۹۲ کي په پغمان کي زېږېدلئ و.) سره له دې دغه ډيناميک ځوان پاچا په کـال ۱۹۲۸ کـي، يـاني لـه وخت نـه ډېر د مخه په دې پيل وکړ، چي د يوې مياشتي مزل پـه يـوه ورځ ووهـي، او خپـل افراطـي پروګرامونـه پـه دغسـي ټولنې کې پيل کړي، چي خلک څه چي، حتی حکومتي چارواکي او نژدې کسان يې هم ورسره موافق نه وو، او ده د هغو مشوره هم نه منله. هسي چي د شنوارو د پاځون په پيل کي ويل شوي، پاچا په خپـل پـوخ او پـه خـاص ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپلي هوايي قوې ډاډه او په دې خيال و، چي په وړاندې يې څوک مخالفت کولی نه شي. حال دا چي د دغو الوتکو په بمباريو سره، چي ډېر بې توپيره تلفات يې لرل، شنواري او د شمالي خلک يې په خپل عزم نور هم ټينګ کړل. همدغه بمبارۍ وې چي د شمالي هغه خلک، چي تر دغه وخته د حکومت پر ضد نه وو، وتورېدل او هغوی د حبيب الله ډله پياوړې کړه.

د پاچا هغه وخت خپلو تېروتنو ته پام شو چې د ده د ژوند دښمن حبيب الله کلکاني له خپلو ملګرو سره په رڼا ورځ د ده د نيولو په نيت ځانونه ارګ ته ورسول. حبيب الله په مقصد ونه رسېد، او له تلفاتو ورکولو نه وروسته په شا شو. خو دغې نه توقع کېدونکې پيښې په پاچا باندي ناوړئ اثر وکړ، په دې ډول چې خپله ټوله کورنۍ يې د مامون کېدلو په مقصد کندهار ته په الوتکه کي واستوله، او د کابل ښار دفاعي ترتيبات يې دغومره ټينګ ونيول چي د عزيز هندي په ژبه "... د شمالي سيمي ټول قدرت هم نه شو کولای چي دا کلکه کلا ماته [کړي] او ورننوزي، خو غازي امان الله خان د خپل تذبذب او وار خطايي له امله په شپه کي دا کلکه کلا د شګو بند په څېر کړه." (عزيز هندي، ۴۱۲) پاچا سمله لاسه وروسته له هغه "دا کلکه کلا د شګو بند په څېر کړه"، چي د هغه د لوی پوځ يوه وړه برخه د جنوري ۱۳مه نيمه شپه په قلعه مرادبيګ کي د مقابلي خوا له يوه ډراماټيک او هيبتناک وار په برابر کي تېښته وکړه. پاچا په همدغي شپې کي هرڅه بايللي وګڼل او له واکمنۍ نه يې لاس واخيست، که څه هم حکومت او د ښار دفاعي ترتيبات پر ځای وو. په پاچا باندي واهمه او وېره غالبه شوه. په نورو څه چي په نژدې کسانو هم شکمن شو، او خپل ژوند ته يې خطر حس کړ. تاريخپوه فيض محمد يې په اړه داسي غږېږي: "... از بي وفايي قشون نظامي و قومي و اهالي شهر کابل و چاردهي... امير امان الله را از حصول ظفر مايوس ساخته و در خوف و رعب گرفتن و به پسر سقا سپردن انداختند." (فيض محمد، ۲۱، ۱۵۸) وروسته چي پاچا امان الله د کابل د نيولو په نيت د کندهار نه غزني ته رسېدلئ و، هم ټکنی شو. دلته دی حتی په خپل داخله وزير، عبد الاحد (مايار) باندي هم شکمن شو، چي د ده په فکر غوښته يې دی د حبيب الله کلکاني پوځ ته په لاس ورشي. (ستيوړټ، ۵۲۵) هغه ورته مشوره ورکړې وه، چي د وردګو په لار کابل ته ور د مخه شي، او وردګ به يې په ټينګه ملا وتړي.

اوس به په دې بحث وشي چي يوه نالوستي، غريب کليوال ولي وکړای شول دغسي نظام چپه کړي، چي مؤسس يې، امير عبدالرحمن تر څلوېښت نه ډېر واړه او لوی پاڅونونه ځپلي و، او لمسي يې هغه له دغه حبيب الله نه ژغورولی ونه شو.

حبيب الله په عام ډول تاجک ګڼل کيږي، خو نور په دې شک لري. اروابښاد مير محمد صديق فرهنګ دی په نسب مخلوط ګڼي او وايي چې: "... علاوه بر عنصر اصلي تاجک، احتمالاً خون هزاره يا ازبک هم در رګ های

(c) ketabton.com: The Digital Library



او جریان داشت." (فرهنگ، ۴۰۱) ارواښاد مجروح، چې حبیب الله یې د امیرۍ په وخت کې په کابل کې لیدلئ و، هم د هغه په اړه ورته نظر ښکاره کوي. " او مرد چارشانه، گندمي رنگ، متوسط قامت بود. چشم و بیني او چهره مردان توراني، مغولي را به خاطر مي اورد. معلوم بود که او از اختلاط دو نژاد آریایي و توراني به وجود آمده است." (مجروح، ۲۴) په هر حال، حبیب الله چې د نسب په لحاظ هر څوک و، د دغسي غریب، نالوستي کلیوال په لاس د افغانستان د پاچايي نظام چپه کېدل په معاصر افغانستان کې یوه ښساري پېښه ده. هو امیر عبدالرحمن او پاچا امان الله په بېلو وختونو او شرایطو کې واکمني کړې، چې د هغو د واکمنیو د سم پوهېدلو لپاره د هغو د وختونو شرایط باید په نظر کې ونیول شي. خو شرایط او حالات چې په هر ډول او هرڅنگه وي، دا خلک دي چې پیښې زېږوي، او تاریخ جوړوي، او د خلکو اعلی واکمن یا مشر پکې محوري رول لوبوي، او نفوذ ناکې ډلي - اجتماعي، مذهبي، اقتصادي هم پکې مؤثر رول لوبوي.

په افغان دولتي نظام کي د پاچا امان الله رول محوري و، که څه هم د ده په وخت کې، افغانستان کې د لومړي ځل لپاره د 'تشکیلات اساسي افغانستان' په نامه نظامنامه، د نورو نظامنامو په لړ کې، ایستل شوې وه. (دغه نظامنامه د رفیق شرکت له خوا په کال ۱۳۰۲ (۱۹۲۷) کې په کابل کې په پښتو خپره شوې وه، او یوه نسخه یې زه لرم) په دغې نظامنامې یا اساسي قانون کې د مرکزي حکومت او ولایتي ادارو تشکیلات او وظیفې بیان شوي دي. په مرکز کي اوه وزارتونه، یوه دولتي شورا، او یوه د طب مستقله اداره تجویز شوې وه. د کابل ولایت آمر د والي، او د ولایتونو آمران نائب الحکومه گان، او د ځینو سیمو آمران اعلی حاکمان یاد شوي دي. د لیري اطرافي وړې سیمې علاقه داري یادي شوي دي. په ولایتونو کې مشورتي شوراگانې هم تجویز شوي دي.

خو په دغه اساسي قانون کي د پاچا واک محدود شوئ نه دئ. نو پاچا د اساسي قانون په شته والي سره هم اتوکراسي او زورواکي کوله. ولس د قانون، شریعت او عنعنې له مخې د هغه واکمني منلې، او مالیات ورکول د دې لپاره چې پاچا امنیتي قوه ولري، او د هیواد امنیت، د خلکو ژوند او ملکیت خوندي وساتي، او د دوی د استازو په مشوره واکمني وکړي. خو پاچا امان الله سیاستونه په خپل فکر ایستل او پلي کول. په دې ډول د هغه شخصیت، د هغه نړۍ لید، او د هغه اراده د حکومت په کولو کې اساسي وو. دی ځوان، روغ او ډینامیک او د وطن خدمتگار و، او ویل یې چې " از خدمت به وطن بالاتر عشقي ندارم." نو یې غوښتل د سترو کسانو په څېر غټ کارونه وکړي، خو ده دغه کارونه هم په بېړه تر سره کول او هم یې د خپلي خوښې سمونونه پلي کول، بې له دې چې په وړاندي یې د خنډونو پروا وکړي. که څه هم هغه به غټ وو. دی په خپلي وړې هوایي قوې دومره ډاډه و، چې خنډونه یې مهم نه گڼل. د سمونونو په پلي کولو کي یې له دولتي شورا او حتی له خپلو لوړ پوړو چارواکو سره هم مشوره نه کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې ډول پاچا امان الله د خپلي واکمنۍ تر پايه پورې اتوکراسي کوله. د ده د اتوکراسۍ وروستۍ بېلګه هغه وه، چې د ۱۹۲۹ کال د جنوري په ۱۳مه شپه، همدا چې په قلعه مراد بيګ کي د خپلي ورې، مخکښې قوې له ډراماتيکي تښتي نه خبر شو، سمله لاسه له پاچايي نه لاس په سر شو، بې له دې نه چې د چا سره يې مشوره کړې وي، که څه هم د ده استعفی ټول ملت متاثر کاوه. دغه وخت حکومت او پوځ پرځای او د کابل ښار دفاعي ترتيبات هم ټينګ وو، خو دی د هغو پيښو د اداري نه عاجز شوئ و، چې د ده د سياستونو او چلندونو زېږنده وې. په دغه حال کې دی په خپل ژوند وېرېده، او غوښته يې چي څومره ژر کيږي، له کابل نه بهر شي. بيا نو ده په هماغه نيمه شپه کې خپل مشر ورور وهڅوه چي د ده پر ځای پاچا شي، که څه هم هغه نه پاچايي غوښتله او نه يې کولای شوه. پېښو بس درې ورځې وروسته دغه فيصله باطله کړه، او د کلکان حبيب الله د امير په نامه بې له جنګ نه د کابل په تخت کښېناست.

پاچا امان الله برسېره پر دې چي اتوکراسي کوله، له پېښو نه زده کړه نه کوله. د خوست لوی پاڅون، چي څه باندي يو کال يې دوام وکړ. او ډېر ځاني او مالي تلفات يې واړول، ده ته د عبرت درس کېدلی شو، چي بيا دغسي کارونه ونه کړي، چي په هغو سره خلک وپارېږي، او امنيت ګډوډ شي. خو ده څلور کاله وروسته د دغسي سمونونو په کولو پيل وکړ چي له وخت نه ډېر د مخه، غېر ضروري، پاروونکي او د سليم عقل پر خلاف وو. د دغو ټولو پايله دا شوه چي د پاچا له ګوښه کېدو نه وروسته د نهو مياشتو په بهير کې د هيواد د دوو لويو ژبو ويونکي د لومړي ځل لپاره سره و جنګيږي. د پاچا ټول سمونونه په صفر کي ضرب شي، په کابل ښار کې سمونپال زلميان وځپل شي، د قانون او قانوني حکومت مفکوره هوا وکړي، د کابل ښار نژدې ټول کورونه چور شي، دولتي خزانه له پيسو نه خالي او د عصري کېدلو غورځنګ په ټپه ودريږي، او افغانستان کلونه بيرته پاتي شي.

## د اماني دورې له تاريخ سره بې کچه مينه او تنده

ښاغلئ زماني وايي چې دی "د اماني دورې سره بې کچې مينه او تنده لري." ګمان نه کوم چي دی د دغې جملې په مانا پوهيږي. دا د يوه عاقل وينا کېدلی نه شي. د دغې وينا له مخې د دغې دورې له ټولو هغو پېښو سره، چې د دغې دورې تاريخ جوړوي، "بې کچې مينه" لرل، احساساتي، د منطق اوحتی د عقل پر خلاف وينا ده. د دغې دورې پېښې سره متضادي اوځينې يې ترخې هم دي. لا مهمه داده چي دی د دغې وينا له مخې د اماني دورې له تاريخ سره افاقي او بې غرضه کېدلی نشي، او هر څه چي يې په اړه وايي اوليکي، پارتيزاني او يو اړخيز به وي. انتقادي کېدلی خو هيڅ نه شي. په اړه يې د نورو انتقادي ليکنې زغملی هم نه شي. دا د علمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



میتود برخلاف وینا ده چي د پښتو له پوهیدلو سره مرسته کولی نه شي. دا دغسي یو احساساتي دریځ دئ چي که هغه ته له یوه اړخ نه وکتل شي، وبه ویل شي چي کوم هغه "مین" چې له خپلي "میني" سره بې کچه مینه لري، د ناهیلي توب په حال کې ممکن افراطي عمل او حتی انتحار ته لاس کړي، او که دغسي مین د شوروي اتحاد د ستالین یا د کمبودیا د پول پوت په شان د دولت واکمن شي، د ملیونونو انسانانو قاتل هم کېدلی شي.

د ښاغلي زماني دغه لیکنې هم افراطي روحیه لري. په هغو کې د دغه اماتور له خوا کتري، تومتونه او بې بنسټه حکمونه لږ نه دي، چي د هغو له مخې ویل کېدلی شي هغه بې سویه، او لکه چې د کوڅې د خلکو وي. غټ مثال یې دادئ چې دی د امان الله په اړه زما کتابګوټئ " هماغه د انګرېزانو له فتنو نه ډک تبلیغات" ګڼې. زه به خوښ وای چې که ده خپل دغه حکم شرح کړئ، او "له فتنو نه ډک تبلیغات" یې په ګوته کړي وای. ده دغه کار نه دئ کړئ، او کولی یې هم نه شي، ځکه چې د دغه کتابګوټي ټول موضوعات د هغه وخت په نورو لیکنو کي هم ذکر شوي دي، او لکه چي د مخه مي شرح کړي، د هغه لیکونکئ منشي علي احمد (شالیزی مومند) دئ، نه شیخ محبوب علي. او بله دا چي لکه چي د مخه مې پوره بیان کړئ، دا د برتانیې حکومت یا د هند برتانوي حکومت نه و، چې د پاچا امان الله د پاچایي په نسکورېدلو کې یې لاس لاره، او دا پخپله پاچا و چې د خپلې پاچایي د نسکورېدلو لامل شو- په خلکو باندې د نه منل کېدلو پروګرامونو په عملي کولو، او د خپلي زورواکي او اتوکراسي له امله. ښاغلی زماني له خپل ذهن نه بس حکم صادر کړئ دئ، لکه دی چې یې په اړه د صلاحیت خاوند وي. دی په دې نه پوهیږي یا د خپل پارتیزاني دریځ له مخې د دې درک کولی نه شي، چي عمومي حکمونه باید د پیښو پر بنسټ ولاړ وي، او که نه هغه به عندي وي. ده بس په لوېدیځ کې د ویبساټونو د ازادو خپرونو نه په استفادې سره پورتنی حکم او دغسې نور حکمونه صادر کړي، او هغه اواز ته یې غوږ نه دئ نیولئ، چي هر څوک یې په ځان کې لري. حال دا چي له آزادۍ نه ناوړه استفاده د سلیم عقل د خاوند علامه نه ده، او د سلیم عقل خاوند تقاضا دا ده چي یو څوک په هر حال او د هرې موضوع په اړه چې وي، د عقلي او اخلاقي قضاوت له مخې وینا، لیکنه، عمل او چلند وکړي.

خو زما د کتابګوټي د یوې جملې په اړه، د ښاغلي زماني اعتراض د یادولو وړ دئ، او هغه دا چي دی وا یي، چې ما د غلام محی الدین ارتي نوم په لوی لاس په غلام محی الدین انیس بدل کړئ دئ. که دی د علمي او دقیقو لیکنو په مقررو پوهېدلای دغسي حکم به یې نه وای کړئ. ما چې د غلام محی الدین د نامه په اخیر کي لقب په دغې علامې [ ] کې نیولئ دئ مانا یې داده چي په متن کي یوازې غلام محی الدین و، او ما په دغې علامې کي دننه د انیس لقب اضافه کړئ، چي هغه وخت ماته مالوم نه و او دا په دقیقو لیکنو کې یو منل شوئ دود دئ چي لیکوال چي له کومي منبع نه نقل کوي، باید هغسي یې نقل کړي، چي په اصل متن کې وي؛ حتی که

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلط هم وي. په هغو کي د هر ډول تغير راوړلو لپاره خاصې علامې وضع شوي دي، چې د هغو له مخې ما د انيس تخلص په دغې علامې [ ] ښودلئ دئ. ښاغلئ زماني دي په خپله ناپوهي اعتراض وکړي نه په بل چا.

دا چي ښاغلئ زماني د اماني دورې له تاريخ سره " بې کچه مينه" لري، يو لامل به يې دا وي، پاچا امان الله ويل چي دی انقلابي دئ، او غواړي د خلکو په ژوند کې انقلابي تحول راولي. ښاغلئ زماني چي، د ډېرو روايتونو له مخې، ماوست دئ، انقلابي به هم و. انقلاب او ماويزم ديوې سکې دوه مخونه دي. ښاغلئ زماني پر افغانستان باندې د شورويانو د يرغل په وخت کي په پېښور کې د استريا د کومېټې غړئ و. د دغې کومېټې ډېر افغان غړي ماوستان وو، او دوی د نورو افغانانو په شان د شوروي او د هغه د لاسپوځي رجيم پر ضد فعاليت کاوه. په کابل کې پرچمي رجيم هم ماوستان ځپل. دغه رجيم خپل نور سخت مخالفان هم د ماوستانو په تور بندي کول او کړول. افغان ماوستانو هم په پېښور کې د خپلې ايديالوجۍ لپاره هم فعاليت کاوه، لکه نورو ګوندونو او کسانو چي همدغسي کول. طبي ډاکټر، سعادت شګيوال، چي زما دوست و، هم د پورته کمېټې غړئ و. خو هغه د يوه ټينګ هيوادپال افغان ملتي په توګه ماوستي، اخواني، خلقي او ستمي ډلې هم وطن ته خطرناکې ګڼلې، او پر ضد يې فعاليت کاوه. له همدې امله به و، چي دی په پېښور کي په کومه نېټه کې ترور شو. په پېښور کې د هغه ترور د ماوستانو کار ګڼل کېده. که څه هم هلته د نوميالو افغانانو په ترور کې اسلامي حزب نوم ګټلئ و. پېښور د افغان ملي جهاد په دوره کې د ترور غټ مرکز شوئ و. له همدې امله به و، چې د افغان ډاکټرانو د اتحاديې مشر، ښاغلي نسيم جواد، کوم بل ملک ته کډه وکړه. تر هغه د مخه يې ما ته ويلي و، چي له پېښور نه پښې وباسه، چې د ارواښاد پوهاند مجروح په شان ترور نه شې. د هغه له بيا مهاجر کېدلو نه وروسته ښاغلي زماني د هغه ځای ونيوه. په ده باندي هم، چي په ماوست يادېده، په کومي نېټې کې ناکامه تروريستي حمله وشوه، او دی د علاج لپاره استريا يا ناروې ته واستول شو. دی تر اوسه هم لږ څه عيبي دئ. په دغه ډول د ښاغلي زماني د ژوند فعاله برخه په مخالفت، ضديت، پټو فعاليتونو او ګوندي مبارزو کې تېره شوې، نه په طبي يا علمي کارونو يا ليکنو کې، خو په ښکاره مؤدب دئ. د ده دغه مبارزه ايزه خاصه د ده له هغو ليکونو نه هم جوته ده، چې زما په اړه يې کړي، او هغه يې د يو څو نورو همفکرو له ليکنو سره يوځای چاپ کړي، او يوځای بل ځای يې په غونډو کې ويشي. په دې ډول ده دغه موضوع سياسي او پروپاګنډي کړې ده.

د ښاغلي زماني دغه کار د ده د مخينې په نظر کې نيولو سره عجب نه ښکاري. د حيراني ځای دا دئ چي دی دلته په شمالي کليفورنيا کې هم کوښښ کوي چي د افغان کلتوري ټولنې نه د خپلو شخصي مقصدونو په لار کې استفاده وکړي. دی په پوره شوق د خپلواکۍ ګټلو په ياد غونډو کې، چي دغه ټولنه يې هر کال لمانځي، ځلرمه جبهه يادوي، چي هغه، د ده په نظر، د ده نيکه ميرزمان کونړي پر مخ بېوله. حقيقت دا دئ چي د خپلواکۍ په جګړه کې، نه ځلرمه جبهه وه او نه ميرزمان د هغې سروال و. دا بل څه نه بلکي د افغان تاريخ مسخ کول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپلواکۍ په جګړه کې په دغو درو جبهو کي فعاليت کېده: د خيبر جبهه د سپه سالار صالح محمد په قوماندانۍ، د پکتيا جبهه د جنرال محمد نادر په قوماندانۍ، او د کندهار جبهه د سردار عبدالقدوس په قوماندانۍ. غبار (۷۵۸-۷۲۸) دغه جبهې د محاذ په نامه يادوي او شمېر يې د دغو قوماندانانو په قوماندانۍ ډېر ښيي: د خيبر محاذ، د چترال محاذ، د قندهار محاذ، د پکتيا محاذ، د وزيرستان محاذ، د پيواړ محاذ، او د تل محاذ. او دى بيا عقب جبهه کابل ښيي چي د هغه په نظر هلته "... از نظر سوق الجيشي کدام مرکز عالي سوق و اداره اردوى افغانستان وجود نداشت." دلته موږ له اسمار او چترال نه غږېږو، چي د هوايي قوې د مروج کېدلو نه د مخه يې لږ و ډېر د خيبر په شان اهميت لاره. په لرغوني مهال کې، له منځنۍ اسيا نه په هند باندي يرغلونه او مهاجرتونه شوي دي: د خيبر له لاري نه ډېر، او د چترال له لاري نه تر هغه لږ. چترال په جغرافيايي لحاظ د کونړ د درې سر دئ، چي د ستر احمد شاه له وخت نه د افغانستان يوه برخه وه. د نونسمي پېړۍ په وروستۍ لسيزه کې امير عبدالرحمن او د باجوړ نوئ په واک رسېدلئ، عمرا خان، په اتفاق يو حکمران د مهتر په نامه په واک کړ، خو برتانوي هند، د چترال د ستراجيکي اهميت له امله پرې حمله وکړه، هغه يې ونيوه، او يوه قوه يې هلته پر ځاى کړه، د دې لپاره که روسيه له دغې لارې يا د شا له خوا د هند په لور سوقيات وکړي، مخه يې ونيسي.

بل کال (۱۸۹۲) امير عبدالرحمن د پخواني کافرستان له لاندي کولو نه وروسته د باشګل يا بازګل مهمه او اوږده، لويه دره، چي له اسمار نه تر منجان غځېدلې ده، د تګ راتګ او سوداګرۍ لپاره پراخه او تياره کړه، په اصل کې په دغه مقصد چي که روسيه په هند باندي يرغل کوي، دغه لنډه لار به غوره کړي، چي په دغه حال کي به نور پراخ افغانستان له خطر نه بچ وي. دغه حمله و نه شوه، او کېدل يې هم ګران وه، خو د برتانوي هند چارواکي هغه وخت د دغسې حملې وېره په قوت لرله. په هر حال له هغه کال (۱۸۹۵) نه چترال اول د برتانوي هند او بيا د پاکستان تر قبضې لاندي شو. د پاکستان دغه قبضه ممکن يوه ورځ پخپله کونړ ته خطر وګرځي. پاکستان په ژمي کي شاوخوا شپږ مياشتي، د مځکې ياني د دير درې له لاري چترال ته د واورو له امله ورتللی نه شي، او د کونړ له لاري ورته تللای شي. خو چترال د خپلواکۍ په جګړه کي، چي پخپله افغانستان پرې پيل کړي و، چندان مهم نه و. په اسمار کې هم يوه وړه قوه د جنرال عبدالوکيل نورستاني په قوماندانۍ پرته وه.

د غبار په وينا (۷۲۰) د خپلواکۍ جګړي په اخير کي، چي سپاه سالار صالح محمد په شا شوئ و "قوه افغاني از کنر در داخل علاقه چترال هجوم کرد. جنګ بين طرفين اغاز ګرديد، ولي اين جنګ ها قاطع نبود، تا متارکه امضا شد، و قوه افغاني مراجعت کرد." غبار دا هم وايي چي، ميرزمان کونړي د ډېرو نورو افغانانو په شان د خپلواکۍ په پلوي او د انګريزانو په مخالفت تبليغ کاوه. اروابناد سيد شمس الدين، چې هغه وخت ځوان و، وايي چي: "مير زمان خان ... در جنګ استقلال در بريکوت (کنر) اشتراک کرد." (مجروح، ۴۲). بريکوټ چې د نورستان يو ښارګوټئ، ياني د افغانستان يوه برخه ده، د جنګ ډګر نه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو ښاغلئ زماني ټینګ دئ چې د خپلواکۍ په جګړه کې د ده نیکه ځلرمه جبهه پرانیستلې او پر مخ بېولې. دا چې دی وايي د اماني دورې له تاریخ سره بې کچې مینه او تنده لري، په اصل کې شاید له همدې امله وي چې پاچا امان الله میر زمان له یوه عادي حال نه د خانۍ او اعتبار لوړ مقام ته رسولئ و. دلته دهغه په اړه یو څه لیکل ضروري ښکاري. ښاغلئ زماني چې زما په اړه لیکني کړي، وروسته له هغه و چې ما یوه شپه د ملګرو په مخ کې د ځلورمي جبهې د جعلتوب او له خلکو سره د ده د نیکه د زور زیاتي په اړه یو څه ویلي و، چې دی یې پارولئ او بیا یې دغه لیکنه وکړه. زه دلته د موضوع په اجتماعي اړخ یوڅه لیکم، او که زماني خپلې لیکنې ته د کمپین او مبارزې شکل نه وای ورکړئ ، ما به دغه لیکنه هم نه وای کړې. اوس نو که کورنۍ یې، او په خاص ډول د هغه شخصي کورنۍ، چې زه ورته په درنه سترګه ګورم، څه ګیله لري، هغه دي پخپله له ده څخه وکړي. زه به دغه موضوع په هیڅ ډول شخصي نه کړم.

لوی مجروح وايي چې " در کنر هم صافي ها (با میر زمان خان که از خوانین و ملکان بزرګ بشمار میرفت) تصادم کردند و جنګ ها و زد و خورد های متعددی صورت ګرفت. میر زمان خان که از ملاکین کنر بشمار میرفت خود او مرد فعال و جاه طلبي بود که بانجام اجاره درای [داري] های مالیاتي با حکومت های محلي ثروت و اعتباري مزیدي اندوخت بعد باتهام یک واقعه جنایي در زمان حبیب الله خان محبوس شد و بعد از فوت امیر حبیب الله خان محبوسین سیاسي و سرکردګان قومي را امان الله از محبس رها کرد و انها را باشتراک در جنګ استقلال سوق داد مردم را به اماکن خود فرستاد و میر زمان خان باین ترتیب از حبس رها شد و در جنګ استقلال در بریکوت (کنر) اشتراک کرد و با استقرار رژیم اماني او هم بر اعتبار و قدرت خود در ولایت کنر افزود و از حسن نظر و اعتبار دولت بهره کافي برداشت. اما بالاخره شخصي ګشت که دیګر در کنر نمي ګنجید و با قیام صافي ها و نارضایي مردم مواجه شد." (مجروح، ۴۱-۴۲)

د عزیز هندي په وینا (۱۵۸) میر زمان کونړي "... له یوه معمولي حالت نه ... پرمختګ کړئ و." دغه "معمولي حال" یوه مبهمه افاده ده، او زه نه غواړم په اړه یې څه ووایم.

داسې ښکاري چې میر زمان د منګلو له پاڅون نه وروسته په کونړ کې د لا غټ مقام ګټلو په فکر کې شوئ و، که څه هم قومي بنسټ یې نه لاره، بیا هم د عزیز هندي په وینا (۲۵۴-۲۵۲) ( ... کله چې [میرزمان ] د منګلو د پاڅون ټکولو نه وروسته د خپل لښکر [ایله جاري] سره سیمې ته ورغئ، نو په فکر کې یې بدلون راغئ او په خپل سر شو. اوس یې په منظمه توګه نقاره وهله او په خپلو سرتېرو یې پرېډ (تمرین) کاوه او " کله چې د ده ظلمونه خلکو ولیدل، هغه یې و نه زغمل او د ده پر ضد یې پاڅون وکړ." اخر خبره حکومت ته ورسېده. حکومت اول برګېډ احمد جان، او د هغه د ناکامۍ نه وروسته یو بل ستر افسر هلته واستاوه. هغه هم امنیت ښه ټینګولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونه شو. بیا پخپله پاچا جلال اباد ته لاړ." پاچا له هغه سره په ډېره نرمي چلند وکړ، سره له دې چې وروسته (له ده ځخه) ۹ سوه انګریزي توپک او ځو لکه مرمۍ راووتې." (عزیز هندي، ۲۵۲)

پاچا امان الله به ځکه چې میر زمان یې په خپل سر پرې ایښئ و، چې مور یې هغه "زوي" بللئ او "هغه به تل زیات شمېر سوغاتونه هغې ته لېږل." (عزیز هندي، ۲۵۳) لکه د مخه چې ویل شوي، پاچا د خپلې مور په سپارښتنه زیاتره نائب الحکومه ګان، بارکزیان، مقرر کړي وو. میر زمان یې هم د هغې په خاطر په خپل سر پرې ایښئ و. پاچا به له دې امله هم د خپلې مور سپارښتنې منلې، چې هغې خپل وراره، والي علي احمد، چې د پاچايي خیال یې لاره، سرکښۍ ته نه پرېښود. خو میر زمان د پاچا او د هغه د مور په ډاډینې "... د پاچا په رعیت ... تېری کاوه؛ محلي حاکمانو له وېرې د ده سره هیڅ نه شول ویلای او آن د شاوخوا د حاکمانو وهل ټکول د ده لپاره معمولي خبره وه." "د ده د نوکرانو د ظلمونو ځخه هم څوک خوندي نه وو، او په خپلو ګاونډیو خانانو باندې یې هم ډول ډول تیري کول، او د دوی مځکې یې په خپلو مځکو ګډولې." (عزیز هندي، ۲۵۳) د همدغې زور زیاتي پایله له خلکو سره نښتې او "... شهرت امان الله ځان به بیدیني هم مزید علت گشت." مجروح دا هم وايي چې "عم ما [سید زیور شاه] از عناصر ناراض از دولت بشمار رفت. این زد وخورد ها چهار سال کنر را نا آرام ساخت. بالاخره با این تصمیم اخر حکومت ارامي در منطقه اعاده شد. چند نفر از سرکردگان شنواري کنر اعدام گشتند که این کشتن و بستن، کینه و انتقام را در دل مردم و مقابل خان مذکور بیشتر کرد و عواقب آن برای خان ناگوار تمام شد." (مجروح، ۴۲)

مجروح د دغو پېښو نېټه نه ورکوي. دا هم نه وايي چې حکومت له میر زمان سره څه وکړل. دا چې عزیز هندي وايي چې میر زمان د شنوارو له پاڅون نه د مخه په کابل کې "شاهي نظر بند و"، ممکن د دغو پېښو له امله وي. خو دا دغسې نظر بندي وه چې، هغه له کابل ځخه یوازې خپلې سیمې ته تللی نه شو. کورنۍ یې هم ورسره وه، او په کونړ کې یې جایداد هم پر ځای و. پر دې برسېره هلته په کابل کې "... د فرقه مشرۍ رتبه ورکړل شوې وه." (عزیز هندي، ۲۵۲) سردار شیر احمد چې د شنوارو د پاڅون په ځپلو کې پاتې راغئ، او د جلال اباد ښار تر خطر لاندې شو، حکومت میر زمان کونړې هلته واستاوه، چې د مومندو له ایله جاري او سرکاري پوځ سره په ګډه جلال اباد وساتي. خو د عزیز هندي په نظر "... د دې کار د تر سره کولو لپاره میر زمان کونړي په هیڅ ډول موزون نه و. هغه په لومړي سر کې په خپله سیمه کې د بد نوم خاوند و، او مومندو او نورو زیات خلکو [خلک] د ده د وینو تږي و." او هلته "د میر زمان خان د رسېدو سره سم ... د حکومت هڅې له ناکامۍ سره مخ شوې" او دغو "... دښمنو قبیلو او فرقو ته د بدل اخیستنې لپاره په زړه پوري موقع په لاس ورغله ... هغوی په میر زمان کونړي او د هغه په پلویانو برید وکړ. نتیجه دا شوه چې له لرې مودې وروسته دی او د ده لښکر یې و ځاپه." (عزیز هندي، ۲۵۷) په یوه روایت د میر زمان یو زوی هم د جلال اباد په جګړه کې تلف شوئ و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د میر زمان کونړي اساسي ضعف په خپلې سیمې کې و؛ هلته یې نه یوازې قومي بنسټ نه لاره، لوی قومونه لکه ساپي، شنواري او مومند ورسره مخالف وو. یوازې حکومت د ده ولي نعمت، او د ده د خانۍ او قدرت سرچینه وه، او همدا چې دغه سرچینه یانې د پاچا امان الله پاچایي نظام مخ په لړزېدلو شو، د ده خاني هم مخ په ختمېدلو شوه. پاچا چې له کابل نه د کندهار په لور روان شو، په کونړ کې ګډوډي شوه. ساپیان او شنواري د محلي حکومت پر ضد فعال شول. مجروح په دې اړه اوږد غږېږي. په لنډه توګه، میر زمان، چې له اویا وسله والو ساتندیانو سره ګرځېده، په چغه سرای (اوسني اسد اباد) کې له سید شمس الدین سره مخ شو. په دغه وخت کې دوي ټول د مجروح د کلي، یانې شین کوړک په خوا روان وو، چې له شیګل سره نژدې پروت دئ، چې زیاتره اوسېدونکي یې شنواري دي. میر زمان مجروح ته وویل چې غواړي اسمار د ده په مشوره له محاصرې څخه خلاص کړي. مجروح وایي چې هغه راته وویل چې " بعضي مردمان اوباش قریه تصمیم دارند بر من حمله کنند و شنیده ام انها برای همدستان خود به قریه های دیگر قاصدان و خبر رسانان فرستاده اند ." (مجروح، ۵۰) له دغو خلکو نه مطلب ساپیان وو، چې له بادیل او دیوه ګل نه ولاړ شوي، او د پېچ درې له ساپیانو سره یې په ګډه د چغه سرای ولایت مرکز نیولئ وو. مجروح په آس سور، ځان خپل کلي، شین کوړک، ته ورسوه. میر زمان له خپلو ملګرو سره پیاده، د ماښام په مهال شین کوړک ته ورسېد. مجروح وروسته له هغه چې په خپل میلمستون کې یې د هغو عزت وکړ، د هغه ملګري یې د وطني دود له مخې په نورو کورونو ووېشل. نور نو د هغه په ژبه " خودم به خوابگاه رفتم. لحظه یي بعد صدای فیر تفنگ شنیدم. و از بستر برجستم که طرف مهمانخانه بروم. دیدم در بزرگ قلعه از طرف بیرون بسته و زنجیر شده است. بر سر بام بر آمدم و صدای غلغله و صدای تفنگ ها را زیاد تر شنیدم. دیدم که راه برامدن از سربام موجود نیست. فرود امدم. در بین حویلي نا آرام و منتظر استاده ماندم که صدای کشودن در کلان بلند شد. به انطرف دویدم. ان ناظر امور ما را دیدم که در راه کشوده سات [است]. گفت خان صاحب را متاسفانه کشتند، و این شر ذمه قلیل اوباش به عجله کار خود را انجام دادند." (مجروح، ۵۰-۵۱)

مجروح نه وایي چې دغه وژنه په مشخص ډول د چا کار و. له لیکنې نه یې ښکاري چې دا د ساپیانو کار وي. خو څنګه چې دغه دواړه قومونه له هغه نه د انتقام اخیستلو په انتظار وو، او مهم کارونه یې په ګډه کول، احتمال لري چې دغه وژنه د دواړو کار وي. په هر حال دغه پېښه به د ۱۹۲۹ کال د جنوري په اخر کې شوې وي.

په پای کې به د دغې لیکنې مهم ټکي له یو څو تبصرو سره په لنډ ډول بیان شي.

د ښاغلي زماني دغه حکم چې د امان الله د سقوط پاښو لیکوال برتانوی سکرتر، شیخ محبوب علي دئ، هم سم نه دئ. د هغو لیکونکئ اروابناد علي احمد (شالیزي مومند) دی، چې د پاچا په ټوله دوره کې د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



منشي و. امريکايي ليکواله، ريه ستيوارټ، او د منشي علي احمد وراره، ښاغلئ مهدي شاليزي،همدغسي وايي. وروستی چې اوس په سويس کي اوسيږي، او په افغانستان کي يې په حربي پوهنتون کي استادي کوله، وايي چي تره يې د پاچا په ټوله موده کې د هغه منشي و، او کوټي ته هم ورسره لاړ، او بيا بيرته وطن ته ستون شو. دغه پاڼي هم يا په ۱۹۲۹ يا په ۱۹۳۰ کي تهيه شوي دي، ياني هغه وخت چي دی هلته و، نه محبوب علي. اساسي دا هم ده چي پاچا چي له کندهار نه د کابل په نيت غزني ته رسېدلئ و، هغه وخت شيخ محبوب علي په افغانستان کي نه و. هغه وخت په کابل کي د برتانوي هند سفارت تړل شوئ و. د معاصر ليکوال سيد رسول په وينا " در ۲۰ فبروري همفريز، سفير انگليس، در کابل به عطا الحق وزير خارجه رژيم حبيب الله اطلاع داد که حکومت انگليس قصد دارد سفارتخانه اش را از کابل خارج نمايد. ... عطا الحق هر قدر کوشيد همفريز را قانع سازد که دولت روز به روز بر اوضاع مسلط ميگردد. ... اما سفير انگليس حاضر نشد از نظرش بگذرد." و " چون زمستان شديد و ميدان هايي کابل نسبت برف باري مسدود بود، عملي شدن اين برنامه براى چند روز معطل ماند. در دو روز آينده آن "همفريز" تمام اسناد و اوراق سفارت انگليس در کابل را آتش زد، و به تاريخ ۲۵ فبروري که هوا خوب شد، تمام اعضاى سفارت در هشت طياره عازم پشاور گرديدند، و رحمت خان را به حيث نماينده انگليس در کابل گذاشتند." (سيد رسول، ۴۷-۴۸)

خو ښاغلئ زماني وايي چې " دا ليکنه د منشي علي احمد خان نه ده. دی د دربار منشي هم نه و، او نه د خپل موقف پر اساس کره او دقيق معلومات درلودلي شو." دغه جمله سر پايه ناسمه او د هغه د ذهن زېږنده ده. د محترم مهدي شاليزي له قول نه د مخه ويل شوي چي تره يې، ارواښاد منشي علي احمد د فارسي ادبياتو او د کلاسيکو اشعارو علاقمن، او په ديني چارو کي لاربښود و، او پر دې ټولو برسېره د تاريخ غزنين په نامه يې لاسي ليکنه هم لرله، چي د صدراعظم محمد هاشم په وخت کې له چاپ نه پاتي او لادرکه شوه. خو د ارواښاد فرهنگ د افغانستان در پنج قرن اخير له مخي دغه ناخپره شوې ليکنه له ارواښاد سيد قاسم رښتيا سره وه، چي ده به له هغه په خپل اثر کي استفاده هم کړې وي، او اوس د منشي د کورنۍ غړي کوښښ کوي هغه پيدا او خپره کړي.

د ښاغلي زماني بله افسانه دا ده چي " دولت انگليس ده سال زحمت کشيد تا دولت امانيه را با پروگرامش معدوم کند." ډېر حيرانوونکئ فکر! په دغه حيرانوونکي بې بنسټه حکم د مخه پوره گړېدلئ يم. دلته به دغومره ووايم چي پخپله پاچا امان الله په کندهار کي له يوه امريکايي جورنالست سره په يوې مرکې کي د برتانوي هند حکومت په خپلې ناکامۍ کې تبرئه کړئ، او پر هغه سربېره يې دا هم ويلي و چي دا افغانستان ملايانو د هغه مخالفت کړئ، بې له دې نه چي له چانه يې پيسي تر لاسه کړي وي. خو د ښاغلي زماني له دغو ليکنو نه ځرگنده ده، چي دی د خپلي خاصي ايديالوجۍ له مخيله "انگليسانو" سره دغسي ټينگ مخالف دئ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي د پاچا دغه خبره به هم و نه مني. او که ممکنه وای ورته به يې عرض کړئ وای چي صاحبه! تاسي چي له وطن نه په وتلو مجبور شوئ، دا ستا پر ضد د انګريزانو د توطئو او دسيسو له امله ده، نه د افغانانو د مخالفت له امله.

ښاغلئ زماني دا هم وايي، چي همفريز " ... د انګريزي دسيسو او توطيو په جوړولو کي خورا ستره برخه درلوده." د ده مطلب دادئ چي پاچا امان الله د همفريز په " دسيسو او توطيو" سره ناکام او له وطن نه په وتلو سره مجبور شو. دی به په دې نه پوهيږي چي يو سفير د کوربه او د خپل حکومت تر مينځ يوه ديپلوماتيکي واسطه ده او وظيفه يې دا نه ده چي د کوربه حکومت په وړاندي سياست وضع کړي. دی به د کوربه حکومت په اړه خپل حکومت ته راپور تهيه کړي، او نظر ورکړي، خو دا د هغه د حکومت صلاحيت دئ، چي په اړه يې سياست وضع کړي. لکه چي په متن کي د مخه شرح شوي د برتانوي هند، او د برتانيې د حکومتونو سياست دا و، چي پاچا امان الله پر خپل مقام پاتي وي. دغه نظر هم ډېر اوربدل کيږي، چي د کلکان حبيب الله په کابل باندي د حملې په وخت کي زخمي شو، او د برتانيې په سفارت کي يې درملنه وشوه. دغه اوازه حقيقت کېدلی نه شي، په دې چي حکومتي قواوو، له هغه سره ارګ ته د تللو په حال کي ښښتي نه دي کړي. حکومتي چارواکي د هغه په حملې خبر نه وو، او تياري يې هم نه درلود. دا يوازي شاهي رساله وه، چي په خپل ټينګ مقاومت سره يې حبيب الله او ډله يې په شا تلو ته مجبوره کړه.، او له هغه وروسته و، چي حکومتي پوځيان ورپسې شول، او له يو څو ښښتو وروسته، حبيب الله او ملګرو يې په باغ بالا کي سنګر ونيوه، او مقابلې وشوې چي نژدې ديارلس ورځي يې دوام وکړ. په همدغه وخت کې و، چي دی په کومه ښټه کي په هوايي بمبارۍ سره په اوږه په شرپنل يا چره ولګېد، او زخمي شو، او يرغلګر وار په وار له ډګر نه په شا شول، او پخپله حبيب الله اول پغمان ته لاړ. په کوم ځای کي مې لوستي چي هلته کوم برتانوي جراح د هغه درملنه وکړه، خو د هغه زخم په اصل کې کاري نه و. پاچا امان الله د حبيب الله د يرغل په اړه دغومره ويلې چي ارګ ته د راتګ په وخت کې کوم برتانوي چارواکي يا سفير له حبيب الله سره ليدلي او خبري کړي وې، خو هغه په دې اړه چي سفارت مامون وي.

ښاغلئ زماني د شنوارو پاځون هم د برتانوي قونسل، جهان ګير خان، په لمسه بولي، او وايي چي ده "... در اغتشاش شنوار رول مهمی را ايفا نمود." له زماني نه پرته به دا څوک ومني چي يو خارجي قونسل د شنوارو په شان يو لوی قوم د خپل پاچا پر ضد پاځون ولمسولی شي. دغه پاځون ډېر اساسي عوامل لرل، چي شرح يې د مخه شوې ده. هو، د پاچا امان الله د وخت په نا ارامېو کې برتانوي چارواکو ډېر کوښښ کاوه، چي څنګه چې دوی د خپل امنيت په اړه د حکومت د امنيتي قواوو باندي ډاډه کېدلی نه شي، دوی بايد دغسي چلند ونه کړي، چي په دوي د مکناتېن او کوګناري کاني و نه شي، چي په افغان- انګليس په لومړۍ او دوهمه جګړه کي وژل شوي وو. همفريز، چي له دغو پېښو څخه خبر و، کوښښ کاوه چي په نا ارام افغانستان کې د ده او د ملګرو ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوندي وي، او د خطر په وخت کې ترېنه ووزي. ده د حبيب الله کلکاني د اميري په وخت کې، د ۱۹۳۰ کال د فبروري په ۲۵ مه همدغسې وکړل. ده د هغه واکمنې نه پاتې کېدونکې ګڼله، او فکر يې کاوه چې ناارامي به نوره هم ډېره شي. ده حتی د نورو لوېديځو هيوادو د سفارتونو چارواکي هم وهڅول چې له کابل نه په برتانوي الوتکو کې پېښور ته لاړ شي، او هغوی همدغسې وکړل. په کابل کې د شوروي اتحاد او ترکيې سفارتونه پاتې شول. تر ډېره اندازه د دغه همفريز په کوښښونو د امير حبيب الله رجيم بين المللي حيثيت و نه موند.

ښاغلي زماني چې زما په اړه دغه ليکنه کړې په اصل کې له شخصي نظر نه کړې ده. ما په يوه مجلس کې د ده نيکه په هغو الفاظو ياد کړئ و، چې د مخه يې ذکر شوئ دئ. ما داهم ويلي و، چې د خپلواکۍ په جګړه کې څلورمه جبهه نه وه، خو دی ټينګ دئ چې څلورمه جبهه وه او سروالي يې هم د ده نيکه کوله. دا بل څه نه بس د افغاني تاريخ مسخ کول دي. دی دا هم خيال کوي، پاچا امان الله، چې د ده نيکه يې، چې د امير حبيب الله په وخت کې، په کومې جنايي موضوع کې بندي شوئ و، له محبس نه ازاد کړي، او د اعتبار او حيثيت خاوند کړئ و، سپېڅلئ او له انتقادو نه اخوا دئ. دی په دې نه پوهيږي، هيڅ انسان- پاچا وي، يا پير يا ولي-سپېڅلئ او له انتقاد نه آخوا نه دئ. د معاصر مهال په دولتونو کې، هغه هم د پاچا امان الله په شان، چې په خپله خوښه يې حکومت کاوه. سياستونو او چلندونه په اساسي ډول مهم دي، په دې چې هغه په ټول ولس اثر کوي، او که يې وتوروي، دهغو په وړاندې غبرګونونه ښيي. دوی په واقع کې په دغسې موضوعګانو کې د خپل وخت قاضيان دي، او دا د تاريخپوه دنده ده، چې دغه ټول څه په نظر کې ونيسي، او هغه په افاقي ډول د هغه وخت د ليکنو پر بنسټ شرح او بيان کړي. سياسي تاريخ په حقيقت کې همدغه وي. ما په خپل کتآبګوتې کې، د پاچا امان الله په اړه دغه ټول په نظر کې نيولي، خو ښاغلئ زماني دا ټول هسې " د انګريزانو د فتنو نه ډک تبليغات" ګڼي. دي چې د امان الله له " دورې سره بې کچې مينه او تنده" لري، له دې نه عاجز شوئ چې د هغو درک وکړي.

نو د ده په اړه زما هغه وينا سمه ده، چې د مخه مې په همدغې ليکنې کې کړې، او هغه دا چې " د ښاغلي زماني د ژوند فعاله برخه په مخالفت، ضديت، پټو فعاليتونو او ګوندي مبارزو کې تېره شوې، نه په طبي او علمي کارونو کې." ده د همدغه فکر له مخې، زما په اړه له تومتونو، کنترو او بې بنسټه حکومونو نه ډکې ليکنې هم په پښتو او هم په فارسي کې په افغان-جرمن ويبسايټ کې خپرې کړي. ده په دې هم بسيا نه ده کړې، او هغه يې بيا له يو څو ورته ليکنو سره يو ځای چاپ کړي او يو وخت بل وخت يې په غونډو کې ويشي. دی خيال کوي چې دا هم ګوندي مبارزه ده او دی چې په هغې کې مهارت لري، نوم به وګټي. له ده نه چې له ليسانس نه پورته تصديق په لرلو سره ځانله ډاکټر وايي، داسي توقع کېدله چې د ډاکټر په شان چلند وکړي، خو دی له دغسې چلند سره روږدئ نه دئ، او هغه يې لا په تکليف کوي. له همدې امله وه چې ده د دغې موضوع ته د پوهې د شاګرد په څېر و نه کتل، او ډنډوره يې ترېنه جوړه کړه. البته هر څوک حق لري چې د هرچا په ليکنې انقاد وکړي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیمگړتیا یې، که لري،په ګوته کړي، خو لیکني یې باید په سویه او د جامعې له نظر نه وي، نه له شخصي نظره. او په هر حال کې په نظر کې ولري چې دا د اجتماعي اخلاق تقاضا ده. خو ښاغلئ زماني په دغسې لیکنې کې پاتي راغلئ، او له لیکنو او د هغو له خپرونو نه یې واضحه ده چې دي یو پروپاګندچي ماوست دئ.

په پای کې به وویل شي چې ننداره ایزي لیکني به کله کله، هغه هم د لنډي مودې له پاره، له تاوده هرکلي سره مخ شي، خو هغه به په تېره چې د شخصي غرض له مخې وي، نه دا چې تنویر ونه کړي، تېرایستل به وکړي. څوک چې په ارادي ډول د واقعیت پر خلاف لیکنه کوي، په اصل کې خپل ځان بې اعتباره کوي. نو که څوک غواړي تنویر وکړي، ورته ښایي چې لیکني یې د ثقه شواهدو او معقولو دلیلونو له مخې وي، نه د بې بنسټه حکمونو او شخصي غرضونو له مخې، لکه د ښاغلي زماني چې دي.

اوس نو د هغه کوم خواخوږي ته ښایي چې ورته ووایي چې ګوره اول زده کړه، بیا کوزده کړه، او تل رښتین اوسه، او دا چې دا یوویشتمه پېړۍ ده، او په دغې پېړۍ کې د تاریخپوه جان لوکاس په نظر " اوه! نور نو د تاریخپوه دندې اسانې نه دي. د ډېرو دلیلونو له مخې، د دغه حال په ګډون چې نور نو خلک- تعلیم کړئ وي یا نه وي، ساده نه دي." (۲۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوهمه برخه

## د ښاغلي سیستاني د لیکنو په هکله

ښاغلئ کاندید اکادیمیشن محمد اعظم سیستاني د ښاغلي زماني د لیکنو تر اثر لاندي له وطنوالو نه وغوښتل چي د پاچا امان الله په اړه زما کتابګوتۍ له خپل لیست نه وباسي، یاني ویې نه لولي. ښاغلئ سیستاني به د ښاغلي زماني په شان زما دغه کتابګوتۍ د " انګرېزانو له فتنو نه ډک تبلیغات " ګڼلي وي، چي په یوویشتمي پېړۍ او هغه هم په لوېدیځي نړۍ کي یې دغسي چنګیزي ډول حکم صادر کړئ دئ. له دې امله د ده د لیکنو په اړه یوه لنډه لیکنه لازمي ښکاري. څنګه چي په تیرو پاڼو کي مي دا تثبیته کړه، چي د پاچا امان الله د سقوط په نامه پاڼې د اروابښاد منشي علي احمد لیکنه ده، نه د برتانوي هند د سفارت د سکرتر محبوب علي. د هغې په اړه دلته څه نه وایم. دغومره بیا وایم چي هغه وخت چي پاچا امان الله له کندهار نه د کابل په نیت غزني ته رسېدلئ و، او دغه پاڼې د هغه د دغه سفر په اړه دغسي دقیق مالومات ورکوي، چي په نورو لیکنو کي نه لیدل کیږي. او دغه وخت په کابل کي د برتانوي هند سفارت تړلئ او چارواکي یې، د محبوب علي په ګډون، له افغانستان څخه وتلي وو، د ده لپاره ممکنه نه وه چي دغسي لیکنه وکړي، په داسي حال کي چي اروابښاد منشي علي احمد له پاچا سره ملګرئ و. په دې ډول د سیستاني دغه وینا له اصلي موضوع سره هیڅ تړاو پیدا کولی نه شي، او هغه د ده د خپل ذهن محصول کیږي.

لا عجبه داده چي ښاغلي سیستاني په خپلې دغې لیکنې کي زما یو بل کتابګوتی " سطحي " ګڼلئ، په نامه د افغان، افغانستان و مختصري از کوشش هاي افغان ها برای تشکیل دولت در هندوستان، فارس و افغانستان. دغه کتابګوتی په ۱۹۷۸ کي د کابل پوهنتون، د ادبیاتو د پوهنځي له خوا خپور شوئ دئ. د ده دغه حکم اول د بحث له موضوع سره هیڅ ارتباط نه لاره. دی په دې نه پوهیږي چي دا دعلم او منطق مخالفه طریقه ده، چي غواړي تاسي د خپلي موضوع په اړه هغه څه ولیکئ، چي ورسره ارتباط ولري. د لا وضاحت لپاره به ووایم چي که تاسي په لابراتوار کي له هایدروجن او اکسیجن سره کوم بل عنصر ګډ کړئ، اوبه تر لاسه کولی نه شئ. داسي هم که تاسي په خپل انټرنټي پیغام کي یو تورئ کم یا زیات کړئ، پیغام به مو هدف ته و نه رسیږي. په اجتماعي موضوع ګانو کي هم د دغه اصل رعایت حتمي دئ. تاریخ خو له هغه نه پرته تاریخ کېدی نه شي. تاریخ په اصل کي د تیرو انساني پیښو بیرته رغونه ده او تاسي نه شئ کولی چي ټولي تیري شوي پیښي له سره ورغوئ، خو په هغه حال کي چي په هغو کي انتخاب وکړئ، او هغه یې بیرته و رغوئ چي، په موضوع پوري مربوطي، مهمې او تمثیل کوونکي وي، او بیا پیښې د علیت د فارمول له مخې شرح او بیان کړي. په دې ډول د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليکونکي پوهه، تجربه او د څېړني طريقه په تاريخ ليکنه کي اساسي اهميت لري. ښاغلئ سيستاني د ښاغلي زماني په شان په خپله ليکنه کې هغه څه ننه باسي چي زړه يې غواړي، او له خپلي ليکني څخه ګډوله جوړوي. دغسي ليکنه به ادبيات يا بل څه وي، نه تاريخ، په خاص ډول چي منابع يې ثقه او د باور وړ نه وي، لکه د ښاغلي سيستاني راتلونکي ليکني چې همدغسي دي.

ښاغلي سيستاني د خپل ذهن په حکم زما افغان و افغانستان کتابګوتئ "سطحي" ګڼي، بې له دې چي محتويات او منابع يې په نظر کې ونيسي. زه عادت نه لرم خپل اثار وستايم، خو دلته مجبور يم ووايم چې زما دغه کوچنی اثر د اصلي منابعو له رويه کښل شوئ دئ. د يوې برخې ذکر يې دلته لازمه ګڼم.

ښاغلئ سيستاني د ساموېل بېل (Samuel Beal) او ستاني جولي ين (S. Julien) ترجمې نه دي ليدلي چې د نامتو چينايي زاير، شون چونګ (زوکړي کال ۲۰۳ زېږدي)، مشهور په هيون تسانګ اثر يې په انګليسي اړولئ، وروستي دېرش کاله په هندوستان، شمالي، مرکزي او شرقي افغانستان کي ګرځيدلئ او په خپل اثر کي يې د افغان نوم په اپوکين

(O-Po-Kien) ياد کړئ.

ما په خپل دغه کتابګوتي کې د ساموېل بيل (۱۸۸۸) له متن نه په استفادې سره د سر پرسي سايکس (Sir P. Sykes) يو غلط اقتباس هم سم کړئ، چي هغه د باميان د خلکو په اړه دئ. ما ته د دواړو ترجمو په لوستلو سره مالومه شوه، چي د پروفيسر بېل په ترجمه کې د اپوکين ياني افغان کلمه ترجمه شوې نه ده. دغه نوم د پروفيسر جولي ين په ترجمه کې ترجمه شوئ، چي هغه وروسته د لرغوني هند په نامه د ايليکزاندر کننګهم د اثر اساس شوئ دئ، او هغه په ټينګه ويلي چې: " زه نزدې ډاډه يم چي د اپوکين له نامه نه د شون چونګ مقصد افغان و."

داسي هم ما په هند کې د لودي او سوري سلطنتونو بيان د اصلي منابعو پر بنسټ کړئ دئ، لکه چي د ګورګانو په وړاندي مي روښاني غورځنګ شرح او بيان کړئ دئ. د همدغو منابعو پر بنسټ په دغو فصلونو کې دغسې بصيرتونه او نظرونه وړاندي شوي دي، چي ممکن په ډيرو لويو اثرونو کي و نه مونډل شي. په فارس يا اوسني ايران باندي د هوتکو حاکميت هم د دغسي اصلي منابعو له مخې او په دغسې دقيق ډول تهيه شوئ چې حتی يو ايراني تاريخپوه ستايلئ، په داسي حال کې چې ايراني ليکوالان په عمومي ډول په فارس باندي د افغانانو غلبه "فتنه افاغنه" بولي. د دوی پرخلاف د ايران تاريخپوه داکتر يوسف متولي حقيقي د افغانستان او ايران په نامه په خپل اثر کې زما کتابګوتئ په دغه ډول ياد کړئ دئ: " محمد حسن کاکړ، مؤرخ افغاني، کتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



خود را در دو فصل و بیست و یک گفتار و با استفاده از منابع فارسي و اروپايي تاليف کرده است. فصل اول این کتاب با عنوان افغان و افغانستان و مربوط به تاریخ سیاسي و تمدن افغانستان تا هجوم چنگیز را و فصل دوم با عنوان افغان ها و تاسیس دولت در تاریخ سیاسي افغانستان را بعد از حمله مغول تا پایان حکومت امیر عبدالرحمن خان مورد توجه قرار داده است. مؤلف که استاد تاریخ معاصر افغانستان در دانشگاه کابل بوده درین کتاب خود گوی سبقت را از سایر مؤرخان پشتون گرا ربوده و درین راستا حاضر نه شده است که از کلمه ایران در کتاب خود استفاده کند، بلکه ازان تحت عنوان فارس یاد کرده است. مهمترین ویژه گي مثبت این کتاب ارایه دقیق منابع و مآخذ است، که باین شکل در کمتر کتب مؤرخان افغاني به چشم میخورد." (۲۵)

زما د همدغه کتابګوتيي اول ځپرکئ په ۴۰ مخونو کې د افغان، افغانستان یا د افغانانو هویت او د هغو استوګنځي ته وقف شوئ. دا هم د اصلي منابعو پر بنسټ ۳۷ کاله دمخه تهیه شوئ، چي ځیني یې افغانانو ته نوي، او ښاغلی سیستاني به ترې خبر هم نه وي. خو دی سره له دې هم دغومره زړه ور دئ چي زما دغه کتابګوتيئ "سطحي" وګڼي او لوستونکو ته وښيي چي دی په دغسي موضوع ګانو کې متخصص دئ. دی به په دې خبر هم نه وي چي دغه کتابګوتيئ زما د نوي اثر (۲۰۱۱) پښتون، افغان، افغانستان مهم ماخذ دئ. ښاغلئ سیستاني خیال کوي چي دی د کتاب پېژندنې متخصص دئ، او لوستونکي دي دا د یوه واقعیت په توګه وپېژني، خو کاشکي دا واقعیت وای. د تاج التواریخ په اړه د ده له تبصرې نه ښکاره ده چي دی د اصلي او جعلي کتاب تر مینځ توپیر کولی نه شي. د ده دغه تبصره یا لیکنه د مخه په افغان-جرمن ویب سایټ کي خپره شوې په نامه د سیمای امیر آهنین، امیر عبدالرحمن خان، در تاج التواریخ.

دغه کتاب زما د ژوند په نامه امیر عبدالرحمن ته منسوب، خو تنظیم کوونکي او انګریزي کوونکئ د هغه سرمنشي، سلطان محمد، و. لومړی ټوک یې د افغانستان د داخلي انکشافاتو په اړه او دوهم ټوک یې، په ډېره اندازه، دباندنیو اړیکو او په خاص ډول د سرحدونو د ټاکل کېدلو په اړه دئ. دغه کتاب بې له کوم شک نه د برتانویانو په لاس جعل شوئ. د دغه جعلتوب په اړه به زه وغږېږم. ښاغلي سیستاني دغه اثر په انګلیسي نه دئ لوستئ. ده د هغه ژباړه د تاج التواریخ په نامه په فارسي لوستلې ده. د کتاب تر لوستلو د مخه ده باید مالومه کړې وای، چې د هغه ژباړوونکئ او خپرونکئ څوک دي. نامتو تاریخپوه پروفیسر اي. اچ. کار په خپل کوچني، خو په لویدیځ کې ډېر یاد کتاب، تاریخ څه ته وایي، په نامه، وایي چي تاسي پخوا له دې چي د تاریخ په اړه کوم اثر لولئ، باید معلومه کړئ چي لیکونکئ او خپروونکئ یې څوک دئ. (دغه کتاب، په همدغه نامه، زما په ژباړې، د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي له خوا په ۱۹۷۰ کال کې خپور شوئ دئ). ښاغلي سیستاني د تاج التواریخ د لوستلو په وخت کي دغه کار نه دئ کړئ، په داسي حال کي چي نه یې مترجم او نه یې د خپرونکي نوم او نه هم د سلطان محمد نوم پکې ذکر شوئ دئ. په دوهم ټوک کي یې دغومره ویل شوئ چي " بفرمایش عالي

(c) ketabton.com: The Digital Library



جناب مجدت انتساب شیخ الهي بخش و محمد جلال الدین صاحبان لاهوري سلمهما الله تعالی تاجران کتب بازار کشمیر لاهور بطبع اسلامیه لاهور بزیور طبع آراسته گردید." دغه دوه تاجران څوک وو، مالومه نه ده. دا هم مالومه نه ده، چي دوی دغه ترجمه په خپل نوښت یا د چا یا مقام په سپارښتنه او لګښت چاپ کړې ده. دغو تاجرانو څه علاقه لرل، چې دغه کتاب په ډېر شمېر چاپ کړي، په دغومره شمېر چې په افغانستان کې تر دې نژدې وخت پوري په دوکانونو کې لیده کېده. دا خو به هر چا ته مالومه نه وي، چي هغه په یوه وخت کې په لاهور، بمبیي او مشهد کې بازارو ته عرضه شوئ و. فارسي یې هم روانه، ساده او د بیان طرز یې هم په سویه او قانع کوونکئ دئ، او په ښاغلي سیستاني تر دې حد پورې اثر کوي، چې په خپلو خاصو عباراتو او افادې سره هم دغه کتاب، او هم د هغه لیکونکئ، یاني امیر عبدالرحمن، ډېر ستایلئ او د کورنۍ اوسنیو منسوبانو ته لا توصیه کړې، چې هغه خلکو ته معرفي کړي. د ښاغلي سیستاني خپل عبارات مې په یاد نه دي، خو دلیکنې روحیه یې همدغسي وه. په دې ډول دی د خپلې لیکنې له مخې د برتانوي هند د حکومت د تبلیغاتو ښکار شوئ دئ.

د تاج التواریخ د جعلتوب کیسه دا ده، چې منشي سلطان محمد د هغه انګریزي لومړنی متن، په لندن کې، جان میري خپرونکې موسسې ته د چاپ لپاره وسپاره او پخپله پنجاب ته ستون شو، چې اصلي استوګنځی یې و. په لندن کې حکومتي برتانویانو په دغه وخت کې خپل خاص مطالب د هغه په دوهم ټوک کې ځای کړل. ما دغه جعلي توب په لندن کې، د ډاکټرۍ شهادتنامې ته د څېړنې په مهال کشف کړ. دغه کشف هغه وخت ښه یقیني شو، چې ما د برتانوي هند حکومت د پوځ اعلی قوماندان، مشهور لارډ کچنر، هغه راپور وموند، چې په کال ۱۹۰۳ کې یې وایسرای لارډ کرزن ته استولئ او پکې ویلي و چې: "دهغه وروستۍ برخه په انګلستان کې جعل شوې ده." د "وروستۍ برخه" نه د هغه مطلب د امیر عبدالرحمن زما ژوند دوهم ټوک دئ، چې د تاج التواریخ دوهم ټوک کېږي. په دې اړه ما نور تاییدي نوټونه هم وموندل، چې هغه ټول مې په خپل تیسس کې راوړي. دغه تیسس په انګریزي کې زما لومړی اثر شو، چې د امریکې د تکساس دولتي پوهنتون په ۱۹۷۹ کې خپور کړ، په نامه 'د افغانستان ټولنه او حکومت د امیر عبدالرحمن په واکمنۍ کې'.

ښاغلي سیستاني دغه اثر لوستلئ نه دئ. دی په انګریزي نه پوهیږي. ده به زما هغه بل اثر هم لوستئ نه وي، چي هغه په ۲۰۰۲ کې په هالینډ کې د برل خپروونکې مؤسسې له خوا خپور شوئ، په نامه د افغانستان سیاسي او دپلوماټیکي تاریخ، د امیر دوست محمد له مړینې نه د امیر عبدالرحمن تر مړینې پوري. د برل مؤسسه یوازې اختصاصي آثار خپروي. په دغه اثر کې د امیر شیرعلي او امیر عبدالرحمن داخلي او باندني سیاستونه او په خاص ډول د ډیورانډ توافق لیک په تفصیل بیان شوئ. دغه اثر به د محترم نسیم سلیمي په ژباړه، د علامه رشاد د خپرندویه ټولنې له خوا په نږدې راتلونکې کې خپور شي. ښاغلي سیستاني که په پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي دغه بل اثر هم لوستلئ وای، د جعلي تاج التواریخ تر اثر لاندي به نه وای تللئ. دغه اثر د ډیورانډ د کرښي په اړه، د دغي کرښي د دواړو خواوو لیکوالو، د نومیالي مشر افضل خان لالا په ګډون د مقالو ټولګه ده چي د ښاغلي زرین انځور په مشري، د افغانستان د کلتوري ودي ټولني له خوا په ۲۰۰۷ کي خپره شوې، په نامه د ډیورنډ، د واحد ملت د بېلتون کرښه. په دغه اثر کي د ډیورنډ کرښي په اړه زما اوه نوي مقالې هم نیول شوي دي. دا اثر په پښتو کي د دغي موضوع په اره یو بېساریٔ، مهم انتقادي اثر دئ. که ښاغلي سیستاني دغه اثر هم لوستیٔ وای، د برتانوي هند د حکومت د تبلیغاتو ښکار به شوئ نه وای، هغه هم په دغسي موضوع کي، چي افغانانو ته حیاتي اهمیت لري. له همدې امله به وي، چي د ده له لیکنو نه واضحه ده چي د ده په نظر که افغان حکومت او خلکو دغه کرښه په رسمي ډول وپېژندله، له پاکستان سره به د دوی ستونزي پای ته ورسیږي. واضحه ده چي په دغه نظر سره دی د افغانستان په اړه د پاکستان د نقشو درک کولی نه شي، که څه هم ځان نیشنلست ګڼي. دی دغه تناقض ته هم ملتفت نه دئ.

په پاي کې به وویل شي، چي امیر عبدالرحمن د تالیف دغه جعل هم د برتانوي هند، او هم وروسته د پاکستان په ګټه او د افغانستان په تاوان تمام شوئ، چي د ستهالین هغه وینا را یادوي، چي "ښه دپلوماسي د یوې فرقې کار کوي."

د ښاغلي سیستاني بله خاصه داده چي د خپلو لیکنو د سرچینو ثقه توب هم په نظر کې نه نیسي، او لیکل هم ډېر کوي. دی خیال کوي، چي ډېر لیکل یو ډول د علم لوړي درجې ته رسوي. په دې اړه به هم یوه بېلګه وړاندي کړم. شاوخوا پنځه ویشت کاله دمخه ده، د دعوت په مجله کې، په یوې لیکنې کې ویلي و، چي "... از پوهاند هاله و پوهاند داکتر حسن کاکر، استادان پوهنتون کابل، باید پرسید که هر دو هنګام خروج از کشور دستګیر و به زندان پلچرخي سپرده شدند، چه ها که ندیدند از شکنجه و توهین و هتک حرمت وغیره. و اګر فشار نامه هاي پیهم سازمان عفو بین المللي، به ادرس ریاست جمهوري و اعضای شورای انقلابي و غیره ارګان هاي ذیربط نمیبود، خدا میداند که چه شري به روزګار شان می اوردند." په هغه وخت کي یوه درانه دوست رانه وغوښتل، چي د دغي غلطۍ د اصلاح لپاره یو څه ولیکم، چي زه یې له وطن نه په بیرون وتلو کي نه، بلکه وروسته په کابل کې ونیولم. ما وویل چې خیر دئ، دا کومه غټه موضوع نه ده، او ښاغلئ سیستاني به خپله تېرونه سمه کړي. خو دی سره له دې هم په دغه فکر کي دئ او تېر کال یې خپله دغه لیکنه په افغان-جرمن ویب سایټ کي خپره کړه، او له نورو لیکنو سره یې په ګډه چاپ کړه. ښاغلي سیستاني ځنګه دغه موضوع نه ده هېره کړې، او په هماغه شکل یې بیا یاده کړې؟ ده به شاید غوښتل وښیي چي کاکړ له اجازې پرته له وطن نه وته، او مقاماتو ونیوه او بندي یې کړ. ما په بل ځای کي نه دي لوستلي، چي زه له پوهاند هاله سره یوځای د وتلو په حال کې نیول شوئ او بندي شوئ وم. ځنګه چي ښاغلئ سیستاني د پرچم په رجیم کې د انقلابي شورا د رئیسه هیئت

(c) ketabton.com: The Digital Library



غړئ و، دغه جعلي خبر به ده ته له رسمي منبع نه رسېدلئ وي. پرچمي چارواکو هم د نورو کمونستي رجيمونو د چارواکو په شان، خپلو ادارو ته د خپل خاص نظر له مخې خبرونه تهيه کول او رسول. په دغه حال کې د سيستاني وظيفه وه چې په دې اړه ځان ډاډه کړي، او د تاريخپوه په صفت ځان متيقين کړي، خو ده دغه کار تر اوسه هم نه دئ کړئ.

حقيقت دا دی، چې خادستانو زه د پوهاند هاله له نيول کېدو نه شاوخوا يوه نيمه مياشت وروسته په کابل ښار کې ونيولم. زه يې ځکه بندي کړم، چې ما د نورو استادانو په ملګرتوب د رجيم او شوروي يرغل په مخالفت، په د ننه، په خاص ډول په پوهنتون کې فعاليت کاوه. دا اسان کار نه و. خو موږ استادانو او محصلانو د عمومي اتحاديې د تنظيم له مخې ورته ملا تړلې وه. په پوهنتون کې د رجيم پر ضد نوري اتحاديې هم فعالې وې، چې د دغو ټولو په اړه مي په خپل نوي اثر- د افغان شوروي جګړه کې يوڅه ليکلي دي. زموږ د اتحاديې د سر مسئول کسان- اروابناد پوهاند فضل ربي پژواک، پوهنوال ډاکټر محمد عثمان روستار تره کی، ډاکټر محمد طاهر هاشمي، او ډاکټر عبدالله او زه وم. د نويو غړو په جلب سره موږ، د مصئونيت په خاطر، يو بل نه خبرول. محترم ډاکتر هاشميان زما په بلنه د اتحاديې غړئ شو. ده بيا د خطر په منلو سره د اتحاديې تبليغي پاڼې، چې محترم روستار ليکلې، د کوم معتمد شاګرد په وسيله ځينو سفارتونو ته رسولې. په مجموع کي زموږ د اتحاديې غړي ډېر شوي وو، او موږ فيصله وکړه، چې لس يا دوولس ورځې وروسته په پوهنتون کې مظاهره پيل کوو، او د ښار په لور به ځو، خو د هغه تر مخه يې ډاکټر روستار او شکرالله کهګدای او زه بندي کړم. زموږ په بندي کېدلو سره د پوهنتون يو شمېر استادان او محصلان له وطن نه ووتل، چې له احتمالي خطر نه بچ وي. خو خاد زموږ له اتحاديې نه خبر نه و، او موږ چې يې ونيولو، په پوهنتون کې د رجيم او يرغلګرو پرضد وينااوو، او فعاليتونو له امله وو. زه يې له دې امله هم د سترګو اغزي وم، چې په ۱۹۸۱ کې د پوهاندۍ علمي درجې ته رسېدلئ وم. سره له دې چې خاد د علمي شورا خپلو پرچمي غړو ته هدايت کړئ و، او يو غېر ګوندي پوهاند يې هم هڅولئ و، چې زه بايد ترفيع و نه کړم. د پوهاندۍ لپاره زما اثر هم د افغان- انګليس دوهمي جګړې په نامه د خاد لپاره پاروونکئ و. ځنګه چې دغه اثر د ارشيفي پاڼو پر بنسټ يو مستند اثر و، او ځنګه چې دغه وخت په علمي شورا کې پرچمي غړي په اقليت کې وو، هغه ومنل شو. زما د ترفيع موضوع دغومره جدي شوه چې د پوهنتون رئيس، اروابناد عزيزالرحمن سعيدي، د معمول پرخلاف، د عالي شورا سروالي پخپله وکړه. د صدارت په بندي خانه کې د " امين ناخدا" په نامه مستنطق راته وويل چې ستا د پوهاندۍ په ترفيع کې له موږ نه پوښتنه وشوه، خو موږ ځواب ورکړ، چې دا ستاسو خپل کار دئ. زما دغه اثر په ۱۹۸۹ کې په پېښور کې د محاذ اسلامي د تنظيم له خوا په فارسي، او پښتو ژباړه يې د محترم افضل ټکور په زيار وروسته خپره شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پوهاند هاله او زما په اړه د ښاغلي سيستاني ليکنه له يوه بل اړخ نه هم د حيرانۍ وړ ده. دی له موږ نه د " بايد پرسيد" حکم کوي، او دا دغسي حکم دئ چې د پوليس آمر يې په جرمي عمل تورن نه کوي، نه له عالم او استاد نه، هغه هم له پوهاندانو څخه. په دې اړه دغومره وايم چي دا به د ښاغلي سيستاني په گټه وي چې د ادابو د سلوک يو کورس ولولي.

ښاغلئ سيستاني په تاريخپوه ياديږي، او دا خو د يوه تاريخپوه وظيفه ده چې ليکني يې په واقعيتونو او د ثقه شواهدو پر بنسټ وي، خو د ده ليکني کاشکي دغسي وای. دغي ليکني ته يې ځير شئ، چې په افغان-جرمن ويب سايټ کې د ۲۰۱۴ کال د دسمبر په ۱۳ مه کړې ده، او ويلي چې افغانستان " ... از زمان شاه شجاع تا امير حبيب الله خان (۱۸۰۹-۱۹۱۹) در سياست خارجي خود مستقل نبوده است، و بدون اجازه انگليس نميتوانست با هيچ کشور ديگر روابط ديپلوماتيک داشته باشد. به کلام ديگر افغانستان يک کشور تحت الحمايه و زير نفوذ سياسي انگليس بوده است."

ښاغلي سيستاني په دغو دوو جملو کي درې غلطۍ کړي دي:

يوه غلطي يې داده " ... تا امير حبيب الله خان ...۱۹۱۹" ده. د تا امارت امير حبيب الله خان ۱۹۰۱ کيږي، نه ۱۹۱۹. په داسي حال کي چي د ليکونکي مطلب تا اخير امارت امير حبيب الله، يا ۱۹۱۹ دئ.

دوهمه غلطي يې دا ده چي په کال ۱۸۰۹ کي شاه محمود پاچا شوئ وو، نه شاه شجاع. شاه شجاع اول ځل په ۱۸۰۳ کي پاچا شو او دوهم ځل د افغان – برتانوي هند په لومړئ جگړه کي په واک رسول شوئ و.

د ښاغلي سيستاني ډېره غټه غلطي دا بله ده چي د ده په فکر افغانستان د ۱۸۰۹ نه تر ۱۹۱۹، ياني د يوې پېړۍ نه اوږدې مودې پوري " ... يک کشور تحت الحمايه و زير نفوذ سياسي انگليس بوده است." د هغه چا لپاره چي ځان د افغانستان "تاريخپوه" گڼي، دغسي غلطي د هغه ټوله پوهه تر سوال لاندي کوي.

حقيقت دادئ چي افغانستان د ستر احمد شاه نه د افغان – برتانوي هند تر دوهمي جگړې پوري، د افغان – برتانوي هند د لومړۍ لنډې جگړې دورې نه پرته، پوره خپلواک هيواد و، او له هغه نه وروسته تر ۱۹۱۹ پوري د افغانستان يوازي باندنۍ اړيکی د برتانوي هند د حکومت له خوا تر سره کېدې. افغانستان په دغې دورې کي هم د چا مستعمره نه و.

ددغي موضوع لنډه شرح لازمي ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هند برتانوي حکومت نه دغومره ساده، او نه دغومره سرټنبه و، چي له افغانانو سره په جنګ کې د خپل پوځ له تباه کېدلو نه وروسته دغه هيواد تر خپل نفوذ لاندي ساتلی وشي. د هغه لپاره يې په افغانستان کې د نفوذ د ساتلو ميکانيزم او وسايل هم نه لرل. که ښاغلئ سيستاني غواړي د معاصر افغانستان تاريخپوه وي، ورته لازمه ده چي په دې اړه د تاريخ يو کورس ولولي.

په هر حال امير دوست محمد هغسي چي په خپلي لومړنۍ لنډي واکمنۍ کې د خپلواک افغانستان واکمن و، په دوهمي اوږدې اميري کي يوويشت کاله هم خپلواک و. هغه لا په ۱۸۴۸ کي يو پوځ د خپل زوی، سردار محمد اکرم، په قوماندانۍ هند ته واستاوه، چي د سيکانو د واکمن، رنجيت سنګه، په مصلحت له برتانويانو سره وجنګيږي. رنجيت سنګه امير ته د پېښور د ورکړي وعده ورکړې وه. په ګجرات کي جنګ وشو، خو برتانوي پوځ دغه ګډ پوځ مات کړ، او بل کال (۱۸۴۹) يې پېښور هم ونيوه. د امير دوست محمد خان په دوره کې له برتانوي هند سره يو تړون په ۱۸۵۵ او بل يې په ۱۸۵۷ هم لاسليک شو. خو هغه دواړو برابرو خواو لاسليک کړ، او هري خوا د بلي خوا دوست، خپل دوست، او دښمن خپل دښمن و باله. د دوهم تړون له مخي افغانستان ومنله، چي د برتانوي هند يو مسلمان تبعه، نه کوم انګليس چارواکئ، به په کابل کي د وکيل په نامه ځای پر ځای وي. د هغه وظيفه په اصل کې د خبر لوڅي وه، چي خپل حکومت ته د روسيانو په باره کې خبرونه مخابره کړي. په دغه وخت کي برتانويان په هند کې له يوه ستر پاڅون سره مخ شول، چي شاوخوا د يو ميليون پاڅوونکو په وژلو سره يې وځاپه. له هغه وروسته و، چي د برتانيې حکومت د هند اداره په خپل لاس کې ونيوله.

د برتانوي هند حکومت له امير دوست محمد سره د افغانستان په بيرته متحد کولو سره مرسته هم وکړه. کندهار او هرات دواړه، چي کلونه کلونه په خپل سر شوي، او سروالان يې، که څه هم د هغه وربرونه وو، د فارس د حکومت تر تاثير لاندي شوي وو، د برتانوي حکومت د وړيا پيسو او وسلو په مرسته، په عالي تدبير او بې له جنګ نه، بيرته له مرکزي حکومت سره يو موټي کړل، او د خپل بري په پای کې د ستر امير په لقب، له يوويشت کلونو واکمنۍ نه وروسته په کال ۱۸۶۳کي په هرات کي وفات شو.

د امير دوست محمد په دوهمي واکمنۍ کې د نائب امين الله لوګري، او د محمد شاه بابکر خيل لغماني نه پرته بل مهم کس له مينځ نه وړل شوئ نه دئ. ياغي تګاو هم په پوځي قوت سره ارام کړل شو. امير دوست محمد په ولسي ډوله اداره سره په ډېر ښه نوم يادېده. که چا ظلم او تېری کاوه، ورته به ويل کېده، چي د امير دوست محمد له عدالت نه خبر نه يې. دی به په اس سور له خپل منشي سره د کابل په کوڅو کې ګرځېده، د عارض شکايت ته به يې په ځير غوږ نيوه، او په اړه به يې منشي ته هدايت ورکاوه. ستر امير په خپلي دوهمې واکمنۍ کي د اموي کورنۍ مؤسس خليفه معاويه سره پرتله کېدی شي. په داسي حال کي چي د قريش واکمني

(c) ketabton.com: The Digital Library



کورنۍ ته منسوب معاویه د شام له ولایت نه ځان د خلافت درجې ته ورسوه، محمدزي دوست محمد، چې مور یې د کندهار د سپاه منصور قزلباشه وه، او دی د درویشتو ناسکه ورونو تر ټولو کشر وو، اول د سدوزي واکمنو، او بیا د خپلو مشرو ورونو په ورانديي له اوږدې مبارزې نه وروسته په خاص تدبیر سره ځان د افغانستان واکمنۍ ته د امیر په نامه ورسوه. امیر افغانستان ته په لږو حکومتي عوایدو، او له تشدد نه پرته، په ښې اداري سره او د ټوټه شوي هیواد، په بیا متحد کولو سره غټې خدمتونه وکړل، خو افغانانو د هغه د خدمتونو درناوی نه دئ کړئ، او د هغه وخت شرایط یې هم په نظر کې نه دي نیولي. اوس حتی د تاریخپوه په نامه، ښاغلئ سیستاني لا د هغه وخت افغانستان د " انګلیس تحت الحمایه" هیواد بولي او په خپله هغه، بې له دې چې نوم یې واخلي، د برتانوي هند تر نفوذ لاندي ګڼي.

که د ښاغلي سیستاني حکم ربښتیا وای، برتانوي هند به ولي د افغانستان د لاندي کولو لپاره د جنرال رابرټس په قوماندانۍ یرغل کاوه؟ حقیقت دا دی چې افغانستان د افغان-انګلیس تر دوهم جنګ پوري د ښاغلي سیستاني د حکم پرخلاف " ... یک کشور تحت الحمایه و زیر نفوذ سیاسي انګلیس" نه و، او امیر شیر علي دغسي واکمن نه و، چې د افغانستان باندني سیاست دوی ته وسپاري، او د دوی یو انګلیس الاصله سیاسي استازئ په کابل کې ومني، نتیجه جنګ او د کابل اشغال، او په مزار کې د امیر وفات شو، خو په کابل کې د برتانوي هند سیاسي استازي، کوګناري له خپلو چارواکو سره په یوه ملي پاڅون کې ووژل شو، او کابل بیا اشغال شو. وروسته د دوی پوځ د کندهار په میوند کې د غازي محمد ایوب په مشرۍ، د افغانانو په زور په غوڅه مات شو. په کابل کې د برتانوي هند چارواکي د دوي له دوهم یرغل نه وروسته په دې لټه کې شول، چې افغانان د دوی په خوښه کوم افغان د امیر په نامه په شمالي افغانستان کې د امیر په نامه ومني، او پخپله له افغانستان څخه په شا شي. دوی په دې کې هم پاتي راغلل. حتی سردار عبدالرحمن هم، چې په سمرقند کې له یوولس کاله کډوالي وروسته نه افغانستان ته ستون شوئ و، اول د دوی شرایطو ته غاړه نه ایښوده. په خان اباد کې، چیرته چې هغه له سمرقند نه ځان رسولئ و، د برتانویانو د دوی افغان قاصدانو له لاري د خپل نیکه د وخت افغانستان واکمني غوښتله. برتانویانو قندهار له افغانستان څخه جلا تر خپل نفوذ لاندي نیولئ وو، خو سردار عبدالرحمن چې د میوند فاتح، سردار محمد ایوب، په خپلې لاري کې لوی خنډ ګاڼه، د برتانویانو شرایط ومنل، او له خپلي اولې ادعا نه تېر شو.

دی بیا د برتانویانو په موافقه کابل ته د تګ په خط کې په چاریکارو کې، د ۱۸۸۰ کال د جولای په شلمه د شاوخوا دېرشو زرو افغانانو له خوا د امیر په توګه غوره شو، او برتانویانو دوه ورځې وروسته (جولای ۲۲) د هغه واکمني په رسمي ډول ومنله. په کابل کې د برتانوي هند سیاسي استازي، لیپل ګریفن، له امیر عبدالرحمن سره، د سرای خوجه شاته، په ذمه غونډۍ کې دوه ورځې په رسمي ډول خبري وکړې او د موافقې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرایط رسمي او نهایي شول. برتانویان له کابل نه ووتل، او امیر عبدالرحمن هلته خپله واکمني پیل کړه. دغه ټول انکشافات په تفصیل سره یوازې زما د ایم. فل. په تیسس کې بیان شوي، چې هغه په ۱۹۷۱ کې په څه باندې درې سوه مخونو کې په دغه نامه خپور شو: افغانستان، د داخلي سیاسي انکشافاتو مطالعه، ۱۸۸۰-۱۸۹۶.

په لنډ ډول، افغانستان د امیر عبدالرحمن په واکمنۍ کې هم د کوم هیواد مستعمره نه وه. د هیواد یوازې باندنۍ اړیکې د برتانوي هند حکومت ته منحصرې شوې. په کابل کې یوازې د هند مسلمان تبعه د اېجنټ په نامه هستوګن شو، چې وظیفه یې د خبر لوځی وه، او هغه په دربار کې هغسې حیثیت لاره لکه وکیل چې د امیر دوست محمد په وخت کې لاره. پر ده باندې امیر قیود هم ایښې وو. ده امیر ته هم رپوټونه تهیه کول او خپله پوسته یې هم د امیر پوسته رسوونکو وړله، او راوړله، او په دربار کې یې هم یو محقر ځای درلود، چې حتی مارټمر ډیورنډ، چې په کال ۱۸۹۳ کې هغه په دربار کې په دغه حال ولید، خپل حکومت ته یې د هغه په هکله شکایت وکړ.

امیر عبدالرحمن په داخلي چارو کې پوره خپلواکي درلوده. افغانانو هم په خپل عادي ژوند کې د خارجي نفوذ احساس نه کاوه. خارجي قوه په افغانستان کې میشته نه وه. حکومت د خپلو قوانیو له مخې چلول کېده. د افغانستان پوځ هم محدود نه وو. د امیر د واکمنۍ په اخیرو کې نزدې یو لک منظم دایمي پوځ تنظیم شوئ او وسله وال شوئ و. د امیر په وخت کې د کابل ماشین خانه، چې امیر شیرعلي خان شروع کړې وه، دغومره فعاله وه، چې ډول ډول توپونه پکې جوړېدل. په داخلي چارو کې د امیر عبدالرحمن خپلواکي له دوه لاندې بېلګو څخه ښه پوهېدل کېدلی شي.

په کال ۱۸۸۵ کي چې امیر په رسمي دعوت هند ته تللئ و، هلته وایسرای ځیني وغوښتل چې که دی د افغانستان په داخلي چارو کې هم د ده مشوره ومني. امیر ورته رد وویل، چې زما رعیت په داخلي چارو کې ستا مشوره نه مني، او زه دغه کار کولی نه شم، او زه یوازې په باندنیو اړیکو کې ستا مشوره منم. بل مثال د امیر د داخلي خپلواکۍ په اړه د کونړ د سید محمود پاچا په اړه دئ، چې هغه د جنګ په وخت کې د غازیانو پر ضد د برتانویانو خوا نیولې وه. په جلال اباد کي یې د برتانوي هند حکومت له سیاسي استازي، لیپل ګریفن سره په کتنه کې ورته مشوره ورکړې وه، چې افغانستان دې په وړو برخو ووېشل شي، په دې ډول چې یوه له بلې نه بېله او ټولې یې د برتانیې تر لاس لاندې وي. ده دغه مشوره هم ورته ورکړې وه، چې "... تر هغو چې محمد جان خان او پلویان یې پوره مات شوي نه وي، او د برتانیې حکومت پوره لاس بری شوئ نه وي، له هغه سره دې اخیري فیصله و نه شي." د هغه مشورو په ګریفن دغومره ښه اثر کړئ و، چې ورته یې دغه بل ضمانت ورکړ، چې "ډې دې ډاډه وي چې حکومت به خپل لوزونه، او ټولې وعدې چې ورسره کړې، هر څه چې پېښ شي، تر سره کړي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې امله به هيڅ تاوان ورته و نه رسېږي، چې ده د برتانيې خوا نيولې ده." خو د امير عبدالرحمن په وخت کې د ګريفن ضمانت بې اثره شو او هغه له سيد محمود سره چې د امير شيرعلي د کورنۍ پلوی هم و، سخته ونيوله او ترېنه وغوښتل چې د ده سلام ته کابل ته راشي. دی پر ځان وېرېده، چې امير به يې له مېنځه يوسي، لکه چې نور محلي متنفذ کسان يې هم له مېنځه وړي وو. ده د هند له حکومت نه وغوښتل، چې امير ته د ده سپارښتنه وکړي. په دې اړه ځو ليکونه تبادله شول، او په يوه کې يې ليپل ګريفن ته وويل: "کوم هغه خدمتونه مې چې کړي، په دغه مقصد نه وو چې په بله نړۍ کې راته ګټه ورسوي." ده دا هم ورته وليکل چې "تر اوسه مې چې څه په وسه کې وو، حکومت ته خدمت وکړ، او په خلکو کې مې بد نوم وګاټه، او تر هغو به کابل ته ولاړ نه شم چې تر څو مې د برتانيې حکومت نه ډاډينه ترلاسه کړې نه وي." د برتانوي هند حکومت د باندنيو چارو وزير، لايل، د ۱۸۸۲ کال د جنوري په ۱۲مه امير ته وليکل چې وايسرای "... ډاډه دئ، چې د عدالت په هغه احساس چې تاسي جلالتمآب پکې نوم ايستلئ دئ، ټکنی به مو کړي چې له سيد احمد [سيد محمود] نه د هغه د زوی د ګناهونو قصور واخلئ." د ده زوی سيد احمد د امير د پوځ نه هغه وخت په شا شوئ و، چې دی کندهار ته له سردار محمد ايوب سره د مقابلې لپاره روان و. په ځواب کې امير ورته وليکل چې "که هغه [سيد محمود] په پاک زړه د هغه احترام وکړي. ... زه به د هغه د زوی په ګناه جزا ورنه کړم، او که يې عملونه د قولونو پرخلاف وو، زه به بله چاره و نه لرم، غېر له دې چې ويې شړم." د هند حکومت د هغه په اړه نور څه و نه کړل. او امير خپل سپه سالار، غلام حيدر څرخي، ته د هغه په اړه همدغسې حکم وکړ، او هغه د ۱۸۸۲کال په نومبر کې سيد محمود له خپل مقر، د کونړ له پشد، نه وشاړه. هغه اول متايي، او بيا له هغه ځايه د هند حسن ابدال ته پناه يووړه، او د امير د ژوند تر پايه پورې هلته يې د برتانوي حکومت په معاش ژوند کاوه، او د امير حبيب الله په وخت کې بېرته کونړ ته ستون شو.

امير لا په کال ۱۸۹۲کې چې د برتانوي هند حکومت چترال ونيوه، په داسې حال کې چې روسانو په کال ۱۸۹۲ کې له پنجه نه پورته د بدخشان علاقه له افغانستان نه په زور نيولې وه، افغانستان ته خطر حس کړ، او په فرمانونو کې يې خپل ولس په دې ډول مخاطب کړ، چې اوه خلکو، هغو چې په افغانستان باندې دوه ځلې يرغل کړئ، غواړي دربېيم ځل يې هم وکړي، خو د هند حکومت په دې اړه ځان پوه نه کړ. لکه چې په دې اړه يې ځان ناګاره اچولئ و، چې امير دخپلې واکمنۍ په اخيرو کلونو کې چې حکومت يې ټينګ او پوخ يې پياوړئ و، ځان حتی د هند حکومت ته په رسمي ليکونو کې هم د خپلواک افغانستان او د هغه د مضافاتو واکمن ښوده.

ښاغلی سيستاني د غتو ويناوو او حکمونو په صادرولو سره عادي دئ. هغه هم بې له دې چې حکمونه يې په واقعيتونو بنا وي. د ده دغې وينا ته توجه په کار ده، چې د ۲۰۱۵ کال په جون کې يې په افغان-جرمن ان لاين کې کړې: " ... هر يکي از اينها [ شاهان و اميران افغانستان، از زمان احمد شاه بابا تا ظاهرشاه] ده ها،

(c) ketabton.com: The Digital Library



صدها لشکر زیر فرمان خود داشتند ، که در سرتاسر قلمرو مستقر بودند ." یو څوک چې دغې وینا ته ښه ځیر شي، ورته به عجبه ښکاره شي چې دا څنګه تاریخپوه دئ چې دغه وینا یې کړې، چې هغه برسېره پر دې چې مبهمه او مبالغه ایزه ده. په واقعیت بنا نه ده. له هغې نه ښکاري چې افغانستان په دغې اوږدې مودې کې لوی پوځونه لرل. حال دا چې تر امیر عبدالرحمن نه د مخه افغان واکمنو دغومره عواید نه لرل، چې لوی پوځ لرلی وشي. لوی پوځونه له کافي عوایدو نه برسېره ودانیو ، دفترونو او میرزایانو ته ضرورت لري. په داسې حال کې چې ځینو قومونو حکومت ته مالیات نه ورکول، او نورو چې د جمع بست په نامه ورکول، ډېر لږ وو ، چې هغه هم د هغو ملکانو له لارې حکومت ته رسېدل. دا امیر عبدالرحمن و ، چې له درانیو نه پرته، د نورو قومونو په ښیرازو مځکو باندې یې د سه کوټ سیستم جاري کړ ، چې د هغه له مخې دمځکو درېیمه برخه حاصلات حکومت ته تخصیص شول. په دې اړه ډېر پاڅونونه وشول، او حکومت په خپل پوځ هغه ټول وځپل. تر هغه د مخه د افغانستان نظامي قوت له منظم پوځ (سپاه منظم) نه په غیر منظم پوځ ( سپاه غیر منظم) ډېر متکي و.

امیر شیرعلي په دوهمې واکمنۍ کې تر پنځوس زره نه زیات منظم پوځ، د اول ځل لپاره، تنظیم کړ ، دا امیر عبدالرحمن و ، چې نژدې یو لک منظم پوځ یې تنظیم او وسله وال کړ ، او حکومتي عواید یې د درندو مالیاتو او ګمرکي عوایدو په وضع سره تر پخوا نه په کراتو زیات کړل. تر دوی د مخه واکمنو په زیاتې اندازې په قومي ایله جاري یا سپاه غیر منظم اتکا لرله، خو هغه د قومي مشرانو تر نېغ حکم لاندې وو ، او هغو د دغه خدمت په بدل کې له حکومت نه ډېرې پیسې او امتیازات ترلاسه کول. په دې ډول دوی د ډېر قوت او اهمیت خاوندان کېدل. څنګه چې په افغانستان کې د واکمنو کورنیو په غړو کې ډېر جنګونه کېدل، او باندني یرغلونه هم یو وخت بل وخت کېدل، واکمنان قومي ایله جاریو ته ډېر محتاج وو. دا امیر عبدالرحمن و ، چې د لوی منظم پوځ په تنظیمولو سره یې د افغانستان دغه ملک الطوایفي طرز له مینځ څخه یوور ، او په ټول ملک کې یې د خپلو چارواکو له لارې حکومت وکړ. دغه موضوع او دغه انکشاف په اصل کې ډېر پېچلئ او د ټولني او امنیت په چارو کې یې اهمیت هم ډېر دئ. هغه زما په دغه اثر کې په تفصیل څېړل شوئ دئ: د افغانستان ټولنه او حکومت د امیر عبدالرحمن په واکمنۍ کې.

ښاغلي سیستاني په دې نژدې وختو کې د نیشنلستانو پېښې کوي. هغه کتابګوټئ چې ده د یو شمېر لیکوالو له لنډو لیکنو نه تنظیم کړئ، په دغه نامه یاد کړئ، " دفاع از ارزش های ملي وظیفه عناصر ملي است." داسې هم دي چې د نورو لیکني د افغان نیشنلیزم یا خپلواکۍ پرخلاف وګڼي، هغوی په ترخو کلمو یادوي، او حتی پرې تور لګوي. د بیلګې په ډول ده د ۲۰۱۴ کال په سپتمبر کې په افغان- جرمن ویبسایټ کې د ډاکټر محمد زمان ستانیزي په اړه لیکلي چې " اقای ستانیزي برای بې اعتبار ساختن استقلال کشور چقدر پول از انګلیس و پاکستان میګیرید ؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددغې وینا په لوستلو سره به ډېر لوستونکي حېران شوي وي، چې دغه "تاریخپوه" څه وایي؟ د ده وظیفه تاریخ لیکنه ده، چې حقیقت و مومي یا په نورو تور و لګوي؟ له تور نه یې ښکاري، چې دې خبر دئ چې ستانیزی له " انګلیس او پاکستان" نه د خپل خدمت په برابر کي پیسې تر لاسه کوي، خو دا معلومه نه ده چې هغه څومره دي. ښاغلئ سیستاني په ډاکتر ستانیزي دغه تور وروسته له هغه ولګوه، چې هغه په کومي تلویزوني مرکې کي ویلي و، چي افغانستان له ۱۹۱۹ د مخه هم خپلواک و، خو ښاغلي سیستاني چې هغه په دلایلو رد کولی و نه شو، دغه تور ولګوه، چي ځان د افغان خپلواکي او نیشنلیزم مدافع وښیي، خو دی فکر نه کوي چې د افغانانو یاد دغومره ضعیف نه دئ چې د ده هغه خدمتونه له یاده وباسي، چې د شوروي د اشغال په وخت کي یې شوروي یرغلګرو او د هغه لاسپوڅي رجیم ته د انقلابي شورا د رئیسه هیئت د غړي په توګه کړي او په دغه عضویت سره یې د هغو د سیاستونو او عملونو پلوي کوله، چي مقصد یې د افغان نیشنلیزم او خپلواکۍ ځپل، او د هغو د مدافعانو وژل وو، د دې لپاره چې افغانستان د پرچمي رجیم له لاري یو تابع هیواد شوئ وي. په دې اړه ښاغلئ جمشید پایمرد د ۲۰۱۵ کال په فبروري کې په افغان- جرمن ویبسایت کي لیکلي، چي " ... کدام اساس و معیار در نظر گرفته شد که معلم صاحب [سیستاني] یکدفعه از ده پانزده نفر ادم درجه اول مملکت شدند و عضو هیئت رئیسه شورای انقلابي شدند؟ و دفتر کار معلم صایب سیستاني که در ارگ بود چنان در چند پرده حفاظه میشد که برای رسیدن به حضور ایشان باید از هفت خوان رستم عبور میشد؟" ښاغلي سیستاني د هغه په ځواب کې د انقلابي شورا غړیتوب منلئ، خو هغه یې د خطر د رفع لپاره ښوولئ، او دا یې هم ویلي چي دی د هیڅ ګوند غړئ نه و. په دې اړه ښاغلئ سید حمیدالله روغ ولیکل چي " ... مطمئن هستم که ازین اظهار ایشان راهي به سوی برئت کشوده نیست."

په رښتیا هم یو څوک چي په دغسي ایدیالوجیکي رجیم کې، لکه د پرچم، سمله لاسه په دغسي لوړ مقام و ګمارل شي، هغه څوک وي چي مقاماتو ته د اعتبار وړ وي. دا خو مالومه ده چي د پرچم ګوندګي دغسي غړي هم لرل، چې غټې وظیفې یې تر سره کولې، خو ګوندي غړیتوب یې پټ، او په ښکاره غیر ګوندي و. اساسي دا ده چي ژوند په هر حال کي د وجدان یا عقلي او اخلاقي پرنسیب له مخې وشي. د دغسي پرنسیب خاوندان په خاص ډول خپل ولس ته د خطر په وخت کي ستونزي مني او حتی مرګ مني خو خپل خلک نه پرېږدي، او له خپل پرنسیب نه نه تیرېږي، او خپل وجدان نه معذب کوي. افغان مجاهدینو د شوروي اتحاد د اشغال او د هغه د لاسپوڅي پرچمي رجیم په وخت کې همداسي وکړل، او د یوه میلیون نه ډېر یې شهید شول. که دوی هم د ښاغلي سیستاني په شان تسلیم شوي وای، شورویانو به ټول افغانستان لاندي کړئ وای، خو دوی د ښاغلي سیستاني پرخلاف د یوه زبرځواک په وړاندي هم په خپلو ملي او دیني ارزښتونو تر پایه پوري ټینګ ودرېدل. خو ښاغلئ سسیستاني په دغه وخت کې هم د یرغلګرو او د پرچم رجیم خوا ونیوله، او د انقلابي شورا په رئیسه هیئت کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې ورته خدمت کاوه، نه خپل وطن او خپلو خلکو ته. په دغې مخينې سره اوس دی بايد عادي ژوند اختيار کړي، او له دې نه ډډه وکړي، چې د غومبسې په شان چيچل وکړي. خو دی داسې نه کوي او اوس هم ناري وهي، چې "ما نه فرد را برای نظام ميخواهيم، و نه نظام را برای فرد، بلکه هر دو را براي وطن و خدمت به آن ميخواهيم." اوس به دغې پوښتنې ته څه جواب ورکړي، چې که ته په ربښتيا په خپلې دغې ادعا معتقد وای، ولې دې شوروي يرغلګرو او د هغو لاسپوڅي پرچمي رجيم ته په انقلابي شورا کې خدمت وکړ، نه خپل وطن ته، چې پکې پيدا شوئ، لوی شوئ، روزل شوئ او تعليم کړل شوئ وې؟ په دې ډول تا په اخلاقي لحاظ هغه استحقاق له لاسه ورکړئ، چې اوس افغانانو ته د وطنپالنې توصيه وکړې. ته نور د اخلاق معلم کېدلی نه شې.

د ښاغلي سيستاني بل حکم د همدغه کال (۲۰۱۵) د جولای په مياشت کې په افغان- جرمن ويب سايټ کې کړئ، او ويلي چې "داود خان با هيچ کس از سياست مردان معاصر خود قابل مقايسه نيست." دی نه مشخص کوي چې محمد داؤد له کوم اړخ او نظر نه د خپل مهال له سياست مارو سره د پرتلې وړ نه دئ. په اصل کې که تاسې يو څوک د هغه د وخت په شرايطو کې و نه ګورئ، هغه په ربښتني ډول پېژندلی نه شئ، او که يې په اړه هر څه ووايې، هغه به ستاسې خپل نظر وي، ياني عندي رنګ به ولري، او علمي او افاقي به نه وي. ښاغلي سيستاني به محمد داؤد له دې امله د خپل عصر د سياستمارو سره د مقايسې وړ نه ګڼي، چې هغه د سرطان کودتا په زياته اندازه د پرچميانو په مرسته وکړه، او د هغوی د سر کسان يې په حکومتي لوړو مقامونو و ګمارل، او نور پرچميان يې په اطرافي ادارو کې په زيات شمېر مقرر کړل. په دې ډول د پرچم ګوندګي حيثيت او اعتبار وموند.

د ښاغلي سيستاني په نظر د محمد داؤد معاصر سياستماران به د هغه ترونه او تربرونه وي. خو دی له خپلو ترونو سره پرتله کېدلی نه شي. هغوی د خپل مشر ورور، محمد نادر په مخکښې او تدبير دغه نظام له کورني جنګ نه وروسته په پښو و دراوه او محمد داؤد په دغه نظام کې هغه وخت هسک شو چې امنيت پکې خوندي، حکومت پر ځای ولاړ، او منځنۍ تعليم کړې طبقه هسکه شوې او هيواد د عصري کېدلو پر لار روان و. د محمد داؤد له "معاصر سياستمدار" نه به د هغه مطلب اروابناد پاچا محمد ظاهر وي، چې دواړه سره همزولي او تربوران وو. محمد داؤد په کال ۱۹۱۰ کې او محمد ظاهر په ۱۹۱۴ کې پيدا شوئ و، خو دوي د شخصيت له نظر نه ډېر متفاوت وو، پاچا دموکرات، لبرل، او د واکمنۍ چندان لېوال نه و. د اعدام مخالف و، په داسې حال کې چې محمد داؤد زورواک، د واکمنۍ لېوال، نيشنلست، او د اعدام پلوی و. دواړو د سيکولر نظام او د هيواد عصري کېدل غوښتل. محمد داؤد د صدارت په لسو کلونو، او پاچا د دموکراسۍ په لسيزه کې وځلېد. خو محمد داؤد چې د صدارت په وخت کې وځلېد، د پاچا او د خپل ورور د همکارۍ له امله هم و. البته دی د انکشافي پروجو نوښتګر او مخکښ و. په هر حال ده د صدارت په دوره کې د انکشافي او عصري کولو حرکتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پلان شوي اقتصاد په چوکاټ کي پر مخ بوتلل. دوی دواړه د وطن صادق خدمتګاران وو، او هيڅ يوه يې ناوړه استفاده نه ده کړې، او محمد داؤد له خپل شخصي ملکيت نه د هيواد د ابادۍ لپاره ډېره استفاده کړې ده.

خو ښاغلئ سيستاني دا په نظر کې نه نيسي، چې محمد داؤد لـه اول نه زورواک و، او پـه سياست او اداره کې يې له شدت او زور نه کار اخيستئ، په تېره په اولو وختو کې چې د هغه لـه املـه پـه "سردار ديوانـه" هم يادېده. د صدارت په وخت کي يې د اروابناد شاه محمود د صدارت نوې ډموکراسي خپه کړه، چې خلک ورتـه ډېر هيله من شوي وو، او په ولس مشرۍ کي يې د پاچا محمد ظاهر د وخت د ازادي او ډموکراسي مخه ونيوله. پـه دې ډول محمـد داؤد پـه افغانسـتان کـې د فـردي ازادۍ او دموکراسـۍ د غورځنـګ خپـه کـوونکئ او د ازاد مارکيټي اقتصاد مخالف ګڼل کېدلی شي. ده وروسته د سرطان په کودتا دغسي قـانوني نظـام نسـکور کـړ، چي لويې جرګې منلئ، او سراسري ازادو انتخاباتو تائيد کړئ و، او له املـه يې ازادي او ډموکراسي پـه افغانسـتان کي په بېساري ډول ځای نيولئ و. په دغې دورې حکومت تر هر وخت نه ډېر د قـانون لـه مخې چلېـده او ښـځې او نارينه په بېساري ډول ازاد وو. دغه ټول انکشافات هغه وخت ممکن شول، چې پـه افغانسـتان کي د لـومړي ځـل لپاره د قانون له مخې سلطنت واکمني پاچايي کورنۍ ته، او حکومت اولس ته مختص شو. دا په افغانستان کې په پاچايي نظام کې د دموکراسۍ د يوې نوې پروسې شروع وه، چې د وخت پـه تېرېـدولو سره پيـاوړې کېـدلـه. رسمي چارواکي هم تر بل هر وخت ډېر د لياقت او تخصص له مخي حکومتي مقامونو ته رسېدل، او دغـه کـار پـه جامعې هم ښه اثر کاوه. ډېره مهمه دا هم ده، چې په دغه موده کې فرد د سياسـت لـه مخې بندي شـوئ نـه دئ، او بندي کېدل يوازې د محکمې په حکم و. هيڅ څوک اعدام شوي نه دي. پاچا محمد ظاهر د اعـدام مخـالف و. د ده د انسان دوستۍ حس له دغې پيښې نه واضح دئ: پاچا يوه ورځ يوازې، د خپلي ملکي او ډرېور په ملګرتوب لـه کابل نه پلخمري ته لاړ او هلته يې د يوه مقتول له پلار نه وغوښتل، چې د خپل زوی قاتل، چې هغه د ده وراره و، او د محکمې په حکم په اعدام محکوم شوئ و، وبښي. هغه په افتخار سره د پاچا خبره ومنله. دغه پېښه ډېرو ته د يقين وړ نه ښکاري، خو دغه قصه ما ته دغسې يوه کس کړې، چې زه پرې باور لرم.

د ډموکراسۍ د لسيزې په دغو انکشافاتو سره افغانستان په سيمه او نړۍ کې نوم وايست. په دغه دوره کې افغانستان د لوېديځې نړۍ و نارينه او ښځو ګرځندويانو ته دغسي يو هيواد شوئ وو، چې هغوی په ډاډينـه سره په ټول افغانستان کې ازاد ګرځېدلی، او ځانله په خپلو خيمو کـې اوسـېدلی شـول. هغـومره ډېـر ګرځنـدويان چي په دغې دورې کې افغانستان ته راغلل، شايد هيڅ وخت په دغه ډېر شمېر نه وي راغلي. د هغو په راتګ سره د ګرځندوی صناعت (هوټلونه، تم ځايونه، د لرغونو سامانونو او اثارو هټۍ) په بېساري ډول سره وده وکړه، او په مجموع کې افغان اقتصاد يې پياوړئ کړ. نو ويل کېدلی شي چي د قـانوني پاچـايي او د ډموکراسي لسـيزه د معاصر افغانستان په تاريخ کې يوه ځلانده دوره وه، خو د واک لېـوال، محمد داؤد دغـه ځلانـده دوره د "قلابي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دموکراسي" په نامه، د چپیانو په مرسته په کودتا سره ختمه کړه. په داسي حال کې چې ده له اتلس کلنۍ نه تر هغه وخت پوري څه کم څلوېښت کاله په ملکي او نظامي لوړو مقامونو کې په پوره اختیار سره واک چلولئ و. ده په دې قناعت و نه کړ او کودتا یې وکړه، چې په هغې سره یې په وطن کې یو نوئ تخریبي فصل پرانیست.

محمد داؤد په کودتا سره قانوني نظام نسکور او قانوني ژوند او قانوني حکومت بې اهمیت کړ. ده یو شمېر د سر کسان هم، د ارواښاد محمد هاشم میوندوال، ارواښاد مرستیال خان محمد، او ارواښاد ماما زرغون شنواري په ګډون، سره له دې چې هغوی د ده په شان نیشنلت وو، د پرچمیانو په فشار، د محاکمې نه پرته، د کودتا په تور له مینځ نه یووړل، او نور ډېر یې بندي کړل. ده په دغه ډول د سر کسانو اعدام بیا رواج کړ، په داسي حال کې چې د افغان سیاست له دغه وحشي عمل نه، د پاچا محمد نادر خان له قتل نه وروسته پاک ساتل شوئ و. د کودتا بله پایله دا شوه چې محمد داؤد په نظامي کودتا سره واک ته د رسېدلو لار وښودله او دی په افغانستان کي د عصري نظامي کودتا مخکښ شو. د کودتا بله پایله دا شوه، چې پوځ په سیاست کې دخیل شو، په داسي حال کې چي تر هغه د مخه، د پوهنتون له مظاهرو سره سره، له سیاست نه لیري ساتل شوئ و. له هغه وروسته و، چي حفیظ الله امین، چي د خلک د ډموکراټیک ګوند د نظامي څانګې آمر و، په دغه فکر شو، چي محمد داؤد کودتا وکړه، موږ یې هم کولی شو. له هغه وروسته و، چې ده خپل ګوند ته د نظامي افسرانو په جلبولو پیل وکړ. ما په خپل ' د ثور کودتا نومي ' اثر کي ویلي و، چي هغه د درې سوه نظامي افسرانو په قوت کودتا وکړه، خو وروسته راته معلومه شوه، چې هغه په دغو پنځو کلونو کې څه کم دوه زره ښکته رتبه نظامي افسران ګوند ته جلب کړي، او په قوت یې دغومره ډاډه و، چي غوښتل یې د خپل پلان له مخې د زمري په میاشت کې کودتا وکړي، او په هغې د "زمري انقلاب" نوم کښېږدي. له هغه نه پرته هم د ولسمشر په نشته توب سره، د ده د نظام دوام په شک کې، او د کورنی جنګ احتمال زیات و. نو ویل کېدلی شي چي محمد داؤد، له خپلو ډېرو خدمتونو سره سره په افغانستان کې د نظامي کودتا او د دې اوږدې ناارامۍ سر مؤسس دئ. په اصل کې د همدغې کودتا او د دغو ناارامیو له امله ده چي د افغانستان راتلونکې د اندېښني وړ شوې ده.

محمد داؤد، چي د خپل ژوند په وروستیو شېبو کي د خلقي کودتاچیانو له خوا خپل ژوند په خطر کې ولیدئ، د خپلي کورنۍ د غړو وژنه یې هم جائزه وبلله. د افغانستان په تاریخ کي څه، چي حتی د انسان په تاریخ کې به دا یوه بېساري تراجیدي وي. ښاغلئ محمد داؤد ملکیار چي د محمد داؤد له کورنۍ سره یې د خپښۍ ارتباط لاره، او په اړه یې د دقیقو مالوماتو خاوند دئ، وایي چي د ثور د کودتا په ورځ " ... کشته شدن اکثر اعضای خانواده محمد داؤد خان، بشمول اطفال معصوم به تصمیم داؤد خان و بدست یکي از اعضای خانواده او صورت گرفته است." دا په داسي حال کې چي د محمد داود زامن او لوڼې د لوړ او ملي فکر خاوندان وو، او هیڅ یوه یې له خپل ممتاز مقام نه د ځان یا کورنۍ لپاره استفاده نه ده کړې. مشر زوی یې، عمرجان لا د دغسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



آزاد قضاوت خاوند و، چي په اخر کي د خپل تره، اروابناد محمد نعيم، په شان د خپل پلار د سياست مخالف شوئ و. محمد نعيم لا د خپل ورور پر ضد د کودتا په لټه کي و. په هر حال، محمد داود د خپلي کورنۍ د غړو - مېرمني، لوڼو (له محترمي درخانۍ نه پرته، چي هغه وخت هغه هلته نه وه (او اوس په سويس کې ژوند کوي) او تور پېکۍ نه پرته (چي وروسته وفات شوه)، او زامنو (له عمر جان نه پرته، چي هغه تر دوی دمخه په ګولۍ لګېدلئ او مړ شوئ و) د ژوند سلبولو حق نه لاره، او د محمد داؤد دغه امر د هغو په حق کې ظلم و، هغه هم په دغسي حال کي، چې معلومه نه وه چي کودتاچيان به د هغوي حيثيت او ژوند ته خطر پېښ کړي، لکه د ده د کورنۍ د يو څو پاتي کسانو، او د هغه د لوڼو - درخانۍ او تورپېکۍ مزاحم نه شول.

ښاغلئ سيستاني سره له دې هم فکر کوي، چي "داؤد خان با هيچکس از سياستمداران معاصر خود قابل مقايسه نيست." دی به په دغه فکر سره فردي ازادي، دموکراسي، قانوني حکومت او حتی ژوند ته هم ارزش نه ورکوي، او په اجتماعي او ولسي ژوند کي به د هغو اهميت او ضرورت درک کولي نه شي. له همدې امله به وي، چې دی اوس هم د تاريخ په نامه په خپلو ليکنو کې خپل شخصي او پرچمي فکرونه ځايوي، او په دې ډول افغان تاريخ مسخ کوي.

ښاغلئ سيستاني د کانديد اکاډميشن په حيث ځان د دغه صلاحيت خاوند بولي، چي دا او دغسي نور حکمونه له خپل ذهن نه صادر کړي. ده دغسې حکمونه دغومره ډېر کړي دي، چي اوس يې عادت شوئ دئ، خو په يوه سقه روايت د کانديد اکاډميسن درجه ده ته په دې، چي د انقلابي شورا غړی و، د خاصي پېرزويني په خاطر ور کړل سوېده، لکه چي يو څو نورو ته هم همداسي پېرزوينه شوې ده. لا مهمه داده، چي د افغانستان د علومو اکاډمي په اصل کي دشوروي اتحاد د اکاډمۍ په ما ډل بنا ده، نه د لرغوني يونان افلاتون په ماډل، چي د هغې مؤسس و. دغو دواړو اکاډمي ګانو په اساس کې توپير لاره. شورويانو د افلاتون د اکاډمۍ نوم غوره کړ، چي اکاډمي يې علمي حيثيت ولري، خو دغو اکاډميو سره اساسي توپيرونه لرل، او ډېر مهم يې دا و، چي د افلاتون په اکاډمي کي تفکر ته حد او حدود نه وو، او د شوروي اکاډمي محدوده وه. په ظاهر کي هغه مارکسيزم - لينينزم ته محدوده وه، خو په واقعيت کې لينينيزم- ستالينزم ته. د همدغي ازادۍ له برکته و، چي د افلاتون په اکاډمي کې د ارسطو په شان متفکر هسک شو، چې د تجربې او مشاهدې پر بنسټ يې د اول ځل لپاره د ژوند په هره ساحه کي ژور ابتکاري نظرونه وړاندي کړل، په داسي حال کي چي د شوروي اتحاد په اکاډمي کي حتي نامتو ساينس پوه، سخاروف، د خپل ازاد فکر او قضاوت له امله له مسکو نه د ګورکي ښار ته تبعيد شو. هغه په افغانستان باندي د شوروي اتحاد د نظامي يرغل په وړاندي د مخالفت اواز جګ کړئ و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلئ سیستاني چي د کابل د پرچمي د شوروي ډول اکاډمي کي د کاندید اکاډیمیشن مقام ته جګ شو ، خپله لیکنه به یې د لیننیزم- ستالینیزم په محدود او غیر علمي چوکاټ کې دننه کښلي وي، او که نه ترفیع یې کولی نه شوه. د شوروي اکاډمي محدودیت په خپل وار د دې لامل شو چي، پخپله د شوروي لیننستي او ستالینستي نظام سقوط وکړي، او تلپاتي ځای یې د خلقیانو په وینا د " تاریخ کنده" شي.

اوس چي دغه نظام د تاریخ کنده شوئ او ورسره لیننستي شعارونه، چي ښاغلي سیستاني به څومره تکرار کړي وي، ده هم د نورو اپورتونیستي چپیانو په شان نشنلیزم ته پناه وړې ده. خو دی په دغه مصلحتي او ویب سایټي نشنلیزم کي هم افراط کوي. هغه وخت چې د نېشنلیزم رښتینې ازموینه وه، ده د شوروي او پرچم خوا ونیوله، او افغان ولس او افغان خپلواکي ته یې شا کړه، نو دې په دغې ازموینه کې په مطلق ډول ناکام شو. اوس دی په هغه لار روان شوئ، چي پرچمیان د مخه پرې روان شوي وو. نجیب الله چې په اخر کې ځان مسلمان وښود ، او کارملیانو مجاهدانو ته وړونه وویل، ښاغلئ سیستاني اوس د پاچا امان الله د نېشنلیزم خوا نیولې، هغه هم په افراطي او شډل ډول. خو سره له دې هم د هغو نورو پرچمیانو په شان له پخواني محدود فکري چوکاټ نه بیرون او ازاد شوئ نه دئ. نو د ده په دغه نشنلیزم باندي اعتبار کول به هسي سادګي وي. ده بس د وخت په تقاضا سره طرف بدل کړئ، او اوس یې د پخواني پاچا پر ضد مبارزه پیل کړې، او ملامتوي یې چي د مغول واکمنو په شان یې ودانۍ نه دي جوړي کړي. معلومه ده چي دی دغه واقعیت ته ارزش نه ورکوي، چې پاچا محمد ظاهر د معاصر افغانستان په واکمنو کې، یوازنی واکمن و، چي دغسي دولتي نظام یې د اساسي قانون پر بنسټ پر پښو ودراوه، چې په هغه کې سلطنت له حکومت نه د لومړي ځل لپاره بېل شو، او ازادي د افغانانو په ژوند کې په فکر او عمل کي په دغه ډول تحقق وموند ، چي بل هیڅ وخت یې په دغسي ډول تحقق موندلئ نه و. دغه اساسي قانون، چي په سیمه کي یې ساریٔ نه درلود ، افغانانو ته ممکنه او اسانه کړه چي ژوند د ازادي په فضا کي وکړي. که څه هم دا د دغې پروسې اوله مرحله وه.

خو محمد داؤد دغه عظیمه او د خلکو په ګټه پروسه، هغه هم د ازادۍ پر ضد پرچمیانو په مرسته په نظامي کودتا سره په ټپه ودروله. ده په خپل دغه قانون ضد عمل سره، د دې لپاره چي ځان د دولتي واک هسکي ته ورسوي، په وطن کي د ناارمۍ ور پرانیست، چي په یوه او بل شکل تر اوسه هم دوام لري، او افغانان د خپل وطن راتلونکي ته اندېښمن کړي. خو څنګه چي ده په خپل دغه قانون ضد عمل سره د پرچم ګوندګي ته اعتبار ورکړ، ښاغلئ سیستاني، او د هغه په شان نور، اوس په یوه او بل ډول، د هغه په ملاتړ، او د پخواني پاچا پر ضد لیکني کوي.

(پای)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یادښتونه

دلته د دغې لیکنې منابع هغه وخت یاد شوي، چې په متن کې د لومړي ځل لپاره ذکر شوي دي. تکرار یې په لنډ ډول په متن کې یاد شوئ دئ.


1. ۱- عزیز هندي، د غازي امان الله خان زوال، له اردو نه ژباړوونکئ، فرهاد ظریفي، خپروونکئ، د افغانستان د علومو اکادمي، پېښور، ۱۳۸۱، /۲۰۰۲، مخ ۴۴۰
2. ۲- ریه تیلي سټيورټ، اور په افغانستان کي، دوهم چاپ، خپروونکئ، یونیورسل. ۲۰۰۰، مخونه، ۵۵۸، ۵۲۰
3. ۳ - لودویک ادمک، د شلمي پېړئ تر نیمایي پوري د افغانستان باندنی چاري، له شوروي اتحاد، جرمني، او برتانیې سره اړیکي، د اریزونا پوهنتون، توک سان، ۱۹۷۴، ۴۹
4. ۴- فیض محمد هزاره، تذکر الانقلاب،مدون داکتر حفیظ الله شریعتي (سحر)، ناشر انتشارات میچید، محل نشر و چاپ نامعلوم، ۱۳۹۳/ ۲۰۱۳، ص ۲۱. دکتر سحر نمی گوید که نسخه اصلی و یا نقل آنرا از کدام منبع به دست آورده و نسخه اصلي آن در کجا است. محل نشر آن هم واضح نیست. در هر حال این اثر به ارزیابی مفصل ضرورت دارد، که متاسفانه این جای آن نیست. له لیکوال محترم سعد الدین شپون نه مننه، چي دغه اثر یې را استولئ، هغه هم په ډېر ښه وخت.
5. ۵- میک چیزني، کابل تر محاصرې لاندي، خپرونکئ مارکوس واینر، پرنستین، ۱۹۹۹، ، ۹۲، دغه اثر د فیض محمد تذکر الانقلاب ترجمه ده، چي میک چیزني له روسي نه په انګریزي اړولې ده. او ځای ځاي یې خپل یا د روسي مترجم تبصرې هم راوړي. دغه ترجمه جمله په جمله نه، بلکه د هغو د مفهومونو لنډ بیان دئ، خو میک چیزني یو طالب العلم او امانتکار مترجم دئ.
6. ۶- ادمک، (۱۹۷۴)، یاد شوئ اثر، ۸۹، ۹۰
7. ۷- عبدالحي حبیبي، جنبش مشروطیت در افغانستان، سازمان مهاجرین مسلمان افغان، چاپ دوم، ۱۹۹۹، ۱۷۳
8. ۸- فیض محمد، یاد شوئ اثر، ۱۷
9. ۹- عزیز هندي، یاد شوئ اثر، ۲۴۵
10. ۱۰- ادمک، یاد شوئ اثر، ۸۵
11. ۱۱- سټيورټ، یاد شوئ اثر، ۳۸۲

(c) ketabton.com: The Digital Library




12. ۱۲- سید شمس الدین مجروح، سرگزشت من، به اهتمام سید فضل اکبر، چاپ شخصي، کابل، ۲۰۱۲/۱۳۹۱، ۳۲

13. ۱۳- میر غلام محمد غبار، افغانستان در مسیر تاریخ، دولتي مطبعه، کابل، ۱۹۲۷/۱۳۴۲، ۸۱۷

14. ۱۴- عبد الباري جهاني، د سنځل نوید (قول نقل)، په افغانستان کي د اجتماعي تحولاتو په وړاندي غبرګونونه، ۱۹۱۹-۱۹۲۹، مخونه ۱۴۸-۱۴۹

15. ۱۵- د قول نقل سنځل نوید، واکنش های مذهبي و تحولات اجتماعي در افغانستان ۱۹۱۹-۱۹۲۹، فارسي کوونکئ محمد نعیم مجددي. له محترم نعیم مجددي نه مننه کوم چي ددغه مخ چاپي نقل يې را استولئ دئ.

16. ۱۲- فضل غني مجددي، افغانستان در عصر اعلیحضرت امان الله خان ۱۹۱۹-۱۹۲۹.چاپ شخصي، کالیفورنیا، ۱۹۹۷، ص۲۵۵. له محترم فضل غني مجددي نه په دغي وسیلې مننه کوم، چي د خپل دغه اثر یوه نسخه يې رابښلې ده.

17. ۱۷- سید رسول، حقایق ناگفته در باره حبیب الله کلکاني، کتابفروشي فضل، پشاور، ۱۹۹۹/۱۳۷۸، ص ۴۲

18. ۱۸- نوردک بریت، افغانسي، روسان په افغانستان کي، ۱۹۷۹-۱۹۸۹، اکسفورډ پوهنتون، نیویارک ۲۰۱۱، ۲۹

19. ۱۹- رچرډ فرای، د پارس میراث، خپروونکئ مزدا، کلیفورنیا، ۲۰۰۴، ۲۹

20. ۲۰- بېلابېل لیکوال، غازي امان الله خان، د افغانستان د خپلواکۍ ستورئ، د افغانستان د کلتوري ودي ټولنه، جرمني، ۲۰۰۵، ۱۲۰-۱۲۱

21. ۲۱- د رای دیوي لیکني، رادیکال هیومنست له مخي، جون ۲۷، ۱۹۵۴، مخ ۳۰۷، د قول نقل ستیورټ، ۵۱۱،۵۱۲

22. ۲۲- احسان الله، اماني دوره، د افغاني رنسانس دوره، له فرانسوي نه پښتو کوونکئ، پروفیسر ډاکټر محمد اکبر ستایلئ وردګ، ماخذ غازي امان الله خان، بېلا بېل لیکوال، یاد شوئ اثر، مخ ۲۴

23. ۲۳- هیرودوت، تاریخ، ژباړه د ډیوید ګرین، شیکاګو پوهنتون، ۱۹۸۸، اووم کتاب، لسمه ماده، مخ ۴۷۱

24. ۲۴- جان لوکاس، د تاریخ راتلونکي، ییل پوهنتون، ۲۰۱۱، ۱۵۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



25 . **۲۵**- داکتر یوسف متولي حقیقي، افغانستان و ایران، پژوهشي پیرامون روابط سیاسي و چاپ هاي مرزي، از احمدشاه دراني تا احمد شاه قاجار، نشر کرده استان قدس رضوي، مشهد ، **۱۳۸۳**، ص **۷۳۰**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**